# الوتے

PDFBOOKSFREE.PK

اباسین یوسفزے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK

☆☆☆☆☆

وزرې چې دې نه وي نو الوت په کوم هُنر کړې
دا لوړې سر درې به په کوم ډول باندې سر کړې
چې ژبه دې وي خواره نو پخپله به خوارېږې
اولسه! زهٔ شاعر یم ما په وخت باندې خبر کړې

اباسین یوسفزے

چیئرمین
پښتو ځانګه
اسلامیه کالج پېښور پوهنتون
☆
کلے خانپور تحصیل ادین زی ضلع دیر ملاکنډ

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK

زۀ په شاعرۍ کله پوهېږمه چرته د يو لوري نه راځي راځي
دا چې په وېښتو کښې زما سپين لګي دا مې په پښتو باندې څواني راځي

الوت په دويم ځل چاپ ستاسو په لاسو کښې دے. دا زما د مئينانو زما د شاعرۍ سره د مينې ثبوت دے چې زۀ ئې د مننې تکي نۀ لرم. د الله پاک په فضل زما ورومبے کتاب "غورځنګونه" په شپږم ځل چاپ شوے دے. چې شمېر ئې لس زره کاپو ته ورسېدو او د نقادانو دا خيال دے چې غورځنګونه به بيا بيا چاپ کيږي. خو زۀ وايم چې:

**لا په سېر کښې مې پوهې نۀ ده رېښلې اباسينه مزل پاتې يو په لس دے**

نۀ پوهېږم چې زما قام زما د شاعرۍ نه څومره ګټه پورته کړه يا پورته کوي. خو دومره خبر يم چې هر ليکونکے د ځان سره د ژبې دپاره يو شمېر نوي لوستونکي هم راوړي او د زړو لوستونکو د ذوق تسکين هم کول پرېوځي. الله دې وکړي چې د خپلې مور پښتو ژبات نه زيات حق ادا کړے شم. نۀ يم پوهـ چې زما په دې لاشعوري هڅه کښې شعور تر کومه حده شامل دے چې زما ژبه دې د نړۍ د ژبو سيالـه شي. زما د ژبې د ليکوال معاشي، اقتصادي او ټولنيز مقام دې اوچت شي. هم دغسې لوستونکي خپل قامي مرام لوري ته تېز ګامونه واخلي او په خپل چاپېرچل کښې دې د ادب نه د کشيد کړي روح او فکر خوړونه تېزه او ډېره تېزه کړي.

زۀ د خپل رب نه هيله مند يم چې د پښتو شعر و ادب په ډګر زما د قلم نه د پښتو په وده، پرمختيا، ښکلا او ځلا کښې مهم کار واخلي (آمين)

مننه

اباسين يوسفزے

نېټه: ۲۹ اګست ۲۰۰۷ء

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# د اباسین " الوت " ته یوه الوتے نظر

زما ادبي پوهه، علم او فن د هغه درجې نه دے چې د ښاغلي اباسین صېب په شان یو ښهٔ عالمانه او فسلفیانه شاعر په شاعرۍ بحث اوکړم. په ذهن مې زور واچوؤ او څهٔ نه څهٔ تېر هېر وختونه او یادونه مې راپه زړهٔ کړل او بل د دې کتاب د مطالعې نه پس مې په زړهٔ کښې د څهٔ نه څهٔ لیکلو حرکت پېدا شو.

نن سبا زمونږ دا ښاغلے، ورور ملګرے قطعاً د دې خبرې محتاج نهٔ دے. چې اباسین صېب څوک دے؟ د کوم ځائے دے؟ چرته دے؟ څهٔ کوي؟ خوشحال بابا وائي:

پس له مرګه به مې سیال په جهان راشي
خو په دې دور مې مۀ غواړه مثال

خو زهٔ به بیا هم د کتاب د ضرورت مطابق روایتاً دا ووایم چې اباسین صېب په ضلع دیر تحصیل آدینزئ خانپور کښې پېدا شوے دے. د پلار نوم ئې حاجي برادر خان ملک دے. چې ډېر خوږ، دروند او پښتون انسان وو. د نیکهٔ نوم ئې امیر نواب خان ملک، د غور نیکهٔ نوم ئې مدار خان ملک بنِ سلو خان ملک بنِ نوشېر خان ملک او د ټولو مشر نیکهٔ ئې د ملاکنډ د شهید په نوم یادیږي.

ښاغلے اباسین صېب زما د یونیورستۍ د طالب علمۍ د زمانې یو بې حده خوږ، او سل فیصده بې تکلفه او یو مخلص ملګرے دے. بلکې په دغه زمانه کښې زمونږ د یوڅو ملګرو یو ډېر ښکلے انجمن وو. په دې کښې زمونږ سره خدائے بخښلے خیبر افریدے، ښاغلے اقبال اعزاز، ښاغلے عرفان خلیل، سخي جان اُستاد او بل یو ډېر اهم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ستورے ډاکټر راج ولي شاه خټک او د مردان د غاړې خوږ ملګرے ښاغلے عبدالرؤف زاهد وغيره شامل وو.

زمونږ د ملګرو په دې ډله کښې د اباسين صېب د مينې، محبت، مېلمستيا او دلجويي يو منفرد سټائل وو. او هغه دا چې اکثر په دويم يا دريم مازيګر به اباسين صېب يو داسې مستانه خواهش څرګندولو چې څئ يار چې د اسلامک سنټر طرف ته هغه د پيؤ دوکان ته څو چې پې وڅکو. چې روان به شو نو دا د شلو منټو لاره به مونږ څکه په يوه ګنټه کښې لنډوله چې مونږ ته به په لاره څوک هم مخې ته راتلو نو ورورہ! د اباسين صېب به په تش سلام چرته کار کېدو. که هغه به يو ؤ او که پنځه به وو نو يار به د ټولو نه زارېدو قربانېدو او ورغاړه وتو به. او هر يو ته به ئې ډېر په ټينګه وئيل چې راځئ يار مونږ سره پې وڅښئ. مونږ به ورته ډېر ووئيل چې نېک بخته د خدائے! د مازيګر نه روان شوي يو او دا دے ماښام شو او مونږه د پيؤ دوکان ته نه يو رسېدلي. نو مهرباني وکړه چې دا مينه لږه د ځان سره خوندي وساته. دا ډېر ښهٔ څيز دے. چرته په ښهٔ غونډې ځائے کښې به پکار شي. ته خو وخت ته هم نه ګورې. سړي سړي ته هم نه ګورې خو بس مينه ده او محبت دے او بل کار دې نيشته. خو چونکې مونږ ټول ملګري په دې پوهه شو چې دا د دهٔ يو فطري کمزوري ده لکه چې اوس ئې ځائے په ځائے دغه واردات په کلام کښې هم څرګندېږي.

ياران خو دي ياران دي چې ماران هم غاړې باسي
دا ستا خو اباسينه بلها زور دے په سينه کښې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا خو لا هیڅ خبره نه وه چې مونږ ته به په مازیګر کښې د اباسین مینه ناک طبیعت کوم مشکلات جوړ کړي وو. د مازیګر خاص روماني کیفیت دے. او د جمال په دغه لحظو کښې لږه ډېره بدرنګي په اسانه سرے زغملے شي.

خو د دې نه ډېرې ګرانې او سختې مرحلې به هاغه وې چې کله به ټکنه غرمه وه او زۀ به د هاسټل کمرې ته راغلم نو څۀ به مې کتل چې د کمرې مخې ته به یؤ شل جوړې څپلۍ پرتې وې. او په کمره کښې به د اباسین صېب د بې وخته مینې او مېلمستیا په وجه یو شور جوړ ؤ. درې څلور ځله خو به پکښې چا د دروازې ټکا هم نه اورېده. ما به چې وکتل نو په کمره کښې به ئې یو درز غوبل جوړ کړے وو. د مېلمنو په رش کښې به د ډېرې خوشحالۍ نه بالکل د ګلاب د ګل په شان سُور غوړېدلے ؤ. پوره درې څلور قسمه شربت به وېشلے شو. د بادام شربت، د امرود شربت، او یو څو نور داسې نایاب قسمه شربتونه به زمونږ په کمره کښې هر وخت موجود وو.

کله به چې مېلمانۀ لاړل نو ما به ورته لمن وغوړوله چې یار اباسینه! " دا یوه وېنا د زړۀ په غوږو واوره. چې بهتره د اورنګ تر سلطنت ده"

چې ګوره زۀ په زړۀ او ذهن یو ستړے ستومانه بنیادم یم او تۀ مې وینې چې هسې هم د ژوند نه ډېر سخت وېزاره یم. زۀ غواړم چې چرته په یو ګُټ کښې سترګې پټې کړم، سر ولګوم خو دلته ستا د لاسه تېښتې ته راغلے یم. ځکه چې دا د هاسټل کمره ده. دا د مطالعې او د آرام د پاره ده. خو تا راته دلته د "جوس سنټر" جوړ کړے دے بس تۀ ئې. مینه ده. مېلمستیا ده، زاره‌دل دې، قربانه‌دل دې. خدائے ته وګوره د دې کمرې نه راته د حمزه بابا زړۀ مۀ جوړوه.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زړۀ ته نور ښکلي به راشي که ته لاړې
دا حجره کله خالي د مېلمنو شوه

خو د دې تولې وير ژړا په جواب کښې به دۀ رالنده کړه چې يار عاقل خانه! تا ته خو پته ده چې.

ماله بې توله مينه راکړه اشنا
زما په لړه مينه کار نۀ کېږي

او ما ته به ئې هم ووئيل چې تۀ هم دا يوه وېنا د زړۀ په غوږ واوره.

خدايه ما په محبت کښې لېونے کړې
بې جنونه به د مينې څۀ معراج وي

ما به سر ته ټک ورکړو او اودۀ به شوم.

ما چې په دغه زمانه کښې د کوم انجمن ذکر وکړو نو د دغه وخت او دغه ملګرو د ښاغلي ليکوال د ادبي پس منظر سره ډېر ژور او لوئے تعلق دے. دا هاغه د بې غمۍ د ځوانۍ او د مستۍ زمانه وه. چې ډېرې د لېونتوب شپې ورځې مو په ناسته سبا کړې دي. ډېر رنګين او غمګين ماښامونه د ښوارلسمې د سپوږمۍ په لطافت کښې د سپرلي رېښمين بادونه په توره نيمه شپه کښې د وُنو د پاڼو سره د زول نغمې، د سپرلي په موسم کښې ناګهانه شرابي ورېځې او د باران غټ غټ ځاځکي، ډګلونو خواره شوي نګهتونه، وجدان لړزونکې د وُنو د ګلونو او موسمونو جنتي خوشبويۍ او د اورې په تکنه غرمو کښې د ګوګوشتکې غريوژن آواز لکه چې وائي: دا دنيا فاني ده، ډېر خلق راغلل او ډېر خلق لاړل او دا شتۀ خلق به هم لاړ شي.

دغه وخت ؤ. دغه زمانه وه چې ښاغلي اباسين صيب د خپل غزل دپاره رنګونه راجمع کول. نن د دوئ په غزل کښې هاغه ټول کېفيتونه او

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



رنګونه موجود دي، کوم چې مونږ په يو ځائے او يو ماحول کښې محسوس کړي دي.

ښاغلے ليکوال د فطرت د ښائست يو ډېر لوئے امانتدار شاعر دے. د دۀ فطرت د هرې ښکلا، د هر ښائست د هر يو جمال او د هر يو جلال د هر سوز او هر ګداز او د فطرت د هر رښتياوالي تصوير په زړۀ کښې ځائے کړے دے او نن ئې د فن په ګوتو هاغه ټول تصويرونه د پښتون اولس په مخکښې د خپل زړۀ په وينو ساز کړي دي. لکه چې وائي:

ګوره د درد څړيکې خليږي پکښې
زما کلام تشې سندرې نه دي

د ښاغلي اباسين صېب په غزل کښې د ټولو نه زور داره جذبه د مينې ده. او مينه هغه جذبه ده چې د کائناتو بنياد دے. د انسانيت معراج په مينه کښې دے. دغه مينه او معراج د اباسين د غزل معراج هم دے

انسانانو ته چې لار د مينې ښائي
اباسين دې هم د هغې ډيوې تېل شي

کله چې زمونږ شپې ورځې د تدريس په مرحلو کښې وې نو زمونږ ادبي هلې ځلې هم ډېرې جانداري او په تُندۍ رواني وې. په دغه ورځو کښې به چې کله اقبال اعزاز افريدے په دره کښې د جمالياتي اثر په زلزله کښې ګېر شو. او کله به چې خدائے بخښلے او زمونږ ډېر زيات نازک مزاجه او بې کچه لطيف ملګرے ښاغلے خېبر صېب د تاترې په لمنه کښې بې قراره شو نو دواړو به سره د خپل خپل لېونتوب زمونږ په لورلېونۍ پېښنه وکړه. د اباسين په طبيعت کښې په فطري توګه هم د افريدو سره يو خاص مينه شته. د افريدو جغرافيه، ژوند ژواک، طور

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



طريقې، آباد ماښامونه، په حجرو کښې د سيخ د تيکو خوشبودار لوګي او د ماښام نه پس د رباب ترنګ او کله کله د شکسته جام کړنګ ځانګړے رنګ لري.

د افريدو داولسي او ثقافتي ژوند رنګونو اباسين صېب په جذباتي، نفسياتي او شعوري توګه زمونږ د ملګرتيا او وروروليٰ په طرف مائل کړے دے. ځکه د دوئ په کلام کښې دا قسمه اظهار ډېر په ښکاره ټکو کښې ښکاري.

زۀ د جلال او د جمال رنګونه ټول پېژنم
ملاکنډے يم خو ګذران مې په خيبر کړے دے

د ښار خيبر د غورځنګونو د مستئ له فېضه
د اباسين په ملاکنډ کښې پټ پالل د غزل

د خيبر د سېمې دغه تخليقي قوت ؤ چې پښتونخوا ته ئې يو لوئے شاعر د اباسين په شکل کښې ورکړو. د دې ستر شاعر په ادبي ژوند کښې دا هغه بنيادي مرحلې وې او هغه ورځې وې چې دوئ په ادبي مېدان کښې د زغل دپاره تياري کوله. وروستو به لوستونکي دا هم محسوس کړي چې زما، اقبال اعزاز او خيبر صېب ورکړي قلمي نوم د اباسين صېب په شخصيت کښې څومره نفسياتي پرمختګ راوستو. او د دغه نفسياتي پرمختګ په بنياد د اباسين صېب د نظم اولنى مجموعه "غورځنګونه" د پښتو ادب په پنګه کښې يوه ښکلې اضافه وګرځېده. او دغه دے څلورم ځل چاپ شوه.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زمونږ د ملګرو به د هفتي په معمولاتو کښې يو پوخ معمول دا هم وو چې د حمزه بابا سره به مو په ګډه يؤ تفصيلي نشست کېدو. په ډېرو عالمانه، فلسفيانه او صوفيانه موضوعاتو به مو د بابا سره خبرې کولې. يوه ورځ مونږ يو څو ځلمو ملګرو حمزه بابا ته خپلې بې مقطعې غزلې ليکلې ورکړې. او تپوس مو ترې وکړو چې بابا! دا کلامونه د معيار په لحاظ څنګه دي؟ او ستاسو څۀ خيال دے؟ هغوئ ټولې غزلې ولوستې او د اباسين صيب کلام ئې ترې رابېل کړو. د حمزه بابا دا وېنا زما ښۀ ياده ده چې هغوئ ووئيل. "چې دا د يؤ استاذ شاعر غزل دے" د اباسين صيب د غزل دپاره د حمزه بابا دا خبره د ټولو نه لوئے حېثيت او سند دے چې اباسين صيب د غزل استاد شاعر دے. د غزل نه علاوه په دې "الوت" نومې کتاب کښې ئې څۀ حصه د نظم، د سندرې (لوبې) هم ده. يعنې د الوت شاعري مونږ په درېو برخو وېشلے شو، غزل، نظم او سندره. بيا په دې درېو واړو صنفونو کښې د ښاغلي ليکوال دا خبره د کمال ده چې په هر صنف کښې ئې د خيال او فکر په لحاظ مختلف رنګونه دي. په غزل کښې ئې دخيالاتو، تفکراتو او جذباتو ډېره برخه رومانوي، جمالياتي او د انسانيت سره مينه محبت دے.

په نظم کښې ئې په خيالاتو مثبت قام پرستي غالبه ده او په سندره کښې ئې د پښتون د معاشرتي ژوند ثقافتي رنګ غالب دے. هر يو نظم ئې په خپل ځائے يو شاهکار او پر مغز. په هر يو نظم کښې ئې د خپل عنوان مطابق د خيالاتو جذباتو مطلب او معنې سره د الفاظو برجستګي ډېره په ښکلې او فني طريقه برقراره ساتلې ده. د مثبتې قام پرستۍ نه زما مطلب دا دے چې د نورو قام پرستو منفي اړخ دا وي چې هغوئ د پښتنو نه علاوه نور قامونه نور مسلمان قامونه هم خپل دښمنان ګڼي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



خو دا ښاغلے د دغو نه برعکس په جار د خپلې مثبتې قام پرستۍ علمبردار دے.

په "اتل" نومې نظم کښې چې ښاغلي په کومو الفاظو کښې د معاشرې په بدو ورځو قلم پورته کړے دے زۀ ئې په خپلو الفاظو کښې ذکر نه شم کولے. باید چې د دې دپاره د لیکوال نظمونه ولوستلے شي. نو لوستونکے به پرې ډېر ښۀ پوهه شي.

په دې نظم کښې ښاغلي د مسلمان خبره کړې ده یعنې د ټولې دنیا د مسلمان خېر ئې غوښتے دے. په "بې خودي" نظم کښې د ښاغلي خیالات او جذبات د دې خبرې اعتراف دے چې زۀ د علامه اقبال د عالمګیرې نظریې قائل یم. یعني کومه جذبه چې د علامه اقبال د مسلمان دپاره وه، هم دغه جذبه په "بې خودي" نظم کښې د اباسین صېب هم د مسلمان دپاره ده. دغه ټوله د مسلمانۍ جذبه اباسین صېب هم لکه د حمزه بابا د پښتون په کړۀ وړۀ کښې تر سره کول غواړي. د پښتون پرستۍ منفي اړخ د پښتون دپاره زهر دے. منفي قام پرستي راځي راځي او آخر د خپل رور دښمنۍ ته خبره راشي. دغه خلق زمونږ په ماحول کښې په معاشره کښې د چا نه پټ نه دي. او بیا په تېره تېره د یو لیکوال د سترګو نه خو پټ پاتې کېدے نۀ شي. اباسین صېب وائې چې دلته زمونږ په معاشره کښې داسې ډېر نومونه شته چې هغه د پښتو او پښتون نوم خو اخلي ولې د پښتو او پښتون سره چې څۀ کوي هغه په هیڅ شکل د دښمنۍ نه کم نۀ دي.

څوک چې د پښتو په نوم ښاغلي دي
هاغه د پښتو په مرۍ غلي دي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



اباسين صيب چونکه په پېښور يونيورستۍ کښې د پښتو استاذ هم دے نو په دې وجه د دوئ نه دا قسمه سوالونه کېدل د روزمره خبره ده

دا د پښتو علمبردار مونږه په کومه بوځي
د خپل اولس بچے بچے رانه پوښتنه کوي

چې نوم د پښتون اخلي او کار بې پښتو کوي، داسې خلق ښاغلي ليکوال "حمزه بابا ته چتي" نومې نظم کښې په ګوته کړي هم دي او غندلې ئې هم دي. د نظم سر داسې دے.

د پښتو ژبې او ادب په مخ کښې ځير حمزه
زما د قام د مستقبل د خوب تعبير حمزه
تا د شلمې صدۍ ګونګ پښتون ته ژبه ورکړه
د دې پېړۍ په بابا ګانو کښې امير حمزه

خو اوس

د پښتانۀ د لاسه څۀ په پښتانۀ نۀ کيږي
چې پېښور کښې وسېدو ته مې هم زړۀ نۀ کيږي
زما د قام خلمي دې "شمعې" "پلوشې" ستي کړل
ته اندازه وکړه چې دلته آخر څۀ نه کيږي

په حېرانتيا باندې دې يو يو آدم خور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لوټ شوي کور ته ګورم

د "شمعې" او "پلوشې" نه مراد "شمع" او "پلوشه" سنيما دي. يعنې په دې سنيما ګانو کښې چې د پښتون بچي ته د کوم تهذيب تصويرونه ښودلے شي نو دا به پښتون بچے کوم خائے ته ورسوي؟

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا یو ښوخبرې د ښاغلي لیکوال د پښتون سره د مینې د وضاحت دپاره وکړے شوې. د اباسین صیب د هر نظم ځان ته خپله خپله موضوع ده او په هره موضوع چې ئې نظم لیکلے دے خو د مقصد، مطلب او جذباتو انتهائي ژورو ته تلے دے. خو په مجموعي توګه د نظمونو د لوستو نه پس د ښاغلي لیکوال د شخصیت تصویر د غزل د شخصیتي تصویر نه ډېر مختلف دے. په غزل کښې د لیکوال شخصیت یو رومانوي، جمال پرست، مینه کوؤنکے، مینه شیندونکے او د مستۍ او انسانیت سره د مینې د جذبو نه سرشار ښکاري. خو په نظم کښې د غزل هغه خوش پوش، مست، په رنګ شګفته په زړۀ ژوندے اباسین هغسې نه دے. بلکې په نظم کښې د دې ښاغلي مجموعي تاثر ورکوونکے تصویر هغه دے چې ګرېوان ئې څیرې دے. سترګې ئې په ژړا سرې، مخ په اوښکو لوند، د سر وېښتۀ ببر، یعنې یو لېونے دے. چې په چغو کُو کُو سر دے. کله یو خوا لاسونه اوږدوي کله بل خوا ته نعره کوي. کله په یو لاروي پسې چغه وهي کله په بل پسې. او په خوله ئې دا نعره ده چې اے خلقه د خدائے دپاره راشئ. ما سره امدادوکړئ. ما سره ملګري شئ. ګنې دا به رانه مړ شي. د دۀ سلګۍ دي. هله راغونډ شئ چې دا بچ کړو. که دا مړ شو نو مونږ به ټول مړۀ شو. یعنې دلته ښاغلے لیکوال دهغه مور په مثال دے د کومې زوئے چې په سړک ګاډي وهلے دے. ښېپې ئې ماتې دي. سر ئې مات دے او د مرګ او ژوند په کشمکش کښې په سړک پروت دے.او مور ئې چغې وهي. چې اے خلقه زما دا زوئے مړ کیږي. اے خلقه زوئے مې مړ کیږي. خو دلته زمونږ ښاغلے لیکوال د چا رشته دار یا د خپل عزیز دپاره یا د خپل ورور او زوئے دپاره نه ژاړي بلکې د دۀ مخې ته د مرګ او ژوند په

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



کشمکش کښې د پښتون قام او ثقافت هاغه رژېدونکې ډهانچه پرته ده. کومه چې د مغرب د ثقافتي یلغار ګاډي وهلې ده. چې اوس لګیا ده د ځنکدن اخیري سلګۍ وهي. په دغه غرېو نیولې حالت کښې ښاغلے لیکوال لګیا دے کله احمد شاه ابدالي ته چغې وهي کله خوشحال بابا ته نعرې وهي او کله حمزه بابا ته په اوښکو سرې سترګې، ببر سر ځیري ګرېوان او ژړغوني حالت کښې اوازونه کوي چې راشئ تاسو ټولو د دې اولس دپاره، د دې ثقافت دپاره کومې نخښې پرېښې وې اوس دا حالت راغلے دے چې د دوئ نه هاغه ټولې نخښې هېرول غواړي. دوئ نه هاغه نخښې ورانول غواړي. خو ښاغلے اباسین په دومره تېزه او تنده سیلۍ کښې چې جامې هم شلوي. شګې هم الوزوي او غتې غتې وُنې هم د مونډه وباسي، د مغرب د یلغار سیلۍ کښې د پښتو او پښتون ثقافت دفاع ته ولاړ ښکاري.

## د اباسین سندرې او زمونږ ثقافت

د دنیا په مخ په سر د زمکې بې شمېره قامونه آباد دي د هر قام خپل خپل تهذیب، تمدن او ثقافت دے. ثقافت د یو قام د عادتونو، خویونو، طور طریقو، ناستې پاستې، ژوند ژواک، غم ښادۍ، مړي ژوندي، نفسیاتو، جذباتو، رواجونو او رویو نوم ته وائي.

انساني ژوند د پېداوښت د اول نه تر مرګه پورې د دغه ثقافتي مرحلو نه تېرېږي. د ثقافت په دې دومره خوره او وسیع لمنه کښې د ټولو نه اهم جز د هغه قام ژبه ده. ځکه چې کله د یو قام خپله ژبه وي، په خپله ژبه کښې لیکل کوي، لوستل کوي، خبرې کوي، د داسې قامونو د ثقافت هر اړخ به مضبوط، قوي او جانداروي . او د ژبې په روزنه، پالنه او

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



پرمختګ لیکوال یعنې شاعر او ادیب پوهېږي. د کومې ژبې ادیبان چې په شعوري ډول د دې خبرې صحیح ادراک ولري نو د ژبې په تحفظ کښې د دغه قسمه لیکوالو نومونه په زرینو الفاظو کښې تړول عمر له پاتې شي. د پښتو ژبې مثال زمونږ وړاندې د ے. پښتو ته د دوزخ ژبه وئیل کېدل. هم د دغه خبرې او احساس نفسیاتي ردِعمل وو چې حمزه بابا په شعوري توګه دغه مستانه آواز اوچت کړو.

وائي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زۀ به جنت ته د پښتو سره ځم

دلته زۀ خبره د اباسین صبب د لوبو او سندرو کووم. ما وړاندې هم دا ذکر کړے دے چې د ښاغلي لیکوال، د غزل، نظم او سندرې ښېخې خپل خپل رنګ دے. ښاغلے اباسین صبب په سندرو، لوبه، برغیزه کښې زمونږ ثقافتي اولسي شاعر دے. د دوئ په لوبه یا سندره کښې زمونږ د ثقافت هغه ټول خواږۀ په زړۀ پورې رنګونه او خوندونه موجود دي، کوم چې د هر انسان د روزمره ژوند او معمولاتو سره نزدې تعلق لري. د یو وګړي په ژوند کښې د ټولو نه خوږ څیز د دۀ جاندار ثقافت ده. چې د کوم قام ثقافت پوخ او خپل وي هغومره به د هغه قام د ترقۍ او خوشحالۍ معیار هم وي. ځکه چې پوخ ثقافت د پخې ژبې ضامن دے. په حېث د پښتانۀ چې کوم لذت مونږ په خپل لباس، پخپله ژبه او په خپل رنګ ډهنګ کښې محسوسولے شو هاغه په بل څۀ کښې یا د چا په نقل کښې نه محسوس کېږي. دا خبره به ډېرو خلقو اورېدلې وي چې یو پښتون عربو ته تلے وو. هلته ئې چې اذان واورېدو نو یو دم ئې د خُلې نه ووتل! چې "اوهو" دا خو دلته هم اذان په پښتو کښې دے. اذان که څو هم په پښتو کښې نه دے خو چونکې دا آواز زمونږ د ثقافت آواز

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دی او دا آواز مونږ د ماشومتوب نه تر بوډاتوب اورو. دا آواز چې مونږ هر چرته اورو نو مونږ ته د خپل وطن د ثقافت او خاورې احساس راکوي.

زمونږ د مېوو ذائقه زمونږ د وطن خوشبويي، زمونږ د خاورې موسمونه، ګرمي، يخني، سپرلي، زمونږ لباس، زمونږ خبرې، زمونږ سندرې، زمونږ نفسيات، زمونږ جماليات، زمونږ جذبات، زمونږ رواجونه، دستورونه، زمونږ لهجې، زمونږ رويې، کرکيله، تجارت، مړے ژوندے، غم ښادي يعنې د يو پښتون په ژوند کښې چې څۀ دي دا زمونږ د ثقافت مظهر دے. د خپل ثقافت سره مينه کول، په خپل رنګ کښې ژوند تېرول د با اعتماده قامونو شېوه ده.

کوم قام چې د غېرو قامونو د ثقافتي قدرونو سره مينه کوي، يا ئې نقل کوي نو د دغه قام خپل ثقافت په رژېدو شي. او آخر کښې د دغه قام، قامي حېثيت مړ شي. او هسې تش په نوم يو نسل ياديږي خو خپل قامي حېثيت ئې نۀ وي. هيڅ پېژندګلو نه لري او خپل شناخت بائيلي، او خپله ژبه ئې ورکه شي.

چې د کوم نسل خلقو ته خپله ژبه نه ورځي، که دے د هرې ژبې ماهر وي نوزۀ ډېره په زړۀ ورتيا او اعتماد دا خبره کوم چې دا نالوستے دے. او د ټولو نه لوئے تعليميافته هغه قام دے چې هغه پخپله ژبه خبرې کوي، خپله ژبه لولي، او خپله ژبه ليکي. په انفرادي توګه تاسو وګورئ چې کوم سړے يا فرض کړه يو پښتون پښتو نه شي وئيلے. ليکلے ئې نشي. دا سړے د پښتون ثقافت، پښتو ژبې دپاره داسې دے لکه مړ ...... کله هم چې يو ثقافت يوه ژبه، يو تهذيب د دنيا نه ورکيږي. په هغې کښې هم د دغه قسمه خلقو لاس وي، کوم چې د خپل ثقافت،

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



خپلې ژبې او خپل تهذيب نه بې خبره وي او يا په احساس کمترئ کښې اخته وي.
د ښاغلي اباسين صېب په سندرو اولوبو کښې زمونږ د ثقافت هغه خوارۀ کېفيتونه موجود دي کوم چې په انساني ژوند کښې زړۀ ته خوشحالي، روح ته تسکين او جذباتو ته قرار ورکوي د خپل وطن بادونه، سيندونه، ورمې او ګلونه د اباسين صېب د سندرو او لوبو زينت دے.

شړشمو نوستي دي په غرونو کښې رنګونه ـــ راځه چې لاړ شو
غاټولو هم ځانله شلولي ګرېوانونه ـــ راځه چې لاړ شو
جينکۍ ګرځي په ورشو کښې
دا په رنګينو لوپټو کښې
د پسرلي ډوبو نشو کښې
مونږه به هم د اباسين غاړې له ځونه ـــ راځه چې لاړ شو

دا زمونږ د ثقافت هاغه خوندور او رنګين تصويرونه دي چې حمزه بابا ئې هم داسې ذکر کوي.

دغه دوه وختونه چې ديدن پکښې ارزان وي
جونې شي بې واکه په سپرلي او په وادۀ کښې

مونږ پښتانۀ د بينکاک، امريکې او د يورپ په شان په اوچتو ودانو او فلېټونو کښې نه وسېږو. د کومو په وجه چې خودکشي هم په آسانه کېدے شي. زمونږ کوټې، کورونه، حجرې، جوماتونه او د ناستې پاستې ځايونه په خپل رنګ دي.

ماښام د کلي په شهتُوت کښې ـــ چنچنې شور کړي
چرته چاپېره په محلت کښې ـــ مېچن غرېږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## د پسرلي موسم چې راشي ـــــ ګلان غوړېږي

د وطن غرونه، د وطن سیندونه، د وطن خوږې ترخې مېوې، تهوارونه د یو وطن جغرافیائي حدونه، ونې بوټي، موسمونه. غاړې. غړونه خبرې او سندرې دا ټول هغه عناصر دي چې د خپلو اثراتو مطابق دهاغه قام د وګړو، نفسیاتي تشخص جوړوي.

د مزدور سندره، د پښتور ترانه، د ملاکنډ سندره وغېره وغېره دا هاغه سندرې او لوبې دي چې ښاغلے لیکوال پکښې د خپل ثقافت په اباسین کښې لامبوزن ښکاري. اباسین صېب خپله پښتونخوا خوښوي، خپلې خوشبویۍ، خپل رنګونه، خپلې خبرې او خپلې سندرې خوښوي.

اباسین صېب د خپلو سپېڅلو نفسیاتو او سوچه جذباتو د اظهار فنکار دے. اباسین د خپلو شړشمو ښکلا او د خپلو سرګړو (د پشکال په بارانونو په غرونو کښې زرغون شوے یو قسم واښه) خوښوي د پېرس په پرفیوم ئې نه بدلوي. ځلمو ته د پښتنې پېغلې یو بې انتها رومانوي تصویر جوړوي.

اباسین د پښتون شمله د ننګ تاتره ګڼي. د پښتنې مور غېږې ته د جنت حلقه وائي. د خپلې رنګینۍ او غمګینې شاعرۍ دپاره د پښتنې پېغلې د خوارۀ اوربل نه خوشبوئي اخلي. د سترګو نه ئې سرور اخلي او د نرو سرو او رېښمنو شونډو د لطیفې مسکا نه کېف او مستي اخلي.

مختصراً به دا وو وایم چې ښاغلے اباسین صېب په خپله ژبه خپل ثقافت مئین دے. خپل ثقافت، د خپل قام د بقا دپاره کشتۍ ګڼي. او دا وائي چې د دې کشتۍ حفاظت به مونږ ټول کوو.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د شعر او شاعرۍ د مقصدیت پحقله ښاغلے د سترو لیکوالو تولې خوبۍ په ځان کښې لري. اباسین صېب شعر او ادب دمعاشرې د اصلاح دپاره د ملا تیر ګڼي. زۀ به دا ووایم چې اباسین صېب د مینې محبت شاعر دے. دے د پښتو د غنمو د پټي هاغه زمیدار دے چې د بدۍ ژودر د پټي نه وباسي.

دا د مینې شاعر، د امن شاعر، د ښکلا، د انسانیت شاعر، دا د پښتو او پښتنو شاعر نن ژوندے دے خو په هر چا یوه ورځ داسې راتلونکې ده چې هغه د دنیا نه د تلو ورځ ده.

که اباسین صېب نه هم وي خو د دۀ نغمې، د دۀ سازونه او سندرې به تول د دیر لوړ لوړ ښترونه او د ملاکنډ د غرونو څوکې او د تولې پښتونخوا کاني بوټي یاد ساتي او شوروي.

زۀ که نه هم یم نو کلام به مې خبرې کوي
هر یو وګړے دخپل قام به مې خبرې کوي
ما د دې خاورې کاڼو بوټو سره پت پاللے
دا کاڼي بوټي در او بام به مې خبرې کوي

عاقل خان آفریدے
دره آدم خېل
نېټه: یوویشتم جولائي ۲۰۰۴ء

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

زۀ تربے کېږمه په ژوند کښې ګام په ګام خالقه
تر مورګو* ډک ساته زما د برخې جام خالقه
چې دې راکړې مرتبه ده د الهام خالقه
خپل خاص بنده دې کړمه فکر مې کړه عام خالقه
د تباهۍ نه وړاندې سم کړه زما قام خالقه
غابښ چې ترې واخلې بیا به څۀ کړي په بادام خالقه
تۀ بنۀ پوهېږې بنۀ خبر ئې کوې پام خالقه
زۀ نۀ پوهېږمه د ژوند په انتظام خالقه
په رڼ تندي سترګې په لار یم د قیامت ورځې ته
نور کتے نۀ شم د وګړو قتلِ عام خالقه
بغېر له ځانه مې هر چاته غږې دنګه لره
زما دا ذهن د بل چا مه کړې غلام خالقه
چا د نفرت په نوم په صدق د بے ایمان راوړے
څوک سنګساریږي تل د مینې په الزام خالقه
دا د معنو سمندرونه دې له کومې راوړل
اے اباسینه، سُخنوره، د کلام خالقه

✹✹✹

---

* ژی، غاړې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## صلو علیه وآله

تر څو چې د عظمت ذکر، قلم وي او کتاب وي
تر هغې به ستا نوم د تاریخونو انتخاب وي
تر څو چې په دنیا کښې آوازه د انقلاب وي
ستا کار او ستا کردار به ئې حاوي په هر یو باب وي

فطرت دے د انسان چې ډېر نزدې شي اخر تنګ شي
چې څومره در نزدې شي څوک نو هغه ستا پتنګ شي
چې ستا د خاکسارۍ په برترۍ کښې سړے رنګ شي
ستا ذات ورته په بره بره خبږي دنګ شي دنګ شي

چې دا د کائناتو د خالق ښکلے جانان ؤ
دنیا درته حېرانه، چې دا څۀ رنګه انسان ؤ
په روح کښې به دې خدائے خبر چې څۀ رنګه طوفان ؤ
چې جسم دې هر وخت د روح په لمسه کښې روان ؤ

تر څو چې په نړۍ کښې د رښتیا وئیلو راج وي
تر څو چې د منطق او فلسفې دلته رواج وي
تر څو چې بصیرت او بصارت د ژوندمزاج وي
ستا سر به وي د وارۀ عظمتونو به پرې تاج وي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# منقبت

په هر یو منصف واکمن چې ئې اثر دے
په اصولو چې قائم لکه د غر دے
هم خادم دے هم مخدوم په یوه سر دے
نۀ محتاج د بدرګي نۀ د لښکر دے
نۀ په شپه دے، نۀ په ورځ، نۀ په سحر دے
د خپل قام د خپل اولس په غم خبر دے
هره شپه لکه سپوږمی د بام په سر دے
پاڅېدلے هر سحر لکه د نمر دے
د دنیا د تمامي نرانو نر دے
رب ئې هم کړے لحاظ په خپل محشر دے
که په خپله ئې د غنو تاج په سر دے
محبت ئې د انسان سره هنر دے
مومنانو ته ئې پوست زړۀ او ځیګر دے
دشمنانو ته په زړۀ باندې کمر دے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



له دروغو ئې مدام کړے مفر دے
د رښتیا په لار ئې تل کړے سفر دے
په ژوندون ئې کلي کور کړے اختر دے
په وفات ئې غرونو ویر کړے تر تر دے
خاکساري ئې اغوستن جامه شادر دے
چې شرونه ورته ټیټ شي داسې سر دے
په قانون باندې ولاړ د رب اکبر دے
په خوئ بوئ په ناسته پاسته ښکلې بهتر دے
دغه څوک دے چې دا دومره بختور دے
چې د شاهِ دو جهان د زړګي سر دے
په څلورو کښې یو یار د پیغمبر (صلی اللہ علیہ وسلم) دے
دا فاروق د ښهٔ او بد حضرت عمر (رضی اللہ تعالی عنہ) دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

ښکلې څهره، فراخه ذهن، شوخ و شنګ غونډې يم
زۀ د دې خاورې په رنګونو باندې رنګ غونډې يم

کله د ذات د سرحدونو په ادراک نۀ رسم
کله دې دومره ويړ وجود کښې داسې تنګ غونډې يم

چې ډېوې سترګې د يار ووينم بې واکه شمه
بيا په ځان چرې نۀ پوهېږم د پتنګ غونډې يم

نفرت مې زړۀ نه کړه کړېده په تېتو سترګو
وې ئې! صفا زړګې کښې زۀ لکه د زنګ غونډې يم

د يار د ښپو ګردونه هم رانجه کووم سترګو له
په زړۀ بادشاه يم خو په مينه کښې ملنګ غونډې يم

چې په نرمۍ شي نو ريښم څۀ وې ستا زلفې څۀ وې
خو په سختۍ کښې په زړۀ سخت لکه د سنګ غونډې يم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په خاکسارۍ کښې د وګړو د ښپو خاورې یمه
خو په خودۍ کښې د چینار په شانې دنګ غوندې یم

زۀ اخر څۀ وکړم مجبور له خپل فطرته یمه
چې اباسین یم خامخا به په غورځنګ غوندې یم

———***———

## فرد

ته کۀ څۀ غرور کوې یوازې په ځرمنه
ستا حسن بهر دے او زما حسن دننه

———***———

## پښتو

څوک چې د پښتو په نوم ښاغلي دي
هغه د پښتو په مرۍ غلي دي
خلق سر ساتي او دیدنونه کړي
مونږ یُو چې له سره مو دانګلي دي

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

څۀ دي حالاتو لېونے کړمه څۀ تا لېونے
ځان راته کله کله ښکاري په ربښتيا لېونے

په انسانانو باندې داسې مَترقيٰ* راغلې
مابنام اوده شي روغ رمټ پاڅي سبا لېونے

دا قافله به اخر څنګه تر منزله رسي
ملګري ټول اوتر اوتر دي، رهنما لېونے

هغه جنت پرېښے ؤ ما به له دنيا وباسي
لکه آدم غوندې زۀ هم يم د حوا لېونے

يو د يادونو سور انګار دے بله مياشت د بادرو
دا خل به روغ نۀ شم که شوم درېسې بيا لېونے

ته به هم ياره کله کله زړۀ کښې داسې وائې!
دا د ژوندون سترے مزل راسره دا لېونے!

په تورو غرونو کښې ئې څکه زړۀ راتول غوندې وي
ستا اباسين پېدائشي دے د ښکلا لېونے

٭٭٭

---

* وبا، فساد، مرض، رنځ، توغکے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ما د ارمانونو شور ته مه بوخه
دشتې ښۀ دي بيا مې كور ته مۀ بوځۀ

زۀ د ګل انجام ته خفه كېږمه
ما د ګلشنونو لور ته مۀ بوخه

مخكښې وزر را چې زړۀ مې جمع شي
هسې مې په پورته پورته مۀ بوخه

خدايه! چې ژوندو ته په درنه ګوري
داسې انسانان خو ګور ته مۀ بوخه

زۀ په اباسين باندې لاهو ښۀ يم
بيا مې د حالاتو اور ته مۀ بوخه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ستا لېونے تشو سرونو باندې راج نۀ غواړي
زما د زړونو بادشاهي خوښه ده، تاج نۀ غواړي

د خپل تقدير واګې چې څوک په خپلو لاسو نيسي
د لوږې مري خو په عمرونو قرض بياج نۀ غواړي

لکه د نمر غوندې د ژوند د سوکالۍ سوَب وي
بې نيازه خلق د هيچا نه هم خراج نۀ غواړي

ما چې دا ځان لېونے کړے دے او تا غواړمه
ارمان چې وي نو اخر څنګه به معراج نه غواړي

د عاشقانو د روحونو ځانله بيل جهان دے
لېونۍ مينه څۀ قاعده او څۀ رواج نۀ غواړي

چې محبت به کوي کاڼے دے ويرېږه ترينه
دا يو کوتلے حقيقت دے هډو جاج نۀ غواړي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ما د غربت په لاس ګنډلي جامې وليدلې[×]
چې د کفن غوندې تنې نهٔ غواړي کاج نهٔ غواړي

ښائست د داسې يو اثر نوم دے چې نهٔ شي ليدے
نقش و نګار او د رنګونو امتزاج نهٔ غواړي

په ژوندانهٔ کښې اباسين غوندې تېزي پکار ده
دا زندګي لکه د واورې سوړ مزاج نهٔ غواړي

***

[×] په سپينه خله کښې ما يو خل يو ماشوم ليدلے ؤ چې د سوتلي جوړه بوجۍ ئې اغوستې وه غاړې او لاسونو له ئې پکښې سُورې کړې وو.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## لېونے کېږم؟؟؟

د عدل او انصاف دې ناکړدو ته حېرانېږم
د جرم او سزا د فلسفیانو نه بوګنېږم
د وخت دمُشادې نه د ګیدړ غوندې ترهېږم
د ځان د ښکلو ښکلو تصویرونو نه ویرېږم
د عقل په بازار کښې په پیسه باندې خرڅېږم
چې دا حال وي ملګرو زهٔ به نهٔ لېونے کېږم؟

دا مونږ پکښې آخر په کوم یو جرم زنداني شو
راځئ ملګرو ټول به په شریکه لېوني شو

انسان د باردونو په ډېرې کښې ورښخېږي
لوګے د سوو غوښو د نړۍ نه چاپېرېږي
د امن خوړوونکي ټول د لوږې نه مرهٔ کېږي
د بم په جوړوونکو انعامونه تقسیمېږي
بې کچه بې حسي ده احساسونه بربادېږي
په زهرو به آخر د سړي څهٔ تنده ماتېږي

په اور کښې ستي څو کاله بې وسه جاپاني شو
راځئ ملګرو ټول به په شریکه لېوني شو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د بنو بدو تميز دے ختم شوے په دنيا کښې
خپل ځان پسې لتهون کوو د زړو په پړقا کښې
اثر چې پاتې نه شولو د هيڅا په دعا کښې
د خپلو باباګانو نخښې ورکورم په چا کښې
اقدار په زمکه ښخ دي خو سوچونه په خلا کښې
يو کار هم پاتې نه شو په پرده کښې په حيا کښې

په سترګو د هر چا پورې رانجه سلېماني شو
راځئ ملګرو ټول به په شريکه لېوني شو

ګرېوان د استاد خيرې په منګول د شاګردانو
سرې وينې د شاګرد دي په لمن د استاذانو
پښوا به پاړوګان وو د لړمو د مارانو
دم نشته په دنيا د زهرجنو انسانانو
چې ګورم په پېسو پسې ناجوړه طبيبانو
لګيا دي رنځوران کوي علاج د رنځورانو

په څوارلس سوه کاله پسې بېرته ارماني شو
راځئ ملګرو ټول به په شريکه لېوني شو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



عصمت د پېغلو جونو په کوڅه کوڅه نیلام شو
ډوډۍ پسې لغړ ګرځي انسان څومره ناکام شو
د زرو غړوندے ئې پروت په غاړه کښې غلام شو
پخپله باندې ښکار شولو ښکاري شولو او دام شو
د خپل انسانیت په نامه څو ځله بدنام شو
د مینې زېلې غوټې شوې نفرت چاپېره عام شو

میرګي به په ځان راولو ښۀ سم به پېریاني شو
راځئ ملګرو ټول به په شریکه لېوني شو

چې شپه ورځې اخته په شواخون کښې د خپل کار دي
حېران به شي چې دا خلق په هر وطن کښې خوار دي
خوشبخته په مړه ګېډه د هضم په رفتار دي
بدبخته په خېمو کښې د ډوډۍ په انتظار دي
رزیل کره ډېرې دي انبارونه دي خروار دي
اصیل او شریفان پکښې د سپي د لکۍ خوار دي

د خلقو دا سوچونه دومره ولې شېطاني شو
راځئ ملګرو ټول به په شریکه لېوني شو

چاپېره په دنیا کښې د ښائست رنګونه غوارم
تر هغې به دې خدایه روزانه په در کښې ژاړم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



انسان یمه خو بل انسان د سپي په شاني دارم
دا غوښې غوښې ژوند زۀ نور لیدے نۀ شمه لارم
د وینو د سېلاب نه مخکښې خپله کډه نغارم
د درد د ډېر شدت نه د ښاروي په شانتي نارم

په مینځ کښې د ډنګرو مې خویونه حېواني شو
راځئ ملګرو ټول به په شریکه لېوني شو

اوتر کړمه د وخت توري بلا وئیل پکار دي
زړګے مې ډک دے نۀ راځي ژړا وئیل پکار دي
دي ټولو ثوابونو ته ګناه وئیل پکار دي
چاپېره تور تمونو ته رڼا وئیل پکار دي
دروغ په دې صدۍ کښې خامخا وئیل پکار دي
خو ما ته خپل ضمیر وائي رښتیا وئیل پکار دي

بیا خبر که په رښتیاؤ کښې بې کچه تاواني شو
راځئ ملګرو ټول به په شریکه لېوني شو

***

(د ګران اروابناد ملګري نامتو نفسیاتي ماهر . ښۀ انسان او دروند پښتون ډاکټر انیس الرحمان په نوم دا نظم ډالی کووم)

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

د پرهر د زړهٔ ټکور کلي کښې نشته
لېونیه ځائے دې نور کلي کښې نشته

د غربت وباء راغلې خلق زغلي
بیا ځوانان یو دوه ښلور کلي کښې نشته

هر سړے د خپل وجود خولو کښې ډوب دے
د غمژنو څوک غمخور کلي کښې نشته

ماشومان سیپارې نه وائي جومات کښې
د چنچڼو شور ماشور کلي کښې نشته

مخلوقات ئې په دیدن پسې ړانده شو
څوک د قام د سترګو تور کلي کښې نشته

د هندوانو غوندې هر خوا ځان ځانلے دے
خانک مات شولو او شکور کلي کښې نشته

هر یو تن په خپل کنډر کښې له یخنۍ مري
ایرې ډېرې دي خو اور کلي کښې نشته

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې عالم ئې رابښکودو د ښاریو نه
اوس هغه د مینې زور کلي کښې نشته

چې د سپینې سپوږمۍ خور کلي کښې نشته
اباسین ئې هم په کور کلي کښې نشته

***

## زما قام

زما قام که په قامونو کښې غمے دے
خو د علم پکښې لږ شانې کمے دے
د اخلاص نه ئې وطن ړنړا ړنړا دے
جهالت پرې راخور کړے ماښامے دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

په یو چم کښې په دیدن باندې بندېږ
پسرلے او د شرابو نه پرهېز

له ګرېوانه مې د اور بخرې خې
محبت راله اعصاب کړل رېزمرېز

راورې نوي پرهرونه هره ورځ
چې جانان مې په نصیب شولو نوخېز

لېونتوب مې کړمه خلاص له بربادۍ
چې د خلقو نه ئې کړمه په ګرېز

دَل دوبې مې شول بندونه د برداشت
اباسین د عشق را خلاص شولو سر تېز

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

د غربت سوې ځواني
لکه زمکه باراني

زما زور زما ځواني
ستا په حُسن قرباني

دا د مینې خزانې
زما برخه اسماني

عقل تل په تېپو ړوند
عشق رانجه سلېماني

دا د سرو ګلو موسم
دا بې کچه ځان ځاني

د زړګي سیورې پېتاؤ
د یو ښکلي ارماني

صوفي ګرځي په براق
مُلا ناست دے پېزواني

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا د ویرې نه سجدې
دا د ډب مسلمانۍ

ستا د حُسن ترانې
راته یادې زبانې

د دولت هر یو انبار
نه دے فضل ربانې

په هر طاخ کښې دي پراته
ستا خطونه پخوانې

محبت څۀ دے اشنا
سلطاني ده سلطانې

پېښور کښې ملنګې
او په کلي کښې خانې

چې پېدا شومه پښتون
ربه ستا مهربانې!

چې ورتلې په اباسين اوس کوه پهلوانې

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

منتر مې چف کړو د وختونو پاړوګان ګورمه
بیم غږوومه په ټول کلي کښې ماران ګورمه

ما د لمبو شادر په ولي په خندا اېښے دے
زۀ لېونے کله د مينې سود او زيان ګورمه

د ګل په مينه کښې مې داسې لېونتوب کړے دے
چې هر ازغي کښې مې تارونه د ګرېوان ګورمه

زمونږه زړونه لکه تمبل په يو تال غږېږي
روحونه يو دي هغه ځان ګوري زۀ ځان ګورمه

د وينو رنګ مې ګلابي جامې اغوستې ورته
زۀ خپل تخليق ته په نشه کښې د يزدان ګورمه

د سوداګرو لاس ته لاړې د وختونو واګې
اوس به په مينه پسې هم چرته دکان ګورمه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زما پټ مخ هڅو شته نه چې بغاوت پېژني
زۀ لکه زمکه يم په هر لوري اسمان ګورمه

داباسين لاړي نيول تشې خبرې نۀ دي
شرع ظاهر ګوري دا ګز او دا مېدان ګورمه

په اباسين کښې خو به راز د کائنات ښکاره شي
زۀ په يوه قطره کښې زمکه او اسمان ګورمه

***

## جمهوریت

خنګه نظام دے هم مې وژني هم ژوندون راکوي
هم مې په اور سېزي او هم راله سکون راکوي
دوه جاهلان د يو عالِم نه په کنډه* درنېږي
جمهوريت راله د وخت دغه مضمون راکوي

***

* تله میزان

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

اورونه بل دي، خولې ارزانې، طبيبان نيشته، زخمونه ډېر دي
سپوږمۍ چې څې نو، جانان ته وايه، لاوزګار نه يم، کارونه ډېر دي

وار خطا نۀ يم، د ژوند مزل ته، ژوندون بلها دے، غمونه ډېر دي
زۀ بې له خدايه، بل څوک منم نۀ، ګنې په سر مې، لاسونه ډېر دي

د چمن سترګې، درپسې سرې دي، يو ځلې راشه، په زړو لارو
سپرلے سمسور دے، د حسن زور دے، مارغان چغيږي، ګلونه ډېر دي

تاريخ ګواه دے، زما جلال ته، خوږو ته خوږ يم، ترخو ته تريخ يم
شمله زما ده، مېدان زما دے. که په نرۍ کښې. قامونه ډېر دي

جانان اولس مې، اودۀ په خوب دے، ويښول غواړي، لړزول غواړي
سر پکښې نشته، بې سره ګرځي، که په شمېره کښې، سرونه ډېر دي

سوکړه خوربري، چينې وچېږي، سر درې دل شوې. وطن لتاړ شو
د رب بې شانه، مهرباني ده، په اباسين کښې، موجونه ډېر دي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# تخلیق کار

زما غم دے په ورمه کښي
زما درد دے په نغمه کښي

زما ساز دے په باران کښي
زما سوز دے په سوکړه کښي

زما ژوند دے په سور اور کښي
زما کور دے په لمبه کښي

کله ډوب د زمکي تل کښي
کله پورته په مزل کښي

کله ځلنده ماضي کښي
کله رنګ په مستقبل کښي

اسمانونو کښي الوزم
کۀ وسیږم په غوجل کښي

زۀ ګل بڼ لرم یارانو
د زخمونو، پرهرونو

زۀ ورمي راټولوومه
د ښائسته ښائسته ګلونو

کله ګرځم په اسمان کښي
د رڼا په بُراقونو

زۀ یو داسي تاریخ ساز یم
چي یم خور په تاریخونو

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

حقه خبره ښه په لوړه کوه
د خپل ضمیر سره ښکړه کوه

په داسي خاوره باندې ژوند تېروو
چې امن غواړې نو جګړه کوه!

زۀ به درخمه که تۀ نۀ شې راتلے
خبردارے خو راته مړه کوه!

که زنانه ئې نو رنګونه ګوره
که نارینه ئې جامه خړه کوه

بې د مزاح نه طنز حرام وګڼه
په زهرو نۀ وژل په ګوړه کوه

که فیرنګے ئې نو یو لاس ورکوه
او که پښتون ئې ګړه بړه کوه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



عیش او عشرت په محلونو غواړه
محبتونه په جونګړه کوه

تخلیق په غوټه نیمه شپه کښې کیږي
خو پاخېدل په توره خړه کوه

***

میینه

چې مې پیاله د محبت په یو ایندہ تېره کړه
په ټول وجود باندې مې درد یوه ګینده تېره کړه
ستا سره وېښتهٔ مې لوبول او جدائي ژړله
نغمه د مینې مې په مسته سریندہ تېره کړه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## هر کلے*

که جنګو، شوه، خانپور که کټیاړې ده
ښکلاګانې ترې راڅاڅي په بهار کښې

محبت دلې دلې لرو په زړهٔ کښې
سادګان یو وار خطا شو په اظهار کښې

دا د حُسن پرستۍ انتها نهٔ ده؟
د ګلونو شپول مو ولیدهٔ په لار کښې؟

***

## پښتو

حالات که راله نهٔ پرېږدي په زړونو کښې پښتو
زمونږه خو بهیږي په رګونو کښې پښتو
په وینه مې احساس او شعور دواړه پښتانهٔ دي
په ما خو راسوره ده په خوبونو کښې پښتو

***

---

* په شوه تندوړاګ کښې ۱۹۹۰ء کښې د کېدونکي وړومبۍ مشاعرې شاعرانو ته هر کلے، په دغه موقع زما جانان ستر خېبر افریدے مشر مېلمهٔ و او یو مقامي خلمي بخت زمان دغه مشاعره راجوړه کړې وه.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

سوال به نۀ کوومه خورم په خاوره متهه
خدايه رزق راکوې له خپله متهه

د هنر کالے سنبال ساتم په کور کښې
نوره هيڅ راسره نشته ګټهه وتهه

چې د علم په خوږو يم خبر شوے
د دولت منده مې پرېښې ده چورلتهه*

کله کله د اولس په غم کښې زغلم
کله کله کوزېدے نه شم له کتهه

دغه خوئ راله خپل رب نه دے راکړے
چې په غاړه کښې مې پرېوزي د چا پتهه

---

* غوټ. بېخي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا شمله مې مدام هسکه لرې خدايه
چې پښتون دې پېدا کړے يم په ختهٔ

د انسان د محتاجۍ نه امان غواړم
لکه سپے، چې سړے خوري رزق له چتهٔ*

اباسين چې کله خپله لاره پرېښوده
نو دا سر ورله بيا ووهه په ګتهٔ

___***___

## بلها

ځکه هر ځائے کښې عنقا معصوميت دے
ستا په سترګو کښې بلها معصوميت دے
چې اکثر مې د ګناه په لوري بيائي
نور څهٔ نهٔ دي خو هم دا معصوميت دے

___***___

* چتهٔ هغه لوښي ته وائي کوم کښې چې سپي ته خوراک ورکولے شي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

زهٔ شومره بدنصيب يم چې د ځان په لوري نهٔ ځم
په مينه پسې مرم خو د انسان په لوري نهٔ ځم

ګلونه راته هم چيه خُله وائي چې څهٔ شو؟
له دې غمه اکثر د ګلستان په لوري نهٔ ځم

خودي مې داسې شوه چې په اورونو کښې مې نغاړي
بې سته بې منته د جانان په لوري نهٔ ځم

دا جَهل مې په ختمه کښې اخښلے دے ملګرو
د تندې نه که مرم خو د باران په لوري نهٔ ځم

افسوس په داسې خلقو کښې پېدا شومه قسمته!
په زمکه ننوزم د اسمان په لوري نهٔ ځم

چې تا راپېدا کړے اباسين يمه خالقه
کافر به يم که زهٔ د خپل افغان په لوري نهٔ ځم

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ځوک چې په خپل وجود برداشت لکه مېچنه کوي
تاریخ به ټول عمر آغاز له هغه تنه کوي

لکه ګلاب چې مې په ډکه خُله ستائنه کوي
ستا لېونے ستا د غنې سترګو مننه کوي

هغه انسان به د سختۍ مقابله څۀ وکړي
چې د ګیاه غوندې طوفان ته ځملاستنه کوي

دا د پښتو علمبردار مونږه په کومه بوځي؟
د خپل اولس بچے بچے رانه پوښتنه کوي

دا بره ناست خلق څه بره پیدا شوي نه دي
عالم په پاټکي پاټکي ځي بره خَتَنه کوي

تاریخ د هغو خلقو نوم چرې هېر کړے نه دے
ځوک چې د جبر، په سولۍ باندې غندنه کوي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



مرګيه! ته که تار په تار کړې پښتانه ملګري
يو اباسين به د پښتو د باغ روزنه کوي

د نړۍ امن له څو داسې لېوني پکار دي
چې اباسين غونډې په اور هم ورختنه کوي

***

## نکريزې

زما سره په نه خبره نښلې بيا به څه کړې
نکريزې دې په ښپو لاسو ترلې بيا به څه کړې
بې وختـه مې مړ نه کړې په بې شانه خنه سترګه
که زه نه يم نو وايه نازولې بيا به څه کړې؟

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

زۀ ئې ونيووم له سره چې تۀ څوک ئې؟
بيا ئې وويستم له دره چې تۀ څوک ئې؟

هره لاره چې مې ستا طرفته بيائي
اے زما د سوچ محوره! چې تۀ څوک ئې؟

ګورې زلفې دې په مخ خورې ورې دي
په وربخو کښې پټ نمره، چې تۀ څوک ئې؟

چې مدام دې د ښکلا په خيال کښې ډوب يم
بې پاياوه سمندره، چې تۀ څوک ئې؟

ټول ژوندون دې راله وسو په لمبو کښې
اے په زړۀ ذهن کافره، چې تۀ څوک ئې

پښتونخوا دې د عظمت سندرې وائي
اباسينه، سخنوره، چې تۀ څوک ئې؟

✳✳✳

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## Best Painting

### (غوریز انځور)

د دنیا د تصویرونو نمائش دے
دهر یو براعظم خلق راټول دي
د سپین پوستو او تور پوستو غلغله ده
فنکاران د هر وطن ګوته په خُلهٔ دي
شاهکارونه ټول مونډو* ته اوېزان دي
چا د غرونو د لمنو او سیندونو
چا د سپینو ګل ورینو مستو جونو
چا د د شتو کاڼو، بوټو د ګلونو
تصویرونه راجوړ کړي دي په وینو
هغه فن چې د فنکار روح پکښې ښکاري
ټول حېران ګوته په خُلهٔ رنګونه ساري
چې په دې کښې یو تصویر ته مې نظر شو
ډېره جقه ورته جوړه وه د خلقو

---

* مونډے، چیت دېوال

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ماهم وکتل په غتهو زير زير
چې په دې پېښتنګ کښې څۀ خبره خاص ده
يوماشوم دے پروت په وېنو کښې لت پت دے
شين لوګے دے خکه شاته منظر تت دے
د ماشوم خوا کښې رحېل دے
په رحېل کښې يو کتاب دے
چې شين توکے ترې چاپېر دے
د سپفون يوه لوپټه هم
په رېکونو کښې پرته ده
په ګس لاس کښې ئې چوسني کلکه نيولې
يو تعويذ چې په سپين مزي سرۀ خرمن کښې
د مرى نه ئې په ګروي× اوېزان دے
اننګے ئې لړ په دوړو باندې خړ دے
قراغي ستركې، وازه خُلۀ
له ويرې مړ دے
غبرګ لاسونه ئې واز کړي
لکه غبرې ته د مور چه هوس کاندي
د اوګو او ملا د لاندې
د سبزنې⁂ يو شو لړونه

---

× د اوږې او مرى تر مېنځ هډوکے
⁂ سيزني يا سوزني (هغه د توکي رسى چې ماشوم پرې تړلے شي)

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د شګلوړي* نه په ترخ کښې
ختېکې** او پتون لاندې
د ورښې* پېښګے ښکارېږي
لړه وینه . پکښې چم ده
سره تنګرې تنګرې پرته ده
د پوښتو په لاندې برید ئې
یو ګولۍ جوړ کړے غار دے
وحشتونه ترې راڅاڅي
چې سینه او ډونګه بڅیل دي
د امغانو د منځ لورته
ئې د وینو کرښې تللې
چې کچه وړه پچې ئې
په سرو وینو لمبېدلې
ایله تته ښکارېدله
چې تازه تازه سُونت دے
د کُنجکو پېکړه ئې
د ښۍ ښېپې نه ده چاپېره
د تصویر د فریم دپاسه

* د ملاکوز سر.
** سپینې، د پنډۍ شا
* ورښے هغه تو کے چې د ترلو په وخت د ماشوم نه تاوهلے شي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په نري شانله يو تار کنبي
يو کاغذ رااوبزان دے
چې د پاسه پرې ليکل دي
U.S.A. best painting of the century
(امريکه ، د دې پېړۍ غوريز انځور)

***

## خپل

نا خبره ووم خفه ووم په ازل خپل
په دنيا کښې راته نۀ ښکارېدو مل خپل
د يو ښکلي د قربت له برکته
دا جهان راته تمام ښکاري اوس خپل خپل

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

ستړګې دې نن په آئینې ستړې کړې
د زلفو بار درله اوږې ستړې کړې

شمعې! وژل دې مناسب نه ګڼم
ګڼې په سر بلې لمبې ستړې کړې

د کائنات پېټے په سر او ستړګو
خدایه! دې خپل وجود مې ښېپې ستړې کړې

شپنغوزې* کړې په شومه دم انګازې
ما درېسې لارې کوڅې ستړې کړې

تاته د خدائے په کور کښې یاد نه شولو
ما ئې په یاد کښې مېخانې ستړې کړې

ناوخته کېږې اوس مې پرېږده کنه!
تهٔ ټول عمرې دې بَهَانې ستړې کړې

تهٔ خو دریاب ئې څهٔ کمے نه لرې
تا اباسینه جونې ښې ستړې کړې

---

* شپنغوزه یوه مرغۍ ده چې د شپې الوزي او ډېر دردېدلے اواز وباسي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK


✹✹✹

دا خبره به کووم په زر کرته*
نۀ شم زۀ منع کېدے له محبته

په ازغو باندې ګرځوان راتلووومه
راته پېښنه شوه د ګل د نزدېکته

محبت مې مجبوري ده زۀ انسان یم
ځان به څنګه خلاصوومه لۀ فطرته

سر مې راوړو په تلي کښې دا دے راغلم
خبردار یمه د حُسن له قیمته

د مستۍ نه مزد** کرمه په پټو کښې
ټوله شپه ژړندې ساتمه له غربته

ستا د زلفو خوشبویانې ترېنه خیژي
دا جامې مې څکه نۀ وینځم له بته*

---

* زر خله، زر واره، زر پېرې
** أجرت، د ژړنده ګرې مزدوري
* کلف. د کارخانې هغه مساله چې د جوړېدو نه پس او د وینځلو نه مخکښې جامې هوارې او جګې ساتي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زړهٔ مې روغ نهٔ دے داسترګې به دې پوه کړي
لېونو سره دې ناچوي[1] انګته[2]

دومره بار د ښائستونو شنګه يوسي
نرۍ ملا دې جول[3] کوي له نزاکته

تهٔ کهٔ سل قسمه خورې زما د نوم نه
تول رانجهٔ دې بهېدلي دي په ښکته

چې د غرونو لېونے شوې اباسينه
ځان دې وويستو له کلي له محلته

***

## يو شعر

که ډېر له خلقو پټ وساتي خپل ګرېوان شلېدلے
شاعر چرې خپل غم د چانه نهٔ شي پټولے

***

---

[1] نهٔ اچوي
[2] چېر چار. تنګول، لاس اچول. لاس لګول
[3] تال، لچک

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# ترانه

اے د قام اودۀ احساسه
لړ د خوبه خو راپاڅه

چې سرے په سترګو ړوند وي نو تيارۀ څۀ او رڼا څۀ
تکې زيړې موګونې* دي له غربته، له افلاسه

اے د قام اودۀ احساسه!
لړ د خوبه خو راپاڅه

تول په خپلو لارو زغلو په رهبر او رهنما څۀ
در په در خاورې په سر يُو همېشه له خپله لاسه

اے د قام اودۀ احساسه!
لړ د خوبه خو راپاڅه

* مخ. څهره

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په غوټو باندې اوربل دے د چمن د زړۀ د پاسه
زۀ ویر بړ مه ملګرو د دوران له التماسه

پښتونخوا نۀ ده دوزخ دے
اباسینه ښېي ویاسه

اے د قام اودۀ احساسه!
لږ د خوبه خو راپاڅه

———***———

### هېواد

خدایه بچ مې کړې پښتون له دې فساده
هسې نه چې پښتونخوا مې شي برباده
دکابل د نظارو مخونه تور شول
د بارودو لوګے خېژي له هېواده

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

بې له مينې ژوند او ژواک
لکه بې مالګې خوراک

زما زړۀ لکه آئين
د ريا له خيرو پاک

ستا رېبار لکه طوطي
په خبرو کښې چالاک

زۀ محتاج د محبت
جانان څومره مينه ناک

نۀ خندا زما په وس
نه ژړا زما په واک

دا ژوندون دے که بېګار
لاس و ښپې مې شول متاک

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



خوشحالي وي او که غم
دواړه کسي مې نمناک

دخيالونو په اس سور
اباسين ګرځي کاواک

***

## تعصب

خدائـيګو چې د يـو بـل پـه ورمـو پـورې ړنديـږو
ډېـرې مـودې وشـوې پـه لـيدو پـورې ړنديـږو
داسـې بـه د بُغـض او حسـد پـه اور کښـې سـوزو
مونـږ بـه پـه دې يـو ډکـي تـر خـو پـورې ړنديـږو

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

د درد سره ترلے محبت دے ځکه خوږ دے
د دهٔ هم د ښائست هومره قيمت دے ځکه خوږ دے

ګلونه او خوشبو راباندې ګران د چا په مخ دي
د ساز مې د جانان سره نسبت دے ځکه خوږ دے

اسمان چې کله وبريښي خندا دې راپه ياد شي
باران خو ستا د حُسن تلاوت دے ځکه خوږ دے

مرګے خو د جانان غېږې له تله دي خوشحالي ده
ژوندون خو له جانانه عبارت دے ځکه خوږ دے

جادو نهٔ دے د روح د ښائستونو آئينه ده
کلام کښې مې اثر د معرفت دے ځکه خوږ دے

په ټوله پښتونخوا کښې ډېر خوږ ژبي بلبلان دي
دا ستا په اباسين کښې صداقت دے ځکه خوږ دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# اتل

چې حالات لکه سور اور شي
چې انسان خوړل شورو کړي
ښاماران چې کومي واز کړي
چې غفلت زړونه غوبل کړي
د ربنتیاؤ تصویر تت شي
موسم سور لکه انګار شي
یو تازه تخم بېدار شي
تول یو دم لاس په دعا شي
د رنیا رانبي سینګار شي
د جابر هډونه شپېل شي
ظالمان تول پېزواني شي
نن بیا ژوند بې شانه ګران دے
یو اتل راتلل پکار دي

چې تور تم هر خواته خور شي
چې لېوان داړل شورو کړي
چې دوران چیچل آغاز کړي
بې حسي روحونه ډَل کړي
د بتانو عبادت شي
د وختونو ثانګې بار شي
انقلاب ته ژوند تیار شي
یو اتل چرته پېدا شي
او د زړونه رابېدار شي
غاصبان د ښپو نه ښکبل شي
د قاتل ختمه خانيء شي
دا کوم حال د مسلمان دے
بس یو بل راتلل پکار دي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✵✵✵

کۀ زما هغسې تاب د څېګر نشته
ستا په سترګو کښې هم هغه اثر نشته

زر پرست د زمانې راپسې ګرځي
خبر نۀ دي چې زما سره زر نشته

تا په يو نظر له ځانه سره يوړل
زړۀ مې کوم دے، هوش مې کوم دے. نظر نشته

کور مې هم لکه د زړۀ غونډې وېجاړ دے
نړېدلي دېوالونه دي ور نشته

چې زما د سوچ دنيا ئې لېونۍ کړه
هغه تولې هنګامې خو بهر نشته

مئينتوب به د فطرت نه لرې وځي
بې ګودره شو مئين چې ګودر نشته

اباسين نه لا څوک تږي نۀ دي تلي
شومه ياره خو په ځان دې باور نشته

✵✵✵

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

زما به څۀ بدلون په حال کښې راځي
يار د سپرلي غوندې په کال کښې راځي

زړۀ کښې بې تا نه بل څوک نه ساتمه
ګنې ډېر ښکلي مې په خيال کښې راځي

په هر حالت کښې زړګے جمع لره
مينه هم نه غوارم، په سوال کښې راځي

ملګرو ما حاتم طائي وګڼئ
که محبت چرې په مال کښې راځي

دا رناګانې دې په مخ کمې دي
دا تيارې تولې ستا په خال کښې راځي

موسمه نورې غرغندې بلې کړه
په ما مئين به په هر حال کښې راځي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



داسې تالې وهي په لاره چې ځي
لکه چې خوا له مې په تال کښې راځي

که اباسين کښې غورځنګونه ګورې!
په پسرلي او پشکال کښې راځي

___***___

## فنکار

شينکے د زمکې نه، باران زېږوي
انقلابونه فنکاران زېږوي
په پښتنو کښې د سړو سړي دي
په هر قدم قهرمانان زېږوي

___***___

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

ستا غتې سترګې شامُدام په ما پسې دي
دا تورې بلاګانې له هر بام په ما پسې دي

دا څۀ جادو دې اېښے دے زما په شخصيت کښې؟
ټولګي ټولګي چې ښکلي د باګرام په ماپسې دي

يو شپه مې ستا په سپينه لوښه کښې تېره کړې
تر اوسه خوشبويانې ګام په ګام په ما پسې دي

د حُسن ښاپېرۍ څکه رادرومي استقبال ته
بې شمېره ملائيکې د الهام په ما پسې دي

اے سره! د خپل ځان دپاره سوچ په تا حرام دے
اوس ډېرې اروزګانې د خپل نام په ما پسې دي

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

هر څوک زما غونډۍ ساده نهٔ وي چې زيار وباسي *
خلق پښتو مښتو په تندر ولي کار وباسي

دا استحصال دے د پردو که بې حسي ده زمونږ
څهٔ چل خو شته دے چې توبې مو هر سالار وباسي

دوئ هر منزل ته په لنډو د رسېدو قائل دي
پښتانهٔ څکه په سمسور پټي کښې لار وباسي

د داسې باغ به اخر څوک وي چې پالنه وکړي
چې ترې ماليان پخپله بوټي مېوه دار وباسي

دا چې په ځائے د محبت په زر او زور پسې ځي
د وخت د پوزې نه به څوک دغه مهار وباسي

سکنيه وروره! د شين سترګي په ښېو مهٔ پرېوزه
لالا اېتم هرې غوټۍ نه د کوکنار وباسي

چې به درخو د پښتونخوا ورته بلې ساتله
آدم لګيا دے د رباب نه هغه تار وباسي

---

* زيار وباسل، هڅه کول، کوشش کول، محنت کول

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



محموده چرته ئې لړ راشه ننداره خو وکړه
اياز دې ګوره تېرې کرېکې په بازار وباسي

يقين مې نۀ شي که بل څوک دغه معيار ومومي
چې خپل وطن له کومه وينه قلمکار وباسي

ياران خو پرېږده دشمنان ئې هم په ځان مئين کړۀ
ستا اباسين خلق په دې جرم له ښار وباسي

***

## پېرېان

احساس راله وېريا په نګارونو غورځوي
يو حُسن دے چې ما لۀ ګړنګونو غورځوي
شايد چې د مازغو نه ئې پېريان راکوزوي
دا ځنې ځنې خلق په سرونو غورځوي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

ته په زمکه قدم نه ږدې په هوا ځې
ما په لاره مزل خوبښ کړلو يواځې

نۀ پوهېږم چې وږمه* ئې که نغمه** ئې
چې ګوګل ته مې د سترګو نه پۀ غلا ځې

انتظار کښې دې د کال هومره شپه وخورم
تۀ د پرخې غوندې تښتې په سبا ځې

لازمي به پښتونخوا غوره کوومه
که د مرګ نه پس چا ووئيل چې بيا ځې؟

حوصلې مې تولې بند په بند ماتيږي
زما زغمه جوړې نن خو په رښتا ځې

---

* خوشبوئي
** ساز، سرود، ټنګ ټکور

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



که مرداري خوري کارغان ملګري ډېر دي
په حلال پسي به باز غوندې تنها ځي

د سپوږمۍ په شپه اسمان ته لمغرې کړي
اباسين له به د ستورو په رڼا ځي

***

## رهبر

ماته زما په حواله سره خبرې وکړه
ګنې د پورې دېواله سره خبرې وکړه
بيا دې اولس ته د پښتو پښتو وعظونه کوه
اول دې ورشه د کاله سره خبرې وکړه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

د انا په سولۍ ځانګمه په دار یم
د خپل ذات په دشمنۍ کښې ګرفتار یم

ګلشنونه مې له زړۀ سره سیالي کړي
ستا د حُسن د سپرلي نه لاله زار یم

د تقدیر نه ګیله نه کوومه خدایه!
دا کمَرې خورم په دې چې مېوه دار یم

محبت زما د عمر سره سم دے
د رېدي غوندې د ښتې نه بیمار یم

هسې ډوب یم د ژوندون په کشالو کښې
خو د مینې محبت کار ته وزګار یم

اباسین له ګلبدن راځي پخپله
په والله که د پیې مخو منت بار یم

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# ښي نومه*

اے پۀ شلېدلي شان تمبو کښې وسېدونکيه ګله
اے پرستان ته د غارونو نه راتلونکيه ګله
چې پۀ کړنګ ژمي کښې مې ستا ليدل تتر مات کړي
داسي څوک شته چې ستا د خوار نصيب نظر مات کړي
ښېچې ابلې ښېچې، په سر تور سر بوجۍ په غاړه ګرځې
په ويره ويره د بنګلو په غاړه ګرځې
په ډېرانونو کښې د رزق په لټون سر ئې
په هلاکت کښې په لټنه د ژوندون سر ئې
راته انسان وحشي ښکاره شي چې تا ووينمه
دا زړۀ مې غوڅ غوڅ شي اوره شي چې تا ووينمه
راته د جنګ يو وحشت ناک شانې تصوير جوړ شي
د روح دنيا کښې مې غوغا جوړه شي وير جوړ شي
ستا په ورکوټي مخ چې لا د ماشومتوب سپوري دي

---

* د فرورۍ په مياشت کښې يو سحر په خړه کښې زما د کور د ورۀ تلې وغږېده چې زۀ ورغلم نو د دولس ديارلس کالو يو ماشوم چې د ځوانۍ نه هېر غونډې ښکارېدو لوړېو وهلې څېره، ښېچې ابله ښېچې او په يوه جوړه جامو کښې زما مخې ته ولاړ وو. ما ترې نه تپوس وکړو چې ولې بچے؟ هغه په ويره ويره په کمزوري اواز ايله دا تکې وونيلے شو ماما! ډوډۍ شته.

دې دردناکې واقعې په نهره زۀ په قلم راخستلو مجبور کړم. څۀ په سلګو سلګو مې دا يو څو ټکي وليکل. خدائے خبر چې دا به د هغۀ د ژوند اظهار وکړے شي او کۀ نه؟

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



لا دې په سترګو کښې د مور د مئينتوب سپوري دي
په هر يو ورۀ کښې سر ښکاره کړې چې ګند شته دے کنه؟
درته دې نفس لګه تنور لمبه لمبه دے کنه؟
څوک چې دې ورتې نو زر ترېنه ډوډۍ وغواړي
په وړه خُله باندې وړه وړه روپۍ وغواړي
دا ته په کوم جرم کښې ژوند داسې ذليل تېروې
دا دومره سختې اخر تۀ په کوم سبيل تېروې

چې د تمبو بچې په خړه ډېرانونو ته ځي
د بنګله وال بچې پجېرو کښې سکولونو ته ځي
چې د خېمو بچې ډېران کښې کاغذونه ګوري
نو د محل بچې لګيا وي کتابونه ګوري
چې د شته من بچې عېشونه عشرتونه کوي
نو د خېمو بچې ډوډۍ پسې ويرونه کوي

اے د تهذيب او سړيتوب علمبردارو واورئ
اے د اسلام د عظمتونو دعوېدارو واورئ
ګُردواره غلې، دهرمسال غلے او چرچ اودۀ دے
لږ راته ووايئ د دې بدبخته جُرم څۀ دے؟
دا ګوډاګے چې نن حجره او جومات نۀ پېژني
دا څنګلې چې هډو ګټه بېلات نۀ پېژني
دا زما هغه جنګ زپلے تنګيالے بچے دے
چې نن بې کوره بې وطنه دے پردے پردے دے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د دهٔ نیکونو ته دنیا لاس په نامه ودرېدهٔ
د دوئ د نوم نه به ډېر غټ غټ ظالمان ویرېدهٔ
جنګ د سنډګانو کښې دا خوار لکه چیندخ پټې شو
زما بچے ؤ په پردو تېلو کښې لاړ ستي شو

د انسانانو د حقونو دعوېدار څهٔ وائي؟
د عالمي کلي د خان فرمانبردار څهٔ وائي؟

دماشومانو د تعلیم ثناخوانان چرته دي؟
د انسانانو د صحت څوکیداران چرته دي؟
د ملتونو د رزقونو ملائیکې څهٔ شوې؟
درنې درنې به ئې وئیلې هغه سپکې څهٔ شوې؟

زما بچیه! بل څوک ستا بې له ادیب نشته دے
بس خفه کېږه مه په مونږ کښې څهٔ تهذیب نشته دے
ډک پېښور کښې ستا د ټوک ډوډۍ نصیب نشته دے
قسم په خدائے چې دلته ستا نه بل غریب نشته دے

چې ستا د اُوښکو او سلګو نه پسته نیت به څهٔ وي؟
چې ستا د مور او پلار د سرو وینو قیمت به څهٔ وي؟
تهٔ چې را لوئے شې نو چې ستا انسانیت به څهٔ وي؟
تهٔ چې ئې مونږ ته به کوې هغه نفرت به څهٔ وي؟

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ستا چې د غربت نه په څوانۍ اور لګېدلے دے
داسې راته ښکاري په سپوږمۍ اور لګېدلے دے

نمر د ستمونو بهٔ نور څومره راتيتيږي لا
خدايه! د انسان په ککرۍ اور لګېدلے دے

ربه زما کور سوزي خو کلے مې بچ وساتې
وينې به زما د کور بلۍ! اور لګېدلے دے

مونږه محبت هغې مقام ته رسولے دے
چرته چې د کرکې په خانۍ اور لګېدلے دے

مونږ په نغري کښې اور غوښتلو په تالي کښې نهٔ
خلقو ته د لاسو په نوږۍ اور لګېدلے دے

هر سړے د ترهنده* هوسۍ غونډې په تېښته دے
راشه کنه! وګوره نړۍ اور لګېدلے دے

---

* ويرندوکې، ويرېدونکې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



مونږه به دورانه خپل سبا ته اخر څۀ وايو
سوزي د چمن غوټۍ اور لګېدلے دے

داسې دهقانان يو چې په په وينو اوبۀ خور فصل
درمن ته راټول شو په دلۍ* اور لګېدلے دے

اوس د اباسين چپې چپې ته محتاجي کوه
وينمه په شونډو دې سلګۍ اور لګېدلے دے

———***———

✷

دا تياري چرته جارو کړه لږ اسمان راته ښکاره کړه
چرته ئې او چرته نۀ ئې لږ خوځان راته ښکاره کړه

———***———

* توپ، ډېرے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# خپله خاوره

څلور قونجه دنیا کښې په ما ګرانه ده دا زمکه
دا ځکه چې سلطانو کښې سلطانه ده دا زمکه

زمونږه د ترون مزي اومۀ نۀ دي پاخۀ دي
زۀ یمه د دې زمکې نه، له ما نه ده دا زمکه

دا هم ده چې بې شمېره ملغلرې لري تل کښې
دا نۀ ده چې په تله کښې ارزانه ده دا زمکه

دا سازو ته سازونه دي ګلرنګو ته ورمه ده
چې وران ګورې په هغو باندې ورانه ده دا زمکه

تیارې که له هر لورې راخورې شي تر ورمے شي
د میاندو په دعا باندې روښانه ده دا زمکه

دا خاوره زېرول به هسې څان زهیرول وي
په تولو روحاني خویونو خانه ده دا زمکه

رسا لۀ سکندره، له اورنګه تر فرنګه
پیاورې په تاریخ کښې را روانه ده دا زمکه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زۀ هسې په شمله کښې د غانتول ګلونه نۀ ږدم
راغلې مې بابا ته د بابا نه ده دا زمکه

سپوږمۍ او ستورې څۀ کړې چې دا نمر به ورله راوړم
زړګي ته رانژدې مې له جانانه ده دا زمکه

تاریخ په دې ګواه دے د چا ور خته پرې نۀ شي
ساتلې فرښتو تل له اسمانه ده دا زمکه

هر څوکه په ظاهره بې زبانه ده دا زمکه
مدام د اباسین غوندې ګویانه ده دا زمکه

———***———

## بلا

ګل که ډېر حسین دے د بورا سره ځواني ده
ستا سره که حُسن دے زما سره ځواني ده
هيڅ په سترګو نه وينو هر لورې ته تيارۀ ده
مخ مو د حالاتو د بلا سره ځواني ده

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

دا څۀ د غرغنډو په رنګې شور دے په سینه کښې
دا زړۀ دے که ښتکورے* مې د اور دے په سینه کښې

زما پرهر پرهر ځوانۍ ته وخاندي او وائي
په شونډو کښې مې پښې او تکور دے په سینه کښې

تول ښکلي داسې نۀ دي دا به ستا منافقت وي
په رنګ ئې لکه حوره زړۀ دې تور دے په سینه کښې

ازغي ستا د یادونو مې بېدار ساتي ښخېږي
ګلبڼ د ارمانونو مې سمسور دے په سینه کښې

مُلا! زۀ بت شکن یم خو سجدې ته مې راکاږي
کافر مې درنه نۀ کړي يو انځور دے په سینه کښې

* د لرګي هغه غوټه چې د هر طرف نه پرې اور بل وي خو زر نه ایره کیږي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ویرېږم چې د تلو سره ئې ساه ملګرې نه شي
تر اوسه مې د هغې سلګۍ کور دے په سينه کښې

ياران خو دې ياران دي چې ماران هم غاړې باسي
داستا خو اباسينه بلها زور دے په سينه کښې

***

## اسرافيل

ټول جهان په زلفو کښې راګېر کړه چې اوده شي
بس دے اسرافيله غږ دې تېر کړه چې اوده شي
ته دې د بچو ترټقې اورې مورې زمکې؟
نوره ترېنه غېږه راچاپېره کړه چې اوده شي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

کوم سړے چې د نفرت په زنځير بنکېل* شي
ژوند هغه ته په مثال لکه د جېل شي

په زړګي باندې ئې خنګه پاتې مېل* شي
ستا لاسونه چې ئې غاړه کښې امېل شي

ستا نامه به ترېنه خېژي په شپېلي کښې
که هډونه مې د وخت په خلهٔ کښې شپېل شي

نشې داسې د ځوانۍ نه چاپېرېږي
لکه ګل د سرو لمبو غېږې ته ګېل× شي

* دواړه بنپو نه ګېرېدل
* خيرے، زنګ
× غورزېدل، پرېوتل، ګذارېدل

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زړۀ او ذهن ته حېران يم د مودو نه
لکه دوه ورونه په يو کاله کښې بېل شي

چې د سر ویره لرې سردار به نۀ شي
سر چې کېږدي په تلي کښې نو سر خېل شي

انسانانو ته چې لار د مينې ښائي
اباسين دې هم د هغې ډيوې تېل شي

_____***_____

## وطن

امن ورېمه د ګلاب، جنګ د سور اور په شان وي،
قامونه ريبي نفاق، لکه د لور په شان وي

د محبت د خُلې نه داسې اواز راخېژي
خاوره د مور په شان وي، وطن د کور په شان وي

_____***_____

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# بېخودي

(د علامه اقبال په ۵۴ تلین)

د مغرب پلک ته په زړۀ له سندان کلکه
تا حکیم د خپل اُمت ګڼم بې شکه
ستا شرې ته ډېر شالونه لوګے کېږي
په خپل ځان پسې مدام له ځانه ورکه
د وختونو شرمخانو ته دې پام ؤ
چرې چرې غافل نه وې له کنډکه

د خوشحال بابا د فکر انډیواله
د مشرق دغونډې مونډې زنې خاله

تا په کاڼو کښې کرلي ایمانونه
تا سینه کښې ګرځولي طوفانونه
خپلې وینې دې تېل کړې دې لمبو ته
په هر ګام دې رڼا کړي مشالونه
د خودۍ په براق سور ئې ګرځېدلے
د اسمان نه دې راوړي دي فکرونه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



فن دې پاک دے د سرو سپینو له جنجاله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

دا چې نن په کوم وطن زمونږه جنګ دے
دا خو ستا د تصور په وینو رنګ دے
د دولت په انبارونو خړاوې دي
د هر چا په زړۀ دوران کرلے زنګ دے
څوک د خپلې قرقرې په نشه مست دي
څوک اجرک ځنډوي چا راښکلے لنګ دے

خدائے ته وګوره دا قام بوخه رڼا له
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

د قامي سوچ تصور لمبې لمبې دے
سوچ د هر چا د خپل ذات تر دائرې دے
اعلی ظرفه سړے چیت کم ظرفه دنګ دے
په هر ګام باندې یو جنګ د مرتبې دے
ستا وطن ښکلې د سرو زرو مرغۍ ده
د هر چا لاس کښې لینده ده وریسې دے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



مونږ راخستې ستا په کور پسې کوداله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

د سرمست او شاه لطيف ځامن کاڼه دي
د خوشحال او د رحمان بچې اوده دي
اولس نن د شکر ګنج په لاره نه ځي
د حمزه د خلقو هم رنګونه مړه دي
د سلطان باهو اولاد د "هو" نه پرېوت
خپلو ژبو پسې ټول تالا ترغه دي

څه خبر ئې د شاهين بچو د حاله؟
د مشرق د غونډې مونډې څنې خاله

ککرې شمېرلے کېږي تَلل نشته
جهالت کښې ترې سپېره نظام بل نشته
مسئلې مو ټولې ورانې ماشورې شوې
ګُنجلکې دي بيخي ئې څه حل نشته
حق چې وائي په خپل کور کښې دې مل نشته
غلا به وشي خو چې ګورې نو غل نشته

د دشمن توره راځانګې له دېواله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



نور د دې نه به حالات ښومره سنګين شي
دانګريز جوړ کړے نوم چې په ما تين شي
پنجابے دے بلوچے دے که سندهے رور
د هغوئ دنوم چرچې په چين ما چين شي
شمالي نه مغربي نه سرحدي يم
که دا حال وي په والله کۀ مې زړۀ سپين شي

ستا وطن کښې زما نوم نشته دے لاله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

مير جعفر او مير صادق مو په کاله دي
کتاب نه پېژني تول په حساب مړۀ دي
ژبه وَر دلته له ژبو اوېزان دي
سترګور پکښې بې سترګو شول ړاندۀ دي
يۀ خوا دل شو د حالاتو په مېچن کښې
بله خوا مو نغري د کور ساړۀ دي

لا مو صبر زړګے نۀ دے له بنګاله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



سمرقند او بخارا که بدخشان دے
فلسطين دے که عراق دے که ايران دے
ټول په وينو کښې لت پت دي ساه په ساه دي
بوسنيا ده که کشمير دے که افغان دے
د خودۍ په معنه پوهه نه دي څکه
دا سلوک ورسره داسې د حېوان دے

اخر څۀ راسره پاتې شول سبا له
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

د کابل غمونو وخوړو زاړۀ کړو
چې شپخانو يهوديانو ته ګاڼۀ کړو
دومره اوښکې هم زمونږ په تن کښې نشته
چې چاپېره پرې د جنګ لوګي ساړۀ کړو
يو د خېټې غم د دين دنيا نه ويستو
غواړو "خېر" مهاجرين چې پرې ماړۀ کړو

په تمبوانو کښې د لوږې نه پرکاله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زۀ هر ګز مایوسه نه یم د دې قام نه
زۀ رڼا ورکووم مخکښې د ماښام نه
عالمان څکه په کاڼو باندې ولې
دوئ ملانو ویرولې د اسلام نه
دښمنان په اباسین باندې لاهو کړې
خدایه وساتې وطن د بد انجام نه

زۀ شاعر یم نور به څۀ وکړم اقباله
د مشرق د غونډې مونډې زنې خاله

———***———

✷

اے پـه زړۀ سـنګینې لېونـې زمـانې واوره
مـا کـه سـیتار بیا مونـدو نـو بـیا تـرانې واوره

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

زړۀ چې مات شي نو بيا څۀ شي ته محتاج وي
د چُور شوې آئينې به څۀ علاج وي

خدايه ما په محبت کښې لېونے کړې
بې جنونه به د مينې څۀ معراج وي

نور به څۀ وکړي فکرونه به مې شور کړي
که د وخت د خاموشۍ دغه مزاج وي

زۀ ژړېږمه او خلق راته خاندي
د دې کلي به هم دغسې رؤاج وي

دا دشتونه په خلوص باندې ماړۀ کړه
اباسينه په وطن کښې به دې راج وي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

د جانان ځکه هر نظر کور* دے
زما په سترګو کښې د نمر کور دے

د پېنځېبونو نه دې زړۀ صبر کړه
زما رسا د غرۀ په سر کور دے

ستا تولې ګوتې د کالو نه ډکې
منګول دې نه دہ د زرګر کور دے

اوړے مې تل په دير او سوات تېرېږي
زما په ژمي پېښور کور دے

چې ترينه سر شوک سلامت نه شي وړے
د جولاګي که جادوګر کور دے

* روند، شمکور.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



لکه ګهرې په خپل مدار کښې ګرځم
زما د ټول عمر سفر کور دے

چې ترې د اوښکو سېلابونه راځي
زما ګوګل د سمندر کور دے

لکه غوټۍ دے په مېنځ تق چاودلے
زما د زړۀ پرهر پرهر کور دے

چې په نامه د پښتونخوا يادېږي
د اباسين په هر ډګر کور دے

———***———

## غرځنې

زۀ د خپل احساس سېلو زېلے زېړ ووم
مېنې داسې را ژوندے کړم لکه مړ ووم
محبت لکه هيره خراش تراش کړم
زۀ کۀ هر څو غرځنے ووم شاړ شبړ ووم

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ما له د حُسن د سپرلي نه انتخاب راکړه
یوه شپېلۍ راکړه او بل راله رباب راکړه

واعظه ته پرې په دلو دلو عذاب راکړه
ساقي خراب شومه یو دوه ګوټه شراب راکړه

اوس د یادونو د موسم له سور انګاره راغلم
لږ غوندې ځائے راله په سیوري د نقاب راکړه

د کلي خلق راته ټول په تماشه ولاړ دي
سُور لازمي نۀ دے خو پاڅه یو ګلاب راکړه

د سپرلي شپه ده قلارے دے، د سپوږمۍ رڼا ده
نن به ئې لولمه د یار د مخ کتاب راکړه

شکر ګذار یمه په دومره بې پایاوه مینه
ماله د دغې اباسین زغملو تاب راکړه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

ډېر که وینځي سروکے
رقیب قجیر دے توکے

ژوند مې ریښې ریښې دے
سم لکه زوړ زړوکے

یار کېمل خېل په خوئ کښې
زهٔ د شینګرۍ وړوکے*

په خوب کښې ما تښنوي
د چا رېښمین ښتوکے

په اوګو بار ګرځووم
تل د ګناه پنډوکے

---

* کېمل خېل جنګ بېروي او د شینګرۍ (یو کلے) ماشومان ډېر ادب ناک

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا د جانان وروزه ده
که نۀ کوچنے لړُوکے ×

زۀ په سپلمۍ ګښي ګبین
ته د حلوا هډوکے *

که دي غابښونه برېښي
همېشه خوره تروکے *

زۀ اباسين د پښتو
تۀ د باران ډنډوکے

———***———

× وړوکے لوړ.
* دوه متلونه.
* تریوکے یا تروکے، یو بوټے. چې کله د څۀ تریو ثیز خوړلو سره غابښونه بریښي او د دغه بوټي یو دوه پاڼې وجویې نو ښېخي روغ شي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا د جانان وروزه ده
که نهٔ کوچنے لړُوکے ×

زهٔ په سپلمی کښې ګبین
ته د حلوا هډوکے *

که دي غاښونه بربښي
همېشه خوره تروکے *

زهٔ اباسین د پښتو
تهٔ د باران ډنډوکے

———***———

× وړوکے لور.
* دوه متلونه.
* تریوکے یا تروکے، یو بوټے. چې کله د څهٔ تریو ښیز خوړلو سره غاښونه بریښي او د دغه بوټي یو دوه پاڼې وجویې نو بېخي روغ شي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## (۲۸ مئی ۱۹۹۰ء)

(دکوئټې پښتو عالمي کانفرنس ته د تګ او رسېدو په وخت)

څۀ داسې د خلوص سیلۍ را الوځي چاپېره
ما ولیده په لارو کښې دشتونه ګلزارونه

د مینې او خلوص نه ډکه پکه ناسته پاسته
خبرې ئې وړمې نولي او زړونه ګلزارونه

د کوئټې د ښکلا به درته کومه کومه وایم
په هر طرف چې ګورې منظرونه ګلزارونه

تر اوسه سیاست رایوځائے نه کړو هائے افسوس دے
ادب به مو یو موټے کړي ذهنونه ګلزارونه

د لر، بر او د سوېل نه کړه دا تورې کرښې ورانې
اے ربه! پښتونخوا کړې ګلزارونه ګلزارونه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

انګور سره یاري ده که د بنګ سره یاري ده
د مستو خو د ژوند د هر یو رنګ سره یاري ده

بورا په تورو شونډو د ګلونو بوسې اخلي
د شمعې چې په ډاګه د پتنګ سره یاري ده

ګلاب چې په چمن کښې واز ګرېوان خاندې بلبل ته
د حُسن د بادشاه چې د ملنګ سره یاري ده

دا څکه ګور او ګور او پېښور درې واړه یو دي
زما د باباګانو د اورنګ سره یاري ده

جبین له غوارې ستورې او سپوږمۍ د غاړې هار له
زما د یوه داسې شوخ و شنګ سره یاري ده

ګلونه مړاوي کیږي د پښتو په ګل دره کښې
ستا څنګه اباسینه د غورځنګ سره یاري ده

ته اے د پښتنو پښتونه خدایه رامدد شې
د ژوند په اباسین کښې مو نهنګ سره یاري ده
۱۹۹۸ء

✹✹✹

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK


***

ځوک چې زهر ګام په ګام د خپل مزل خوري
دے به قند د محبت لۀ کوره تل خوري

اصیلان په محبت باندې پوهیږي
کمینه خلق د خپلې لارې مل خوري

زما قام د جهالت نه په امان کړې
یو بخرے په میلونو لوئے ځنګل خوري

سبل چنچنې د زمري ځرمن وکاږي
دا جونګړه به یو ځل دغه محل خوري

ځوک چې تشه ککرۍ لکه حباب وړي
د نرۍ سیلۍ څپیړې په ګوګل خوري

چې مدام له د غفلت په خوب اودۀ وي
ډمامه غوندې په سر باندې وهل خوري

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



اے زما د پښتني مسلک يارانو!
سمسور باغ راله په توره خُله مُغل خوري

رهبرانو راله قام داسې تالا کړو
لکه ونه چې خپل لاندې چاپېرچل خوري

دشمنان به اباسين کښې لاهو کيږي
مينه وال به شيريني ستا د غزل خوري

کال ۱۹۹۸ء

———***———

## د هوا په چپو

د ځـيـگر واره پرهـرونه مې راياد کـړي راتـه
څـوک چې د مينـې دوه لفظونـه هـم ارشـاد کـړي راتـه
چې د هـوا پـه چـپو مسـتې ښـاپېرۍ را درومـي
د دې اولـس بـچې بـچې بـه مې بـرباد کـړي راتـه.

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

تۀ راشه ورته ګوره په کوم حال دي پښتانۀ
په خپله بربادۍ باندې خوشحال دي پښتانۀ

مدام د جهالت په اور کښې سوزي لېوني
هر څو که په غېرت کښې بې مثال دي پښتانۀ

زور کوي لوندې ته چې ئې وچې ته راکاږي
والله چې زړۀ مې وچوي د کمال دي پښتانۀ

يووالے اتفاق ورسره نشته هائے افسوس
د مچ مېږو نه زيات که آل په آل دي پښتانۀ

خپلو کښې د شګو غوندې نه رايو ځائے کيږي
دشمن ته چې را يو شي نو دېوال دي پښتانۀ

په پټو سترګو ځان په اباسين لاهو کوي
بې شکه چې د غرونو په مثال دي پښتانۀ

کال ۱۹۹۸ء

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

مخ راځرګند کړه د پردې نه ووځه
اظهاره نن خو مې د خلې نه ووځه

مونږه د عقل فلسفې نه منو
د لېونو د بنارېې نه ووځه

سړو ته پرېږده د سړو خبرې
پښتنې! پاڅه د حجرې نه ووځه

غوښتل د مينې په مذهب کښې نشته
د عاشقانو د پرې نه ووځه

ولې زما نشه کښې خار اچوې؟
بدمسته څه! د مېکدې نه ووځه

د زړهٔ کندړ دې راله کنډ کپر کړو
سلګۍ ظالمې د سينې نه ووځه

زهٔ به دې هاله لامبوزن ومنم
د اباسين د دې چپې نه ووځه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

مدام چې توره په مرۍ د هر يو يار راکاږي
چې داسې خلق خو، سړے په سر د دار راکاږي

حالات زما د لېونتوب امتحانونه اخلي
زما د ګوتو نه تصوير زما د يار راکاږي

هغه به څۀ د احساساتو نزاکت پېژني
دا خپل ضمير چې لېتي پېتي په بازار راکاږي

زما له خُلې به ژبه وړې لمبې نۀ را اوځي؟
چې زمانه راله احساس په سور انګار راکاږي

چرته يو نيم پکښې د قام په زړۀ کښې ځائے ومومي
ګنې په لاسو باندې کرښې هر فنکار راکاږي

نور به څۀ وکړې خو لږ نور به مې هم وځلوي
لکه زرګر مې په هډونو تنه کار راکاږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



خلق ئې څۀ رنګه دعوې د ولایت ومني
دغه چې تنده په درشل د هر دربار راکاږي

د خپل مقام د تعین په معنه نۀ پوهېږي
د اباسین په مخ چې کرښې کوم هوښیار راکاږي

***

(دا مقطع ما ته ښاغلي محمد سعید سعید د غزل لیکلو دپاره راکړې)

## مدهوشي

چې صحراګانو ته دې وويستمه
وحشته اوس راله څۀ لار پيدا کړه
ساقي ستا جام راباندې نه چليږي
چرته تصوير زما د يار پيدا کړه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



❋❋❋

دې خپل سوچه، سپېځلې، سپين، ساده، نيت سوے يمه
خلق نفرت سوزوي زۀ محبت سوے يمه

کړمه خوږو خوږو يارانو لېونے سپېلنے
زۀ د زېبا زېبا ګلونو نګهت سوے يمه

مئين مې ځکه اوس ايرې د زړۀ په پيشکو کښې وړي
چې د لمبه بنائست عبادت سوے يمه

چې د حالاتو غرغنډې رانه چاپېره چورلي
لکه ختکورے د هر لور نه غربت سوے يمه

که ستا په سر باندې منګے زما په سر چاټې ده
ته مې ستې کړلې خو زۀ هم ثابت سوے يمه

تل د حالاتو لوغړنو سترګو نه يم سوے
د خپل غندل احساس نزاکت سوے يمه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په ما کښې خپله هم لمبه لمبه ځواني پرته ده
لکه ګوګړ په معمولي حرارت سوے يمه

ملګري وائي چې اوبۀ د اباسين بليږي
زۀ که چينار ووم خو د سروې قامت سوے يمه

——***——

## نعمت

زړۀ به مې صبر شي د خپلې خلې نه لاړه راکړه
په دومره اوږد سفر ځې نو لږه غاړه راکړه

څوک چې نفرت کړي نفرتونه په هغو پېرزو کړه
ربه! د مينې نعمتونه ماله واړه راکړه

——***——

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# ايمال*

چې د مزدور لالي د مخ نه مې ايرې څڼيږي
چې د دهقان مسکين په پوندو کښې منګوڼ* لنګيږي
چې د يخنۍ نه د مالي غريب بچي شوشکيږي×
د حق پرستو د تنو نه ککرۍ بڼيليږي
د تهذيب پنجې د وګړو په مرۍ ښخيږي
ټول انساني قدرونه سپک شي له نظره لويږي
چې د نرخونو د اسمان سره خبرې کيږي

جمهوريت ته په دې خاوره کښې رنځور وايمه
ملګرو پرې مې ږدۍ ربنتيا خو به ضرور وايمه

چې جاهلان د زمانې شي سرداران د وطن
پاتې به چرې سلامت نۀ شي ګريوان د وطن
په انسانانو راګډ شوي دي ليوان د وطن
زمکه خو زمکه ده چې وئې خوړ اسمان د وطن

---

* ګليشيئر، چړې، کله چې د غرۀ نه واوره راخوښيږي نو د خان سره ونې، بوټې او کاڼي رغړوي.

* کټمل.

× ژامې ګړېدل، لاس و ښپې ريږدل.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په اور کښې سوزي نن د پوهې خاوندان د وطن
بې له فنکاره بل شوک نشته دے درمان د وطن
لوګے لوګے شمه، ستي شمه، قربان د وطن

اولس خشاک ګنم وطن ته به تنور وايمه
ملګرو پرې مې ږدئ رښتيا خو به ضرور وايمه

دا په لکونو مريضان دا په کروړونو وږي
پراته په وينو کښې جب جوب لګيا دي پوندې مړي
د لوږو تندو نه ئې سوي دي اينې او سګي
د دوئ سکون له د وسلې هومره پېسه نه لګي
احمق انسان ځي د بارودو په لور جګي جګي
سپوږمۍ نه کاڼي شګې راوړي راشي وږي تږي
يو دندو کار دے اوربدونکو له هم زړونه کوږي

دې ته به زۀ د روحاني دنيا ناسور وايمه
ملګرو پرې مې ږدئ رښتيا خو به ضرور وايمه

ما په نهرو لوږو تندو ضمير ويښ ساتلے
زۀ بېدار شوے يم چې کله مې تيندک خوړلے
زۀ غرځنے يمه ساده باده يم سپين سپېڅلے
ما د ښۀ سالې پښتنې ابۍ نه تے رودلے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د زړهٔ چاودون سره مې ځان ته يو منزل تاکلے
ما د وطن د کاڼو بوټو سره پت پاللے
زما په سر کښې منصوري خيالونو موج وهلے

که څوک مې سر قلم کوي يمه مجبور وايمه
ملګرو پرې مې ږدئ رښتيا خو به ضرور وايمه

کال ۱۹۹۵ء

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

ګل به وي، نسيم به وي، دلبر به وي
زۀ چې ويلي کېږم نو سحر به وي

پام کوه جانان د يؤ نه زيات نه شي
زړۀ به دې کعبه نه وي مندر به وي

سر ئې د تنې نه جا بېل کړے دے
چرته څوک ولي يا سُخنور به وي

څوک چې د هنر کالے په کور لري
سوال نه پېدا کيږي چې نهر به وي

دومره نزدېکت مې بې وفا نۀ کړي
ياد به دې خفه وي مرور به وي

سر تندے چې نه لګي د ښکلي يار
خدائے زده چې ازار دے که نظر به وي

شعر د ورېمې غوندې بې واکه وي
يا د اباسين غوندې زور به وي

———✳✳✳———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

زما په زړه باندې تصوير د يار وخكلے پروت دے
لكه د سرو گلو د باغ به مينځ كښې ځلے پروت دے

كه رابېدار شو نو دنيا به ترېنه خوب ونۀ كړي
د مينې درد مې په سينه كښې خوبولے پروت دے

دا د شرشمو په اډى* كښې د غانټول گلونه
كه نۀ شلېدلي لوپټه كښې چرته ښكلے پروت دے

دا خو په ما باندې قسمت مهرباني كړې ده
گنې د دوه سترگو ليدو ته دې تږل كلے پروت دے

په اباسين به الله داسې ورځې نه راولي
چې پسرلے دے په وطن كښې او دے غلے پروت دے

***

---

* پتهے، وټ

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

چې انجام به څۀ وي دا خو لا اغاز دے
خپل سپېځلے لېونتوب زما اُستاز* دے

په پَردو دننه سترګې غړوومه
هر يو راز وينم چې ښکلے مې همراز دے

چې په کومه کښې اوس ډز راباندې وشۀ
هم هغې ونې ته بيرته مې پرواز دے

يا سَر غوارمه يا سَر قربانوومه
محبت کښې زما دغه يو انداز دے

هيڅ اثر پرې اباسين د اوښکو نه کا
د قاتل جانان زړګے له کُوټو** ساز دے

***

* استاد.
** کُوټ بنګار.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

سور تاړاق* دے چې په هر يو لوري ګرځم
اوس د خپل وجود په سيوري سيوري ګرځم

د سپوږمۍ په شپه ترې هسې ځان خفه کړم
چې پېنزېب راپسې شاته شوري ګرځم

راښکاره شه چې د خلقو پام بدل شي
په کوڅه کښې راته خلق ګوري ګرځم

په سور هار کښې لوخې* ښيښې په سرۀ غرمه کښې
ستا د مينې لېونتوب مې زوري ګرځم

اباسينه په لمنه مې داغ نشته
د هر خوا نه تهمتونه اوري* ګرځم

_____***_____

---

* سور نمر، سوراړا.
* ښيښې ابله، لغړې/ بربندې ښيښې.
* وريږي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

داسې مې ژوندون لمبه لمبه سوزي
څرنګ چې په دشتو کښې وابښهٔ سوزي

تول عمر پردو غمونو وخوړم
خدائیګو که په ځان باندې مې زړهٔ سوزي

اور د محلونو نه را اورې چې
دې کښې به زما جونګړه نهٔ سوزي؟

ګوره د شین سترګو نظر ماتې له
لر دې او که بر دې پښتانهٔ سوزي

خبر که اباسین دې غرغنده کړلو
عمر له په وچو کښې لواندهٔ سوزي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

په وړاندې لاړمه وختونو کله بیَرته خمه
اورونه بل دي په اورونو کښې به چرته ځمه

په يو حالت کښې بې منزله قدم نه اخلمه
په هره لار چې مې بوځې خو سمندر ته ځمه

زۀ خنجر نه يمه چې نوې پرهرونه کنم
هغه دارو يمه چې غبرګې د پرهر ته ځمه

عظيمه خدايه! په تش لاس جنګ کښې برے غواړمه
غشي لينده راسره نشته دے سنګر* ته ځمه

ته د هوس تندې وهلے ئې سايې لټوې
زۀ د احساس واورو زېلے يمه نمر ته ځمه

* مورچه، د جنګ ميدان.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چرته چې خلق په کلونو يو بل نۀ شي ليدے
موريې! دعا راته کوه زۀ پېښبور ته ځمه

بې اباسينه راته بله لاره نۀ ښکارېږي
که ملاکنډ ته راتاوېږم که خيبر ته ځمه

———***———

## راز

ستا اوازونه مې په غوږو لګي
لکه سازونه مې په غوږو لګي

تول نقابونه مې له سترګو تښتي
پټ پټ رازونه مې په غوږو لګي

واعظه ستا خبرې کله اورم
يو څو لفظونه مې په غوږو لګي

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

ګل ئې ګنمه ګلستان خو نۀ دے
ياره! تصوير دې ستا په شان خو نۀ دے

زړګے مې هسې بې موسمه يخ شو
سترګې مې وګوره باران خو نۀ دے

وې به زما خو پرې اختيار نۀ لرم
دا زما ځان ځۀ زما ځان خو نۀ دے

په جهنم کښې هم تېرېږي ژوندون
د چا په ياد کښې دومره ګران خو نۀ دے

جمهوريت که ډېر ساهو نظام دے
زما د فکر ترجمان خو نۀ دے

چې ګناه پېژنم بيا هم کوومه
دا زۀ پخپله يم شيطان خونۀ دے

د غليمانو هسې ښېپې رپېږي
يو اباسين دے ځۀ کاروان خو نۀ دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

لپې لپې زهر خورمه لا ژوندے يم
راشه راشه د يار غمه لا ژوندے يم

ځان يوازې نۀ پرېږدمه لا ژوندے يم
تۀ به ځې رانه په کومه! لا ژوندے يم

اے د کاڼي جوړ صنمه لا ژوندے يم
که راتلے شې دوه قدمه لا ژوندے يم

اے محبوبې! هسې مه وار خطا کېږه
مړ دې نه يم له ستمه لا ژوندے يم

تيارېږم د منزل په لوري زغل ته
هسې پروت يمه بې دمه لا ژوندے يم

خبردار شومه د مينې د انجام نه
په خندا به دار له ځمه لا ژوندے يم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



سور انګار يمه وړومبي محبت ووي
په ايرو دننه يمه لا ژوندے يم

اباسين د غرغنډو دپاره مرګ دے
د حالاتو جهنمه! لا ژوندے يم

______***______

## مور

د زړۀ په غرۀ کښې مې چينې د محبت رازيږي
په مخلوقاتو مې د مور په شانې زړۀ خوږيږي
د کائنات ذره ذره کښې زرخېزي دومره ده
په يو سبق کښې په زرګونو زنده سر وسيږي

______***______

## فرد

خبره د يوې دوه ورځو نه د زندګۍ ده
د درد او د انسان رشته بې کچه پخوانۍ ده

______***______

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✷✷✷

نازونه ورم خو نازنینه غواړم
د میني وږے یمه مینه غواړم

د تضاداتو نه خوندونه اخلم
غبرګه توده او شپه واورینه غواړم

د مرګ د تور کومي نه نهٔ ویرېږم
خو د ژوندون قیصه رنګینه غواړم

چي ټول ذهنونه رناګاني نولي
دنیا دې دا رنګي حسینه غواړم

که مې د مرګ نه محبت ژوندے شي
زندګي نوره هم سنګینه غواړم

تُوره تورېک راسره خپل پراتهٔ دي
یو بنګلے اس سره د زینه غواړم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې دې د تورو زلفو تور اخلمه
د زړۀ خبره به دې سپينه غواړم

د خوشحالۍ نه مې زړګے ونه چوي
محبت چغې کړې چې وينه غواړم

د دريابې جانان به څۀ وايمه
لکه اوبۀ له اباسينه غواړم

———***———

## زما پښتنه

د اداګانو په باب ده اور وريزه پېغله
په ښکلاګانو کښې ده ډېره غوريزه پېغله
حيا بې شانه لرې، لکه اوتره هوسۍ
بادره هم دومره ده، لکه غرئيزه پېغله

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## حمزه بابا ته چیتي

د پښتو ژبې او ادب په مخ کښې ځير حمزه
زما د قام د مستقبل د خوب تعبير حمزه
تا د شلمې صدۍ ګونګ پښتون له ژبه ورکړه
د دې پېړۍ په باباګانو کښې امير حمزه

په تيتو سترګو غلي ستا انځور ته ګورم
زړه مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

جګه شمله، دنګه غړۍ، په زړۀ فقير بابا
ستا د شعرونو نه جوړ شوے ستا تصوير بابا
زۀ دې د فکر د الوت په اندازه پوهېږم
دا به راوبښ کړي د اودۀ پښتون ضمير باب

خو چې پښتون د بې حسۍ په اوږو سور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

ستا ابشارونه د ګلرنګو وينو ډک بهيږي
ستا د اولس د ککرونه منارې جوړيږي
مونږ د وطن په ځائے د تن خدمت ته ملا تړلې
زمونږ سپېځلي ايمانونه په پېسه خرڅيږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې د خيبر په سر ښکاره شمه سور اور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کورته ګورم

د پښتانۀ د لاسه څۀ په پښتانۀ نۀ کيږي
چې پيښور کښې وسيدو ته مې هم زړۀ نۀ کيږي
زما د قام ځلمي دې "شمعې" "پلوشې" ستې کړۀ
ته اندازه وکړه چې دلته اخر څۀ نۀ کيږي؟

په حيرانتيا باندې دې يؤ يؤ آدم خور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

اخر دا ولې داسې کيږي خاموشي ولې ده؟
زمونږ د ذات په مشادو کښې دوه رنګي ولې ده؟
زما د قام د مشرانو عقل چرته لاړو؟
د دې ځوانانو په مخونو مايوسي ولې ده؟

غندل غندل ځواني دليږي او زۀ پورته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

ستا د اولس د روښان فکرو تخيل سوزي
داسې لمبې راپورته شوې چې هر ګُل سوزي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زما خو ژبه سیاست دے سر لوړي ئې غواړم
نن د ادب او سیاست تر مېنځه پُل سوزي

چې د پښتو ابۍ د مینې ډک پېغور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

چې په کابل کښې د خوبانو ژبې تتې شولې
بابا د ډېرو شاعرانو ژبې تتې شولې،
ټول د غفلت نشه کښې ډوب دي په کاواکو سر دي،
د پښتونخوا د واکدارانو ژبې تتې شولې،

څنګه به زۀ د خپل اولس په مرۍ لور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

تا تصویرونه جوړول او زۀ بتان تراشمه
ستا د فکرونو رغېدلے ترجمان تراشمه
زۀ د وختونو فلسفې له څنه سترګه کووم
زۀ به تر مرګه مې څهره د خپل ارمان تراشمه

وخته تا واوربده کنه؟ زۀ به دې زور ته ګورم
زړۀ مې راډک شي چې دې خپل لُوټ شوي کور ته ګورم

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ستا د کور خوا له مې ځکه هر قدم ځي
دا دستور دے چې په ګل پسې موسم ځي

د زړهٔ راج دے په همه ؤ اندامونو
چې بادشاه چرته کښې ځي اولس به هم ځي

دې له ژاړمه چې سترګې راله ښکل کړې
ستا د شونډو نه زما د شونډو نم ځي

د ښائست پېرے مې ناست دے په ګوګل کښې
نۀ په دُود ځي دا بلا او نۀ په دم ځي

په پردو لارو قدم په عمر نه ږدي
اباسین په خپله لاره باندې سم ځي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

ما له دې ژوند لکه مزدور غونډې نیمګړے راکړو
يو تبرګے دې راکړو بل دې راله پړے راکړو

د زمري زړهٔ دې راکړو، سترګې دې د باز راکړلې
بل دې جانان راله هوسۍ غونډې وېر زړے راکړو

وچ خو لا وچ دي چې په وچو کنبې لواندهٔ هم سېزي
خېټه مې نه ده سم تنور دې لمبه کړے راکړو

بې شانه حُسن، تنګ ټکور او شرابونه وېړيا
بيا خو مې پرېږده چې دا زړهٔ دې ميرات مړے راکړو

د ځان ځانۍ له سپېره رنځه دې بچ و ساتلم
شکر ګذار يم طبيعت چې دې ځانګړے راکړو

✳✳✳

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

دا بدرنګي به د دنيا نه ښائستونه سيزي
داسې لمبې راپورته شوې چې ګلونه سېزي

زما بچې د خپل ماحول نه زده کړه داسې کوي
روپۍ سنبال ساتي په کور کښې کتابونه سېزي

د هغو خلقو نه د خلقو سترګې ځنګ نۀ سوزي
څوک چې د وخت په تنارۀ باندې ځانونه سېزي

د ابۍ مرګ پرېږده کۀ دغه عزرائيل بلد شو
نن ئې حجرې وسوې سبا به جوماتونه سېزي

هغه اولس ته داستانونه د تاريخ وايمه
څوک چې د خپلو باباګانو تصويرونه سېزي

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

که مې تهٔ وباسې زهٔ به راځم بیَرته
ما د خپل زړګي نه مه بوخه بهرته

که ئې نه لولمه بیا ګناهګارېږم
د ښائست کتاب دې ایښے راته بیَرته

د خوبونو نه مې چرې وتے نه شې
ستا تصویر مې لګېدلے د کټ سر ته

چې د چغو اوازونه مې خوک نهٔ اوري
چې زړګے مې ډک شي وخېژمه غر ته

د موجونو غورځنګونو اباسین یم
پرخه نهٔ یمه چې وچ به شمه نمر ته

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

خپل د عقيدې کلي ودان لرم
زۀ په محبت باندې ايمان لرم

زۀ به خپله مينه کښې اخته يمه
زمکه لرم، کر لرم، باران لرم

يم که په جونګړه کښې، بادشاه يمه
ځانله يو دوه درې لوښي اسمان لرم

هيڅ د دشمنانو حاجت نشته دے
دا دشمني لږه ده چې ځان لرم؟

خلق زما حق خبرې نه مني
ځۀ په ملنګۍ کښې دشمنان لرم

يو د سمندر غونډې زړګے لرم
بل د اباسين غونډې جانان لرم

———✱✱✱———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

محبت کول کۀ هر څومره اسان دي
د دې عقل سره ژوند تېرول ګران دي

يو خاورين وجود لرمه ګناهګار يم
خو په سر کښې مې خيالونه د اسمان دي

دوئ چې څۀ کوي د دې علاج به څۀ وي
خدايه دا دې هغه ښکلي انسانان دي

ستا تصوير زما په وينو مکمل شو
اوس زما په مړاوو سترګو پورې خاندي

درنده ؤ کښې زمرے، مرغو کښې باز دے
پښتانۀ د انسانانو باچايان دي

دا دې تول د اباسين غاړې ته ناست دي
که حسين دي، که مئين، که رقيبان دي

✸✸✸

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# مقتل

زۀ په خپل کټ پوزي کښېږ پروت وومه اسمان مې سارۀ
يوه شغله راغله زما په ګرېوانه غوټه شوه
يو ښائسته ښکلي سپين ږيري غبرګ کښېږ ونيومه
پورته په ويږو فضاګانو کښېږ په بره لاړو
هلته ئې زور سينه کښېږ راکړو وې ئې مړ دې کړمه
ما وې قصور زما راوښايه ګناه مې څۀ ده
وې ئې انسانه! ته په خپله د خپل ځان قاتل ئې
دخپل عمل په توره ځان په هر قدم غوځوې
ستاسو عمل ستاسو دښمن دے د دښمن څۀ حاجت
تاسو پخپله له دنيا قصاب خانه جوړه کړه
وې ئې ته ګوره دې اوبو ته څومره ښکلې ښکاري
دغه اوبۀ چې بې د دې نه زندګي چرته ده
خو ته لګيا ئې دا اوبۀ دې زهرژنې کړلې
دغه ښائسته او ګلورينې فضاګانې وينې؟
انسانه! ستا د لاسه اور دے لګېدلے په دې
دغه لوګي چې په ماحول لکه څادر خوارۀ دي
دا ستا د لاسه دي انسانه لږ په هوش کښېږ راشه
دا ونې بوټې چې د ژوند دسوکالۍ سوب دي
ته ئې په دواړو ژامو خورې او څۀ پروا نه کوې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



الله چې واړه مخلوقات رازېږولي دلته
د دغه ټولو يو شان حق دے په دې هر څۀ باندې
خو تاله عقل ئې درکړے دے د دې دپاره
چې هر ژوندي له پکښې خپله خپله برخه ورکړې
خو ظالمانو! انسانانو، جابرانو د وخت
د ميم زرما ټوله زما" د لاندې ژوند تېروئ
تاسو زرکان او تاروګان په ټوپکونو ولئ
د ځنګل ښکلو ځناورو ته پړکې لګوئ
کُړکو، دامونو او لټونو کښې ئې ښېپې ماتوئ
د دوئ نسلونه د دنيا له ګلستان وَرکوئ
چې په ګورتونو کښې ساګانې له چنچنو اخلئ
چې د ګډورو ککرۍ پرتې وي چينګې داړې
چې د ډنګرو کلک هډونه په تبرونو وهئ
تک سرۀ غوښن پتونان ښکاري اوبزان هر ځائے کښې
مهيان چې ووينئ نو سمه پرې غدۍ ګډه کړئ
د ښکلو زانو قطارونه په ګولو ورانوئ
چې رېز مرېز کړئ د غټ سترګو غزالو سرونه
په نۀ خبره د چړګانو چمغړق ماتوئ
دا ټولې غوښې ستاسو کومې ته ورځې ورکيږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د دې دنيا نه مو مقتل قصاب خانه جوړه کړه
په دې وَنه شوه بيا مو ښکار د بنيادم شورو کړو
د روږ عزيز غوښې توږل مو مشغله جوړه شوه
په کومه خاوره چې انسان په طمطراق ګرځېدو
څۀ به ډاډه، په منډو منډو به چاق چاق ګرځېدو
اوس چې قدم ږدي نو د ښپې دالوتو ويره ده
په هر يو ګام باندې د سر توئېدو ويره ده

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ځومره ساه وخکلي ناست يُو
دواړه غلي غلي ناست يُو

ډکې سترګې وچې شونډې
په ګودر د کلي ناست يُو

د سپوږمۍ په ماسخوتن کښې
د ارمان په ځلي ناست يُو

ټول مئين خيرن خيرن دي
مونږه سپين سپېځلي ناست يُو

د يو بل سترګو ته ګورو
شوګيرو وهلي ناست يُو

دالفت په جوارۍ کښې
لکه داؤ بائيللي ناست يُو

خوشبوئي ده، موسيقي ده
خدائزده چرته تلي ناست يُو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ویړ جهان دي خُلې ورکړې
مونږه خُله ګنډلې ناست يُو

جدائي راته يادېږي
څکه زیړ زېښبلي ناست يُو

اباسین چپې چپې دے
ورته ښکلې ښکلې ناست يُو

———***———

## الفت

چار چاپېره په ماحول کښې ځومره زوږ دے
وایه وایه ستا خبرې ته مې غوږ دے
محبت راسره ډېر دے لویه خدایه!
خو دا عمر د الفت دپاره لږ دے

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

په ژوند کښې هغه وخت د کار شي سړے
د بنیادمو چې پکار شي سړے

خوبي ئې څۀ ده چې مېوه نۀ لري
څۀ کۀ په قد باندې چینار شي سړے

چې د وطن په نامه سر نۀ شیندي
د دې نه ښۀ ده چې مردار شي سړے

د دومره حُسن سره دومره مینه؟
زړګے مې غواړي چې در زار شي سړے

د خُلې خبرې وې د خُلې خبرې
سړے هغه چې په کردار شي سړے

هغه به څۀ رنګې ګودر ته رسي
چې اباسین ته ورګذار شي سړے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

پتنګ د ځان پېژندګلې له په لمبو پسې ځي
رڼا تېره توره په لاس کښې په تیارو پسې ځي

څوک چې لاسونه تپوي او قدمونه اخلي
زما اولس په پټو سترګو په هغو پسې ځي

ملګرو کرښه به راکاږو سپیناوے به کوو
چې په کُرسو پسې څوک ځي که په پښتو پسې ځي

هغه سړے به خامخا چرته لېوان ماتوي
څوک چې د غرونو په طرف په لېونو پسې ځي

چا چې بلبل په سترګو هم چرې لیدلے نه وي
نو مجبوراً به د زاغانو ترانو پسې ځي

اوس به تاریخ په اوښکو، وینو باندې نه لیکمه؟
چې د شملو ښاغلي نن په لوپټو پسې ځي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



که څۀ کمال لرې نو سر کانړو ته ټینګ ونیسه!
دلته کښې خلق ژوندي نه مني په مړو پسې ځي

د اباسين غاړې له راشه چې زړګے دې يخ شي
اوبۀ په تږي پسې نۀ، تږے اوبو پسې ځي

___***___

## حسن

وصال کښې هم عادت مې نۀ بدلیږي لا تر اوسه
زما په ګرېوانه اوښکې بهیږي لا تر اوسه
چې ذکر ستا د حسن په محفل کښې چرته راشي
وېښتۀ مې په وجود باندې ودرېږي لا تر اوسه

___***___

## يو شعر

کۀ په راز د کائنات باندې خبر شوې
د خپل ذات د تقاضو مخې ته غر شوې

___***___

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

دا وربخې راتاؤ شوې د سپوږمۍ نه
که پلؤ دې مخ رانیسي د شوخۍ نه

بیا زما ساړهٔ آهونه در په یاد شو
که نهٔ شونډې دې ربړې د یخنۍ نه

چې پرون مې ترې د حال پوښتنه وکړه
پسته نور ئې څهٔ ونه وې د سلګۍ نه

که دې مخ زما نه پټ کړلو پناه شوې
لوپټه خو دې راځانګې د بلۍ نه

بس دے نور دې څهٔ راپورې دې قلار شه
لاس مې پورته کړه قسمته د مرۍ نه

ستا د زلفو تار د زړهٔ په رباب سُر کړم
څهٔ خوږې سندرې اورم د ځوانۍ نه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



تش يادونه دي اشنا په ګوتو راغلۀ
لکه پاتي چې شي رنګ د لولکۍ٭ نه

هسې نه چې د طوفان شکل اختيار کړي
زۀ ويرېږمه د خپلې خاموشۍ نه

ګله تابه پانې پانې کړي خبر شه
اباسين کله ويرېږي د سيلۍ نه

***

## يو شعر

ډالۍ د ترمو اوښکو جام رالېږي
په خپله نۀ راځي سلام رالېږي

***

٭ تاروګے، پرپرکے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

په دنیا کښې د جنت نه خبردار شوم
ایله اوس د محبت نه خبردار شوم

په خوړلن کښې د خوړلت نه خبردار شوم
د جانان د نژدېکت نه خبردار شوم

ډېر لاسونه مې ګرېوان ته را اوږده شول
لکه ګل دخپل صورت نه خبردار شوم

ژوندي چې مې مړی ته شوه رالنده
د ګناه او معصیت نه خبردار شوم

د نفرت پیکه پیکه اینګولي* نهٔ خورم
چې د مینې د نعمت نه خبردار شوم

---

* ترکاري، پخکړے، شوروا.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د ښائست په هر يو پاتکي٭ شوم اتاله*
ياره اوس دې د قامت نه خبردار شوم

د انسان د عظمتونو ثنا خوانه!
په هر کار کښې د مهلت نه خبردار شوم

اوس په ويره باندې نوم د مينې اخلم
چې د عقل د حيرت نه خبردار شوم

د انسان په بې ارزښه باندې ژړېږم
د تهذيب او ثقافت نه خبردار شوم

ملغلرو ته په سپکه سترګه ګورم
چې د اوښکو د قيمت نه خبردار شوم

ستا قربت او جدايۍ په ځان اخته کړم
اباسينه د وحشت نه خبردار شوم

***

٭ زينه، د پوړۍ د يوې يوې ښپې اينښودلو ځائے.
* حيران، ګوته په خُله.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ستا مئين چې ځان ستي کړو په سور تل شو
خو اخر ئې ستا د زلفو سيورے خپل شو

خپل غرور مې خود پرست د زمانې کړم
ستا ښائست مې د جنون په ژرنده دل شو

حېرانېږم چې تر څو به داسې خم وي
زما ژوند شو او دا ستا د زلفو ول شو

د جهان نه به نفرت له مونږه غوښ کړم
که رقيب مې په خلوص د لارې مل شو

د ښائست تنده مې بيا هم نۀ ماتيږي
که ژوندون مې د ګلاب د ګلو تل شو

ځان دې وسېزو د سوز يوه تپه شوې
اباسين دې تمامي غزل غزل شو

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

خدائے ته وګوره ما لړ بوخه رڼا له
اے د سپینې پاغوندې د زنې خاله

وږمې دلته هم را درومې ستا له شاله
ګڼې زهٔ در اوړېدے شم له دېواله

خپلې اوښکې مې یادېږې مودې وشوې
څهٔ بانه راله را وګوره ژړاله

ستا په اوښکو مې د زړهٔ داغونه شنهٔ شول
شینکے راغے بس دے تم شهٔ پشکاله

ګله شونډې دې راپرانیزه ما ویښ کړه
په ازغو کښې درته پروت یمه پر کاله

اوس دتندرسوال کوه چې سر ئې خور شي
په کنډر پسې مې مهٔ راوړه کوداله

اباسینه ګنګخړې په سر واخله
څو تیکونه خو به راوړې پښتونخوا له

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

عبادت دے که د مینې انتها ده
په عمرونو چې مې نۀ وځي له یاده

ما ته ښکلے وائې ګله ستا رضا ده
ستا خلوص دے، ستا پېرزو ده، ستا ښکلا ده

تور تمونه دي هر لوري ته غوغا ده
ستا ښائست مې په تیارۀ ژوند کښې رڼا ده

تر هغې به محبت کوومه خدایه
چې تر څو پورې زما وجود کښې ساه ده

په توکل باندې اسمان ته رسېدے شې
ما یوه خبره زده کړه له فرهاده

چې نفرت کوې په ځان وې بدګمانه
محبت کووم له ډېره اعتماده

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



واعظانو دا په کومو کندو سر یئ
محبت کول په کوم مذهب ګُنا ده

دا خوارهٔ وارهٔ وینسته دي لږ راټول کړه
پرهوتی* سمسوره وُنه کړي برباده

نور د هر یو شي قیمت شته په جهان کښې
یوه مینه بې بدله بې بها ده

***

### وینه

سپینه! یوه خبره سپینه کوه
یا خو نفرت کوه یا مینه کوه
هاله به ورسې د زړونو تل ته
سوچ په شوګیر لیکل په وینه کوه

***

* پرهوته، پروته، یو بوټے چې په دېوالونو او ونو باندې خوریږي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# راشه ابدالي بابا

(۲۲۰ تاسیس)

ګل په کاڼو لګي صنوبر په کاڼو لګي
ستا د پښتونخوا د غرونو سر په کاڼو لګي
هلته به د جنګ او جدل کومه مرحله وي
چرته چې د امن پېغامبر په کاڼو لګي

اوس دلته کښې هر سړے د بل په غوښو پائي
خلق د غليم د ترقۍ سندرې وائي
سرۀ خُلۀ ماشومان په ډېرانونو رزق ګوري
وايه کنه! دا ستا د بچوړو سره ښائي؟

دلته د خپل رور د لاسه خاورې شو ايرې شو
مونږه د مذهب په نامه خلاص له عقيدې شو
مينه خلق نۀ پېژني زړو ته سجدې دي
ګرانه بابا جانه د مرګ خلې ته ورنږدې شو

ساه ئې په مرۍ کښې ده ايله ترېنه دم خيژي
نن دې د ملالې نه د وينو وږم خيژي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ستا د ختکو پتي زرغون کړي مائنونه
اوس د انارونو د ښاخونو نه بم خيژي

دې د مايوسۍ په غرۀ کښې څۀ لاره کېدے شي
ماته هم چل وښايه چې څۀ چاره کېدے شي
زۀ د قام په شونډو کښې شوخي د سپرلي غواړم
دا که مې د وينو په ورستۍ داره کېدے شي

ستا قلم او تُوره دواړه هغسې تېرۀ دي
دلته د ضمير او د احساس مېړونه مړۀ دي
زۀ هم يو پښتون يمه شاعر يمه حساس يم
غرېو ځکه نيولے يمه چغې مې په خُلۀ دي

څوک به څۀ شي په ارام چې بدن سوزي
د وطن نه لوګے خيژي وطن سوزي
مونږ دخپل دوتر بدبخته زميدار يو
د محنت فصل مو تل په درمن سوزي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د چمن وړې وړې تنکۍ غندلې
سبا کله سمسوریږي چې نن سوزي
په هر دور کښې د ړوند ملا د لاسه
زما فکر، زما سوچ، زما فن سوزي

داسې بنۀ ئې په تیارو کښې لاره وینې
اباسینه په رڼا کښې دې تن سوزي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ستا په ښائست به یو بهیر جوړووم یاد ساته
د دې خپل درد نه به تصویر جوړووم یاد ساته

زما عظیمه بابا جانه! د خپل سر په بیعه
دې ښتنو له به تقدیر جوړووم یاد ساته

د چا کوڅه کښې به ئې داسې بې اسرې نه پرېږدم
خپل هر ارمان له به زنځیر جوړووم یاد ساته

ستا په پړونې مې قسم دے ښتنې محبوبې
ستا د دشمن کره به ویر جوړووم یاد ساته

نوابه ستا دیر خو دې خدائے په اباسین لاهو کړي
زۀ به په خپلو وینو دیر جوړووم یاد ساته

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

ربه دا خو ټوله ستا مهرباني ده
ګڼي ما سره نور څۀ دي خو ځواني ده

دا زما په خپل احساس کښې پسرلے دے؟
په بهر دنيا کښې څومره ويراني ده

کائنات راته د خوب په شانې ښکاري
لا تر اوسه مې په سر کښې حېراني ده

هر ژوندے په محبت باندې پوهيږي
دا جذبه لا چا وئيل چې انساني ده

نور هر شے د اور په بيعه دے خرڅيږي
د خولو، وينو او اوښکو ارزاني ده

چې د کفر سترګې ټيټې شي له شرمه
د دې دور عجيبه مسلماني ده

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



خامخا به د الوت وزرې غواړم
دا جذبه چې دې راکړې اسماني ده

لېونے ئې چې پردې غمونه ژاړې
اباسينه ګورې نه! چې ځان ځاني ده

***

## جانان

دا حجاب په مينځ کښې ولې د سجدې دے
رب د غاړې د رګونو نه نزدې دے
چې په لاره باندې ځم ښکالو ئې راشي
شاته وګورمه زر چې راپسې دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

اسمان زمونږ وربخې وخورې بارانونه نیسي
دا مړاوې څانګې به تر څو پورې ګلونه نیسي

په ګرېوانه کښې سر دننه کړم نو ووایمه
ازغي لا بنۀ دي چې زمونږه ګرېوانونه نیسي*

تل ورته ګورم خو رخسار مې ورله ونۀ لیده
پلوُ ترې لرې کړي خو زر ورته لاسونه نیسي

موسمه بیا د انتظار سیلۍ راګډې نۀ کړې
نرې پوتکي** مې د شونډو پرهرونه نیسي

روح مې د حسن د شغلو زغملو چرته کښې دے
چې په ګوګل کښې مې اوتر دے دېوالونه نیسي

ستا اباسین په تورو غرونو کښې هم لارې کوي
دا زمانه به ورته څو پورې بندونه نیسي

***

---

* دا ازغو ونې هم وي
** پوستکي، پتونه، پاړونه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

که هر څو ئې د یادونو سپورے تت دے
د جانان غونډې یو کس مې په محلت دے

زۀ ئې څښمه ازغکے دے که شربت دے
رارسیږي به چې هر څۀ مې قسمت دے

تۀ ښائست لرې ما کړے محبت دے
یو غرور په مونږه دواړو کښې نسبت دے

غزَوَه دې خپلې ښېې په خپل څادر کښې
اے زړګیه مستي مه کوه غربت دے

د نائښې د سینګار حاجت ئې نشته
ستا ښائست چې څومره خور وي غنیمت دے

تۀ دې حُسن زۀ مې ژوند بچ کول غواړم
ما ته ستا نه زیات د مینې ضرورت دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

د عالمو نه ببخي يم زړۀ چاودونے
دګودر په غاړه ناست يم ژړغونے

د خيګر نه مې د زړۀ ايرې چنيړې
محبت رانه جوړ کړے چنه وونے

د اولس غم کښې مې لاړې نه تبريړې
دې غمونو راله ستغ نيولے ستونے

په وطن باندې جګړ دے رنګ په رنګ شو
چا نه ئې يوړله شمله چا نه پړونے

چې انګار چرته کښې ويني ورته رسي
خپل مزاج رانه ساز کړے اور لړونے

اوس بۀ واړه پرهرونه ناسور کيږي
مسيحا پروت دے په لاره کښې مرګونے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زۀ د خپل وطن د خاورې حلالي يم
خيال مې نۀ شي راتلے زړۀ ته حرمونے

دا به هر سره* لاهو په اباسين کړي
دا غوبارے٭ د تهذيب د غربت کُونے*

———***———

## يو مولانا ته

دا تۀ چې راته وائې په ما ګرانه مولانا
کتاب کښې خو دا نشته وے له ځانه مولانا
د کوز جومات نه مينځ ته او د مينځ نه بر جومات ته
د چنې نه ملا شوې د ملا نه مولانا

———***———

* تول، هر څۀ
٭ يومچ د ډنګرو په وجود کښېني چک ولګوي نو څاروي وار خطا لګي اوچته کړي او زغلي
* يو چينجے چې د ځناورو په وجود پورې کلک نښلي او وينې څښي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# د زړۀ غږ

دا تۀ چې ما ته سپوږمۍ، ګل وائې، لولکه وائې
زۀ سور ګلاب یم که راځې نو په ازغو به راځې
سپینه سپوږمۍ یمه چې لاس به دې را ونۀ رسي
لکه لولکه به ستا ګوتې خامخا رنګووم
ستا دنګه غاړه د چینار په شان ځواني وینمه
ستا ښائستونه مې په شونډو زلزلې راولي
منم ښائسته ئې! زما خوښ هم ئې خو داسې نۀ ده
ستا جګ برېتونه ما خپل ځان ته راښکودلے نۀ شي
په ما پسې به د سپین زیرو ننواتې کوې
نور مې هیڅ هم نۀ دي پکار خو سرۀ جوړه به راوړې
لړه نکریزه، څو بنګړي او دنداسه به راوړې
ګله که ته هوس پرست ئې وجودونه ګورې
بیا دلته څۀ کړې ښار ته لاړ شه بازارونه ډک دي
هلته د حُسن بها دا نۀ ده چې زۀ ئې وایم
هلته د زړۀ په غږ هیڅ څوک غوږونه نۀ ګروي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

نن لکه د ژرندې په مثال راباندې تېر شو
ورخ راباندې واوړېده که کال راباندې تېر شو

هسې نه د قام د مستقبل سترګې کړې شي
شرے* د رواج ؤ آل په آل راباندې تېر شو

ژوند په ژبه ورو سرو لمبو کښې تېرووه
خیال دې ګام په ګام لکه شمال⁂ راباندې تېر شو

زۀ که هر څو کلک لکه د غرۀ وومه ګلپانړې
ستا هر یو ستم لکه ایمال* راباندې تېر شو

دا د وطن کومه ګل دره ده کوم مقام دے
باد ؤ که د وسپنې رېګمال راباندې تېر شو

---

* یو رنخ چې پکښې سترګې په مرلو کړېږي
⁂ نرمه، پسته او خوږه سیلۍ.
* ګلبشینر، چړې، په غرۀ کښې چې کله واوره خونېږي نو د خان سره ونې بوټې او کاڼې هر څۀ وړي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



اوس دې تش تصویر ته ورډې شپې سبا کوومه
دغه جدائي وه که وصال راباندې تېر شو

ډوب ګرځمه هسې د خولو په اباسین کښې
چاته څۀ معلوم دي چې کوم حال راباندې تېر شو

———***———

## من الایمان

چې په اولس باندې ایله قدر له غم راشي
زما د زړۀ په دوارو سرو سترګو کښې نم راشي
څرېکې ئې زۀ محسوسومه لکه برېښ د اسمان
چې د وطن په نرۍ ملا کښې چرته خم راشي

———***———

## زۀ

شته من یمه یارانو دومره هم بې وسه نۀ یم
جانان راله د اوښکو امېلونه جوړوي
اشعار زما د واک خبره نۀ ده الهامي ده
الفاظ راځي پخپله تصویرونه جوړوي

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✵✵✵

ښکالو دې نشته د قدم څۀ انګازه نشته دے
لکه تصوير راته د هيڅ شي اندازه نشته دے

د تلو راتلو نه هډو څوک منع کولے نۀ شم
کور مې کنډر دے په کوڅه کښې دروازه نشته دے

جوړې وختونو محبت په مشينانو دل کړۀ
چې د مئينو د جنون څۀ اوازه نشته دے

په بنيادونو کښې ئې مونږه وينې زوې توئے کړې
دا ابادي به څنګه رسي قوازه نشته دے

په ښار کښې مړي بې حسابه دي ژوندي قحط شو
د لمبولو چې څوک نشته جنازه نشته دے

په خپله لاره باندې ځې د چا پروا نۀ کوي
په اباسين باندې د هيڅ يو شي پازه نشته دے

۱۹۹۵ء

✵✵✵

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

ما د خولو، وینو او اوښکو اوبهٔ خور کړے دے
ما تول عمري د محبت د ګلو کر کړے دے

زهٔ چې پرېوزم نو اسمان به وي برجق * لهٔ ستورو
چې روزانه مې زړهٔ چاودون لکه د نمر کړے دے

په انسانانو باندې ظلم ـــ کاڼي وژړول
زماسنګین زړګي هم نو لکه د غر کړے دے

د مور او پلار نه ئې رابېل کړم مسافر ئې کړمه
ملګرو ما باندې پښتو بي بي منتر کړے دے

فرښته راغله ما له ئې شونډې په رخسار کېښودې
وائي چې ښکه دې دا دومره لوئے سفر کړے دے

ما په يو سر لکه زمرے مقابله کړې ده
تا د ګيدړ غونډې په ما پسې لښکر کړے دے

* ډک.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



اوس په اختر کښې هم مبتلې* جامې اغوندمه
چې د اولس په ګرېوانه کښې مې نظر کړے دے

زۀ د جلال او د جمال رنګونه ټول پېژنم
ملاکنډے یم خو ګذران مې په خیبر کړے دے

حقه خبره مې د دار په تخته هم کړې ده
په زمکه ناست یم د اسمان سره مې شر کړے دے

زۀ په خوږه خوږه ټول عمر له تېروتے یمه
ما د خپل سر په دشمنانو هم باور کړے دے

چې خپلې ژبې ته دښمن غوندې په سپکه ګورې
پښتُونه! ستا دې بې ننګۍ خو راله غوَر کړے دے

د اباسین مخې ته غرونه غاړه نه ټینګوي
ما د شین کاڼي د زړګي په کور کښې ور کړے دے

***

* زړې، استعمال شوې، سولېدلې.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

ازادي غواړم خو لۀ بنده تېښته نۀ غواړمه
مرګے مې خوښ دے خو لۀ ژونده تېښته نۀ غواړمه

زما ملالې محبوبې دغسې ډاډ راکوه
زۀ د وختونو لۀ مېونده تېښته نۀ غواړمه

د محبت او د پښتو د دوؤ پلونو مينځ کښې
مدام دلبرِ پۀ دې ژرنده تېښته نۀ غواړمه

ما د پښتو بي بي پۀ شال باندې قسم کړے دے
تۀ کۀ څۀ څۀ! زغلۀ بې خونده تېښته نۀ غواړمه

سړے چې مړ شي هسې هم د تېښتې لار بنده شي
پۀ ژوندانۀ لۀ خپلۀ عنده تېښته نۀ غواړمه

د ژوندون پېښې دې زما د تجربو محتاجې
ګڼې د لښتې لۀ مړونده تېښته نۀ غواړمه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

چرته چې هم د مینې سپکه وشي
هلته د اور باران په زمکه وشي

ژوندون ته داسې بې اسرې پاتې یم
لکه سوالګري نه چې ورکه وشي

د ظالم لاس چې ماتولے نهٔ شم
زما له خپله ځانه کرکه وشي

چې په پښتو ژبه خبرې اورم
د زړګي سود مې پرې له ټکه* وشي

چې محبت ته پرې ښښکړه رسي
پهٔ ما دې هر ظلم بې شکه وشي

زما پهٔ زړهٔ باندې پولۍ راخیژي
چې ستا پهٔ مخ باندې ځوانکه وشي

* سمدستي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې بنيادم کړي د ډنګرو پېښې
څنګه علاج ئې بې کوتکه وشي

محبت داسې جختنه غاړه راکړه
لکه چې بوټي ته سپايکه* وشي

پۀ اباسين کښې اسماني خواږۀ دي
پۀ بنيادم ئې تاثير څکه وشي

***

## فرد

ژوند ته که غزيږي نفرتونه کال پۀ کال
څانګې څانګې پروت دے محبت پۀ هر ډېوال

***

## فرد

چې په رښا پسې مرې کور کښې يو ليتکے نۀ لري
بيا هم په خلقو باندې کار دغه سړے نۀ لري

***

* دوه خوخې، اړانه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# شمله پېړې

د پښتو لیلی مجنون یم — زهٔ د دې صدۍ پښتون یم
زما سترګو ډېر لیدلي — زما غوږو اورېدلي
پښتانهٔ قهرمانان ډېر — لکه غرونه مشران ډېر
چې هېبت ئې په دښمن وُ — محبت ئې په وطن وُ
د حجرو جرګو ښاغلي — ګرځېدل شمله وخکلي
د علمونو خزانې وې — د دوئ سر کښې زمانې وې

(۱)

یو سپېځلے باچا خان وُ — دے د قام فخر افغان وُ
باچا خان مرد آهن وُ — نهٔ په سر نه په بدن وُ
چې د صبر یو مثال وُ — د غلیم توري ته ډال وُ
په زندان به زنداني وُ — خو موجود په هر کندي وُ
دے د امن پیامبر وُ — د اولس د زړګي سر وُ
اتفاق ئې لوئې ارمان وُ — د پښتون قام نه قربان وُ
دا چې خومره بېداري ده — دا د دې ملنګ خواري ده
په خانۍ کښې هم ملنګ وُ — د چینار په شانې دنګ وُ
د خوشحال غوندې سردار وُ — د رحمان غوندې خاکسار وُ

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



(۲)

بـل حـمزه د غزل پـلار ؤ — د پښتـو د بـاغ مالیـار ؤ
د سـلـوک پـه لار روان ؤ — چې رهبـر ئې باچـا جان* ؤ
سـر تر ښپو غـزل غزل ؤ — د ادب د ښـــې ول ؤ
که د لواړګـي غرڅنـــے ؤ — د پښتـــو د بن زمـــرے ؤ
په هر صـــنف ئې لاس بـر ؤ — دعلــمونو سمـــنــدر ؤ
د قدیمـو اخـــرین دے — د جـدیدو اولـــین دے
قلندر وائي چې پـــُـل دے — د زړو تر نـــوو تـــُـل دے
زۀ حیـــران د دۀ قسمـت ته — لاړ پښتـــو سره جـــنت ته

(۳)

بـــل د نـــر بـابا بچے ؤ — غنـــي خـــان یو شـاه زلمے ؤ
لیونتوب کښې فلـــسفي ؤ — فلســـفه کـــښې لیـــونے ؤ
د خپـل رب په مینه مست ؤ — د ادب په میـــنه مـــست ؤ
شاعـــري چې څۀ ته وائـــي — هـــم هغـــه په دۀ کښې پائي
د تاریـــخ یو ژوندے باب ؤ — وړومـــبے سر د انقـــلاب ؤ
ډیر بـــې رویه بـــې ریـــا ؤ — لکـــه ګل پـــه زړۀ صـــفا ؤ
چې د خیال په اس به سور شو — په ملکونو کښې به شـــور شو
د وختـــونو جـــادوګـــر ؤ — د پـــښتو د تـــندي نمر ؤ

---

* سید عبدالستار شاه باچا، د حمزه صیب پیر.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



(۴)

اے بدبـــخته پښتون قامه اے په زړۀ ذهـــن غـلامه
دا صـــدی، هم درنـه لاړه اوس پـــه چغـو چغـو ژاړه
نه دې خپــل کړۀ کتابـونه نه دې پــر ښـول رواجـونه
جهالت درباندې سـور دے په اورونو کښې دې کور دے
نه د دين نه د سـادیـن شوې خو لاهـــو په اباسيــن شوې
باچا خــان درتـــه تروټه شو حمــزه خــان درته کوټــې، شو
په بـــې سترګو بې زبـانه بې نوا لـــۀ غنـــي خانه
داســـې ختـــې دې لـــرلې خـــو بيـا هم نه پوهـېدلې
دا د حســن منــارې وې دا مــينې فـــوارې ږې
ستا زړګے د میـــنې کـور ؤ خبـــر نه وومه چـې کـه ړ ؤ
اے بدبختـه پښـتون قامه اے په زړۀ ذهـــن غـلامـــه
دا صـــدی، هـــم درنه لاړه د خپل کور خبـــرونه غواړه
"ستا زړګے وچوه پـــښتونـه زړۀ مې چاودے دے له تا نه
خوئ خصلت دې د غلام دے نـــشه زيــــاته د باچا نه"

(۵)

چې څۀ وشو ښــۀ خبــر يئ اوس هم وخت درنه تېر نۀ دے
ټوپک پرېږدئ قلـــم واخلئ ننګ ټوپک، غېرت قلم کړئ
د کتاب نـــه ځان خبـــر کړئ د نصاب نه ځان خبر کړئ
بس دے ډېر سوالونه وشول د جواب نه ځان خبر کړئ
مهـــذبه دنـيا ګــورئ ده پـــه کـــوم ډګر روانه؟

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

زما حلق به شي سېراب له کومې چارې
د چينو نه راووځي د وينو دارې

پسرليه! ما د هاړ غرمو ته پرېږدې
ستا ښائست دے زما مل د نيمې لارې

زۀ پښتون يم زمانې! زۀ پېژندے شم
که په مخ دې راله ښخې کړې نوکارې

زۀ يوازې نۀ يم مينې راسره ئې
د احساس د سرحدونو څوکيدارې!

محبت او ښائستونه سره جوکې*
اوس زما د وطن جونه شوې هوښيارې

سر د قام شولو او روح مې د اسمان دے
زړۀ او سترګې مې دې ښکلو ته وزګارې

چې تر څو پورې خېبر په څائے ولاړ دے
اباسين به چرې هم نه شي بې لارې

---

* جوکل، تلل، وزن کول

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

زما اولس په مرګي حال دے اخر څۀ به کيږي؟
نن بيا آغاز د نوي کال دے، اخر څۀ به کيږي؟

تول چاپېر چل حلال حلال دے اخر څۀ به کيږي؟
قلم مې توره کاغذ ډال دے، اخر څۀ به کيږي؟

په دې حالاتو کښې چې زړۀ نۀ خورم نو څۀ به خورمه
کور مې دهر څۀ نه کنګال دے، اخر څه به کيږي؟

ورور ته د قام زخمونه ونيسمه وژاړمه
مخ رانه واړوي کمال دے، اخر څۀ به کيږي؟

هر سړے خپلو پرهرونو کښې چينجي لټوي
دا وطن نۀ دے، هسپتال دے، اخر څۀ به کيږي؟

په حقه لاره باندې بوتې* برامتې⁂ ډېرې دي
په ثوابونو کښې وبال دے، اخر څۀ به کيږي؟

---

* ډاکه، لوټ مال
⁂ اغوا، تښتول، بونګه کول

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په تول وطن د غل باچا داسي بازي کرمه ده
غل د باچا نه هم خوشحال دے، اخر څۀ به کيږي؟

لږ د نشو له خوبه پاڅئ سترګي وغړوئ
ځوانانو! تاسو ته مي سوال دے، اخر څۀ به کيږي؟

چي دا تنکی تنکی غندلي په کودالو وهي
خپلو ماليانو ته مو خيال دے، اخر څۀ به کيږي؟

دا د ګلاب غوندي ځلمے چي تيندکونه وهي
نن ئي خرخ کړے د مور شال دے، اخر څۀ به کيږي؟

لکه انګی به درته خپل اواز به بيرته راشي
ختي کوه نو! دهرمسال دے، اخر څۀ به کيږي؟

د محبوبي ښائسته غمونه مرور ساتمه
غم د انسان مي په زړۀ نال دے، اخر څۀ به کيږي؟

ستا اباسين ته هسي هم بندونه نۀ ودريږي
رانزدي شوے پشکال دے، اخر څۀ به کيږي؟

په نوروز ۱۳۷۳ھ ۲۲ مارچ ۱۹۹۵ء

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

په دار خېژمه اشنا صليب مې خوښ دے
که هر څۀ دي خو دا خپل نصيب مې خوښ دے

زندګي مې ځکه ورانه ماشوره ده
چې د زلفو ګډوډه ترتيب مې خوښ دے

چې زما په رنګ د يوې لارې سرے دے
دغه وجه ده چې خپل رقيب مې خوښ دے

په قلم چې ئې قامونه بېدارېږي
صرف هغه يو شاعر اديب مې خوښ دے

په ژوندون کښې چې حرکت د چا په زور دے
که مزدور دے که دهقان غريب مې خوښ دے

چې لفظونه ئې روحونو ته تېرېږي
دا بې رويه بې ريا خطيب مې خوښ دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

لکه یتیم اوتر اوتر په هر یو لور ګرځمه
ځوانه ځوانۍ کښې بې اسرې د زړۀ په زور ګرځمه

تلي مې سوزي، ښپې مې وینو باندې روږي بوږي
مزل مې تول ازغي دے که په اور ګرځمه

خوشې بېدیا، شګې خوټکیږي، د هاړ سرۀ غرمه ده
ښپې ابلې ښپې په تن لغړ په سر سرتور ګرځمه

که چرته نخښه د جانان راله په ګوتو راشي
زړګیه پرې مې ړده لتون کښې ئې لړ نور ګرځمه

مودې شوې تېرې چې په زمکه مې قدم نۀ لګي
ستا د لمبه لمبه نظر په اوګو سور ګرځمه

لکه سوالګرے په کوڅه کښې غلے نۀ ودرېږم
زۀ اباسین یم ستا په کلي کښې په شور ګرځمه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

یو د محبت بل د پښتو په مینځ کښې وسوم
داسې چې د نمر اود لمبو په مینځ کښې وسوم

اے د قامولۍ او د پښتو علمبردارو!
زۀ په نوم د امن د ګولو په مینځ کښې وسوم

زۀ د قام د ذهن قدرتي صلاحیت یم
څۀ پۀ بې دردۍ د پښتنو په مینځ کښې وسوم

نۀ مې زړۀ رڼا شو، نۀ مې ذهن منور شو
زۀ د جوماتونو او حجرو په مینځ کښې وسوم

ګونګ شومه په ژبه په شته خُله کښې بې اظهاره
عمر له د خپلو ولولو په مینځ کښې وسوم

نور قامونه ګوره چې په کوم ډګر ولاړ دي
زۀ له بدبختۍ د تربګنو په مینځ کښې وسوم

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

زۀ په انجام د خپل تنکي ارمان ویرېږم
ستا په وفا باندې شک نۀ کووم په ځان ویرېږم

بیامې د سترګو په کندې کښې سوکړه ماته شوله
بیا مې د زړۀ کوټه راڅاڅي په باران ویرېږم

زۀ خود زغم په خونړو پنجو کښې ژوند تېروم
رانه ئې ونۀ خوري دردونه په درمان ویرېږم

د پښتنو په مېنځ کښې کرښې لا ژورې شولې
اوس په وجود د ټول عظیم پښتونستان ویرېږم

زړۀ مې رېږي دا حالات څۀ بې پښتو غوندې شو
چې په سپېځلي ستر مقام دخپل افغان ویرېږم

تاریخ ګواه دے پښتانۀ خپل مشران قتلوي
رهبره هسې په چا نۀ کووم ګمان، ویرېږم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په کائنات کښې بې له موره کوم يو ذات عظيم دے
ځکه د خپلې پښتونخوا په ګلستان ويرېږم

نن پېښور په اباسين کښې ډوبولے نۀ شي
چې د تور مخي نيت ته ګورم په مردان ويرېږم

———***———

## غم

د طوفان نه وېره نۀ شي د غوړاسکي
د زړۀ بتر* ړوي داوښکو څاڅکي
غم چې زړۀ ته ور داخل شي بيا دې وژني
پلک د وسپنې ټوټه وي بې د لاسکي

———***———

* په کلو کښې د نغري/چرګې نه چاپېره د دُرمو دېوال چې ختې پرې تپلے شوې وي، جارګے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## دا ستاذانو استاذ*

چې په هنر ئې دي سمسور څنه وربل د غزل
ناظر پخپله داسې دے لکه غزل د غزل

د زړهٔ په وینو ئې پاللي دي سرمست خیالونه
د دهٔ انګڼ کښې سر وهلے دے غندل د غزل

چې په سازونو په ورمو کښې پټ پټوني کوي
کلیم، شفیق له ئې جوړ کړے تاج محل د غزل

د خپل زړګي پرهر ئې تل دے په ازغو ګنډلے
دهٔ د پښتو شمله کښې اېښے دے سور ګل د غزل

د هنر تږو له خوارهٔ آبِ غزل ورکوي
د دې چینار خوا کښې چینه ده په ځنګل د غزل

دا که خاطر دے که خیبر دے که کوثر که ساحل
ځومره سیانهٔ زرګر جوړ کړے دا چارګل د غزل

---

* اروابناد ناظر شنوارے، دا نظم د هغوئ په ژوند لیکلے شوے او د هغوئ په درناوي کښې د خیبر پښتو ادبي جرګې په یوه غونډه کښې پهٔ لواړګي (لنډي کوتل) کښې واورولے شو.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



کله ور ډوب دے په وحدت کله کثرت سنجوي
د تصوف خوبونه ويني په څنګل د غزل

د پښتونخوا سترګې خوږې دي په شمله د ناظر
که د غزل بادشاه حمزه دے، دے اتل د غزل

خودسر لفظونه ورته ټول لاس په نامه ولاړ دي
سرکش خيالونه ئې ښکېل کړي په درشل د غزل

د پښتني مسلک ياري ئې همېشه پاللې
په عقيده ئې هسک ساتلے بېرغ تل د غزل

داسې ناظر استاذ ځلمو ته د خېبر ولاړ دے
د دۀ له مخې تېرېدے نه شي خلل د غزل

هر يو نظر ئې د اميد اور اورکې رانولي
د دۀ په مخ ګردونه ښکاري د "مزل" د غزل

د ښار خېبر د غورځنګونو د مستۍ له قبضه
د اباسين په ملاکنډ کښې پت پالل د غزل

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

برخه زماد زړۀ په درنګ نۀ لري
چې اداګانې شوخ و شنګ نۀ لري

دا دومره تېزه خوشبوئي د څۀ ده؟
امېل په غاړه د لونګ نۀ لري

زما زړګيه درنه ډېر خوشحال يم
هډو پروا د نام و ننګ نۀ لري

هاله به پوه شي د سپرلي په خوږو
چې دې خزان ته زړګے تنګ نۀ لري

چې د رسمونو بند دې ونۀ شلوو
اباسين نۀ ئې چې غورځنګ نۀ لري

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

اظهار مې چرې هم په خلې نۀ راځي
ما له د مينې چل په دې نۀ راځي

چې بې وعدې شي بې بانې نۀ راځي
بيا راله چل هم د ګيلې نۀ راځي

دا ستا لوظونه راته داسې ښکاري
تصوير ته وايه! چې راځې؟ نۀ راځي

د وروستركو نظرونه ئې خوري
باګرام ته څكه پښتنې نۀ راځي

د زړۀ علاج به مې پخوا کړے وُ
د درد د څړيكو څۀ نامې نۀ راځي

څۀ په كافر زړۀ اوربدلے يمه
توبې اوباسمه توبې نۀ راځي

د اباسين چې څۀ زړۀ غوارې كوي
زۀ غرڅنے يمه قيصې نۀ راځي

✳✳✳

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

حسينان خو په دلو دي په نرۍ کښې
يو مئين راپېدا کېږي په پېړۍ کښې

ژوند د اوښکو سمندر کښې داسې سوزي
لکه اور وي لګېدلے په ببړۍ کښې

خامخا به مې د هجر تبه شلېږي
ما هم نن کاڼي تړلي په چيړۍ کښې

ستا د سوړ مزاج د هجر په ځلو کښې
زړۀ مې تود شي د يادونو په شړۍ کښې

چرته مات نۀ شي سينه پورې ئې جخت کړه
دا منګے چې دې نيولے په غړۍ کښې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د خپل زړهٔ دا یاقوتي توتې پیئمه
ستا د سپینو سپینو اوښکو په لړی کښې

راشې، لاړه شې، بیا راشې، بیا په تلو ئې
شل مزاجه دې بدلیږي په ګهړی کښې

اباسین به خپل ګرېوان څنګه راټول کړي
ستا د مستو اننګو په ګل ژړی* کښې

———***———

## جذبه

خومره دې زور راکړلو خومره دې ځواني راکړله
خدایه دا څهٔ په لېونتوب کښې دې خاني راکړله
اوس به وزرې الوتو له خامخا غوارمه
پیدا په زمکه شوم جذبه دې اسماني راکړله

———***———

* د پسرلي په شورو کښې کېدونکي بارانونه چې سمدستي ورسره ګُل وغوړېږي، په خصوصي توګه د اشارې او بادامو ګلونه.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

ستا د هر ګل شو کولو ته هوس دے
په ګلونو کښې یو ګل دے چې نرګس دے

قافله مې د ارمان ساتې بېداره
دا دې شړنګ دے د بنګړو او که جرس دے

زمونږ وینې د چمن په شونډو خاندې
غندل و خاته سپرلےزمونږ نه پس دے

د یار اوښکه په ګوګل کښې دُردانه کړې*
محبت خو په دنیا کښې د طاوس دے

په کتو باندې هم چرې ثوک مړیږي
مړې! داسې راته مهٔ وایه چې بس دے

هر اندام دې په زړها ژبو ګویا دے
ستا د حُسن عجیبه غوندې مئیلس دے

* وئیلے شي چې د طاوسونو جنسي اختلاط داسې وي چې د نر په سترګو کښې اوښکې راشي او ښځه ئې وڅښي.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



محبته! ډېر خوارۀ مې در پېرزو شي
زندګي مې در نه ځار شه دا مې وس دے

د مطلب په آئينه کښې ورته ګورې
که جانان دے، که وطن دے، که اولس دے

لا په سبر کښې مې پوښې نه ده رېشلې
اباسینه مزل پاتې یو په لس دے

***

**یوشعر**

دا شین لوګے چې د پښتو د ګل درې نه ووځي
د لېونو په شانې چغې مې د خُلې نه ووځي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# وروکے قیامت

**یادګېرنه:-** په دسمبر ۱۹۹۰ء کښې د پېښور یونیورستۍ د جینکو یوه لارۍ د مرۍ په سېل روانه وه چې د اکوړې په خوا کښې ئې د بلې لارۍ سره ډغره ووهله. په دغه ډغره کښې ګڼ شمېر جینکۍ ژوبلې شوې. یو جینۍ او یو بېره پکښې په حق رسېدلي وو. دا نظم د دغه پېښې د تاثر لاندې په وجود کښې راغلے دے. ما ایله دغه وخت تعلیم پوره کړے ؤ. خو لا په هاستل کښې پروت ووم. په ټوله یونیورستۍ باندې د غم یو څادر خور ؤ.

نـــته رنـــا وه نـــرۍ لــــړه پــــه مـــاحول خـــوره وه
لا د نمــر ســترګه پــه چــراتړ رابنــکاره شــوې نــۀ وه
نمـــر هـــــم اودۀ ؤ پېښـــور اودۀ، نوښـــار اودۀ وو
څوک په جونګړه څوک محل کښې، څوک په لار اودۀ ؤ
چې لــــه باګــرامه د بلــبلو یــو ګــڼ سـېل پورتــه شــو
پــه ګډېــدو پــه مکــېزونو پــه چغــار بــــاندې
پښـــتنې پـــېغلې د ځوانــۍ نشــو کښــې ډوبې پـــېغلې،
سُـــرکۍ سُـــرکۍ انـــارې شـــونډې غـــزالانې ســـترګې
سـرۀ اننګـې لکـه پـه کُچـو کښــې ګـلاب ګـډ شــې
لکـــه دتُــورو ســـپینې لـــېچې حنائـــې مـــنګولې،
پـــېچ و خـــم ونې چې د ســـروې زړۀ نیـــنې نیـــنې شـــي
لکــه د ګــل ســپړدې غوټــې وې ســپرلې خــېزې غوټــې.
د خوشـــبویانو شـــمالونه تـــرې هـــوار چورلــــېدۀ

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې د خندا نه به تېق و چاودې په شا واوړېدې
تا به ؤوې لښته د چندنو چرته ماته نۀ شي،
چا په اومو اومو لاسونو باندې تمبل وهو.
بوره بوره شونډې د ساز او ترنم نه ډکې.
د پښتونخوا د سر درو د غرونو غاړو په لوړ
دا قافله د ګل وريښو په نازونو تلله
د نمر وړومبۍ ځيره په سر د اباسين ښکاره شو.
دلته د حُسن قافلې داسې تيندک وخوړو
چې د چراغ غرونه هم وبوګنېدۀ
د خوشحال خان قبر هم وجړقېدو
دا حادثه نۀ وه قيامت ؤ تول حالات بدل شو
هلته غندل غندل ښېږې ماتې شوې لاسونه مات شو.
دلته د کاڼي غونډې سخت کوټلې زړونه مات شو
د پرستان د هرې ګټې نه يو شور پورته شو.
په ګل درو کښې غرغنډې وشولې اور پورته شو
لکه په شين فصل چې وشي د سکروټو ږلۍ
نکه د ګلو په تل پرخه د سپرغو وريږي
دځنګل اور ؤ د هر بوټي نه چاپېره تاؤ شو
نرۍ وړې تازه ډنډرې ئې په اور ستې کړې
اوپره اوپره سپينې ځنګلې ئې ريچې ريچې کړې.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د پېنزېبونو ډکې ښېې په وینو رنګ بنګ شوې
د مور او پلار د ارمانونو مانۍ ړنګ ړنګ شوې
پېنزېب په چغو ژړا او کړه مېڅکي مات شو
په مر مرینو لېچو شنهٔ او سرهٔ بنګړي مات شو
د تقدیرونو د کتاب نه مې ګیله پېدا شو
خدائے ته ظالم وئیل خبره د خرد نه ګڼم
مودې ئې وشوې خو تر اوسه مې احساس رپې
قلم مې ګوتو نه ارتاؤ شي زما لاس رپې
هغه قیامت هغه دوزخ زما نه نهٔ هېرېږي
لامې تر اوسه هغه شور په ککرۍ کښې وسي

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

زۀ للمه زمکه ووم اسمان شوې راته
وختونه ګران شولو نو ګران شوې راته

اول دې خاورو سره خاورې کړمه
بیا دې زرغون کړمه باران شوې راته

اوس دې کمے محسوسووم په شدت
ما وې آرزو ئې خو ارمان شوې راته*

درده! زما د ژوندانه په زړۀ کښې
داسې ورګډ شولې چې ځان شوې راته

سپوږمۍ راکوزه شه چې بنکل دې کړمه
لکه تصویر د خپل جانان شوې راته

د خپل ښائست لوېي به اوس نۀ منې؟
زۀ ئې حېران کړم نو حېران شوې راته

زرګیه زۀ دې بت پرسته کړمه
ته رانۀ لاړې مسلمان شوې راته

---

* ونیلے شي چې د خواهش ځلور پوړۍ دي، خواهش ارزو، ارمان، حسرت.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

نۀ پوهېږمه چې ولې په غورځنګ دے
ستا د سترګو په وسعت کښې مې زړۀ تنګ دے

ټول وطن دې په ساعت پېژندګلي کړي
ستا په شونډو کښې زما د وینو رنګ دے

خدایه! ستا په دې خلور قونجه دنیا کښې
بې د مینې نه هر شے خومره بدرنګ دے

ما ته خپله څهره نۀ راښائي پاکه
د دوران په آئینه ختلے زنګ دے

ګرځم تاله د سر سپورے لټوومه
وطن هم زما د زړۀ په شانې ړنګ دے

ستا د حُسن اباسین ته چې ور دانګي
لبونے سهي خو ووایه چې څنګ دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

سراب پسې چې زغلم بيابان راپورې خاندي
جنون چې مې ملګرے شو ګرېوان راپورې خاندي

د ټول عمر کړاؤ مې د غربت په درمن پروت دے
وربخ راسره ژاړي او اسمان راپورې خاندي

ګرېوان مې ؤشلېدلے يو ذره پرې خفه نۀ ووم
افسوس په دې خبره چې جانان راپورې خاندي

په زېره ئې لاس راښکو مُلا نيغ جنت ته لاړو
په منډه رابهر شو وې غلمان راپورې خاندي

***

محبت چې د کوم ځائے نه نامراد راځي
په هغه زمکه به خامخا فساد راځي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

"سترګې مې راډکې شي چې تهٔ راته را یاده شې"
غبرګ لاسونه کېږدمه په زړهٔ   راته رایاده شې

کله چې نمر پرېوزي نو ستا په خیال کښې ډوب شمه
کله چې سپوږمۍ خېژي په غرهٔ، راته رایاده شې

وکړې چې طوطي خوږې خبرې مېنا قېنج وکړي
غږ چې په مونډې وکړي کارغهٔ، راته رایاده شې

کور نه چې سحر وځمه ستا یاد مې ملګرے وي
سترے چې داخل شم په کالهٔ راته رایاده شې

غونډے مې ځیګ ځیګ شي وار خطا دې خدائے نه وغواړم
کله چې ولاړ یم په مانځهٔ راته رایاده شې

داسې دې د یاد د اباسین چپو اخستے یم
وینښ شمه په خوب باندې اودهٔ راته رایاده شې

✳✳✳

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✵✵✵

راسره یو ګلعذار* په خوا کښې ناست وے
په شین غرۀ کښې د چینار په خوا کښې ناست وے

دا زړګے به دې اوس جوړ وے د رېښمو
کاش چې زۀ د کردګار په خوا کښې ناست وے

ته خفه وے ما دې سترګې ښکلولے
وار خطا دې خطاوار په خوا کښې ناست وے

وایم چرې دې د خوا نه خوزېدے نۀ
لکه خال دې د خسار په خوا کښې ناست وے

تا خوارۀ وارۀ وېښتۀ منګزولے
زۀ بېخي درته وزګار په خوا کښې ناست وے

ستا په تور باندې بې شکه په سولی شوے
خو چې تۀ راته د دار په خوا کښې ناست وے

---

* ائنګي، ښکلے، پی مخے، حسین.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د خنګل د ونو پاڼې مو خوړلې
مطمئن چرته د غار په خوا کښې ناست وے

د ښائستؤ نه به هاله کتاربړم
چې یؤ یؤ مې وار په وار په خوا کښې ناست وے

چې ګړګوزې* مو وهلے د یخنۍ نه
اباسین ته د آبشار په خوا کښې ناست وے

***

فرد

په دې وطن کښې هر یو کار بې سرېتوبه کیږي
زمونږ نه پس به خدائے خبر چې کومه لوبه کیږي

***

* رپېدل، ژامې رچېدل.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

دا دنيا راته مېدان ښکاري چاپېره
بل خوک نشته يو جانان ښکاري چاپېره

ستونے ستغ د غرۀ په خوکه باندې پروت يم
زمکه چرته ده اسمان ښکاري چاپېره

ستا د غېږې نه چې ستا زلفو ته ګورم
يو لښکر دے راروان ښکاري چاپېره

شيش محل دے که په خوب کښې داسې وينم
چې دا تۀ ئې که مې ځان ښکاري چاپېره

يو ګلاب دے چې زړګے مې پرې راتول دے
ګنې خومره ګلستان ښکاري چاپېره

دا دې زنه، اننګې دي او که شونډې
که د خُلې نه دې ګلان ښکاري چاپېره

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا زما د اولس متې دي خو مړې دي
دا چې ګل غوندې ځوانان ښکاري چاپېره

چرته خدائے به ئې مېړو پله راپېښ کړي
په دې غرونو چې باران ښکاري چاپېره

غرونه ډېر دي خو په ځائے باندې ولاړ دي
اباسین راته روان ښکاري چاپېره

______***______

## ارمان

زړۀ مې راتول وے څۀ خفګان مې نۀ وے
ارمان مې دا دے چې ارمان مې نۀ وے

ما به د چا سترګو ته ژوند تېر وو
پښوا به مړ ووم که جانان مې نۀ وے

______***______

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## حضرت امام حسين (عليه السلام)

وينه غورځنګ کوي مدام د محبت له زوره
د مرګ اواز مې د جانان عقيده نۀ کړه نوره
چې هوائي شي د بندېز هره پنجره ماتوي
روح چې پرواز کوي په حق پسې له خپله کوره
حسېن دنيا ته د رښتيا وئيلو چل وښودو
بې صداقته شوله هره چاره سپوره سپوره
د صداقت تنده ئې ماته کړه په خپلو وينو
د ژوندانۀ غېږه ئې کړه په شهادت ټکوره

چې غلامي ئې د دوران چرې قبوله نۀ کړه
د مينې لاره ئې دنيا ته بې اصوله نۀ کړه

په اوچو شګو کښې د مينې دعوېدارپاتې شو
د محبت د چينې غاړې ته چينار پاتې شو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په تور تمونو کښې ئې پېل کړه د رڼا رنګونه
چې راڅرګند ئې کړل د جبر د څهرې حدونه
دۀ په تش لاس د جنګ آغاز وکړو او وئې ګټو
دۀ د یقین په تېغ سورې کړه د جابرو زړونه
تورتې تورتې شي درې ورې شي خو ننګ نۀ پرېږدي
نۀ ښکته کېږئ په یو حال کښې پښتانۀ سرونه
جذبه چې وي د اوبۀ خور که غرغنډې وریږي
را زرغونیږي په مېرو کښې د ګلاب ګلونه

دغه مرام په حق پرستو ایمانونو شوے
په کربلا کښې بلاکر د ارمانونو شوے

اوس د وختونو د سوکړې پکښې څۀ کار پاتې شو
چې اباسین ته دې د فکر لاله زار پاتې شو

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

کړي خوشبوياني چې هر څوک په دغه لاره راځي
ماله جانان د سرو ګلونو له ګلزاره راځي

ستا د خوږو خوږو خبرو جادو نۀ ماتووم
ګڼي خبرې کول ماله هم بې شماره راځي

يو د فطرت له مخه بل د رياضت له مخه
مينه يو دم راځي او عقل په قلاره راځي

په محبت کښې د لفظونو معنې کمې ګڼم
ماله چې مينه راځي ماله بې اظهاره راځي

دا به ښۀ نۀ وي چې په سترګو کښې خبرې وکړو؟
والله چې اوس راله نور شرم له رېباره راځي

په محبت کښې مې د سر د بائېلات وېره ښکاري
چې اوښکې وچې شي پسې د وينو داره راځي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



هر څۀ به پرېږدمه خو مينه پرېښودل نه کېږي
دې کښې يوې نه بله څېرکه مزېداره راځي

د مېدانونو جل پري ئې جل نيولې ښکاري
دا اباسين څکه په منډه له کوهساره راځي

———***———

## قيامت

ستا د نزديکت ضرورت ډېر محسوسووم
اوس د محبت ضرورت ډېر محسوسووم
ګورم چې د خپل زړۀ په دنيا کښې هنګامې
ځکه د قيامت ضرورت ډېر محسوسووم

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

لکه واورو کښې د اور نه لرې تښتې
لېونے ئې چې د کور نه لرې تښتې

چې زړګے دې د کعبې نه بتخانه کړه
اوس په چا پسې د شور نه لرې تښتې

په تا سترګې پړسېدلې دي پښتونه!
چې د خپل ښکلي انځور نه لرې تښتې

چې رېښتيا وئيل دې خوار کړه په دروغو
اخر څنګه به د ګور نه لرې تښتې

اباسينه ته پخپله زورور ئې
ته به څرنګې د زور نه لرې تښتې

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

نرے نرے اور بل دے لکه وړاندې څنګه ؤ
اوس هم هغسې چل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

انسان ته پکښې خلق د وحشي په نظر ګوري
دنيا هغه ځنګل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

نور هيڅ راسره نشته په څلور قونجه دنيا کښې
دا خپل زړګے مې خپل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

ستا ياد پکښې د خپلې ساه انګۍ په بهرته اورې
خالي خالي ګوګل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

بغير ستا له تصوير مې اوښکې چا نۀ دې ليدلې
دا يو د هيرو غل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

پخوا به در الوتے وے تر تا پرده نشينه
وجود راسره مل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

دا ستا د اباسين زندګي څۀ ده پاکه ربه!
د غوښتو يو غوبل دے لکه وړاندې څنګه ؤ

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

ګل د ګلاب هم چرې ګلونو کښې ورکیږي
کله هغه سروه نورو جونو کښې ورکیږي

زۀ به د زړۀ ورکه په جومات کښې څنګه مومم
خلقو نه څپلۍ په جوماتونو کښې ورکیږي

ماته د زړګي په کلیواله لار څرګند شه
عقل بانډېڅے دے په ښارونو کښې ورکیږي

داسې نزاکت لري د ښکلو وجودونه
دومره **ملائم** وي چې لاسونو کښې ورکیږي

ما ورته محکم ساته غمونه په دلو دي
لاره د سړي نه څنګلونو کښې ورکیږي

ټول دې اباسینه د جلال په ننداره دي
څوک چې لري سترګې غورځنګونو کښې ورکیږي

✳✳✳

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# شاعري

کله کله چي راګیر شم — د حالاتو په غوبل کښې
د چا ښکلي په وربل کښي — د ورېمو په کوتنۍ کښي
د ګلونو په ځنګل کښي — ته زما نه نهٔ هېرېږي
شاعرۍ مه خفه کېږه — ته زما د زړهٔ ارام ئې
نه زما نهٔ ئې، د قام ئې — د ټولۍ د خاص و عام ئې
کله کله ته هم داسي — چرته ورکه لېونۍ شي
زړهٔ مي تق چوي له ناکامه — ساه مي خېژي له ډېر زغمه
سر مي ډک شي له خيالونو — د ښائسته ښائسته سوچونو
خو ته لري رانه ګرځي — په ملکونو هېوادونو
څو چي ببرته کله راشي — اباسين مي په سر وخلي
په چپو په غورځنګونو — بيا مي خور کړي په ملکونو
چم په چم کلي په کلي — په کوڅو په بازارونو

په سينو او په ذهنونو
په روحونو او په زړونو
په ازغو او په ګلونو

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ګل بدنه ګلالۍ راپسې ګرځي
زۀ به نمر یم چې سپوږمۍ راپسې ګرځي

په دې لار به مې د تلو روونه بند شي
مخاخ چې په بلۍ راپسې ګرځي

د حسینو په ټولي کښې ګل ورین شوم
ګل پرسته لولکۍ راپسې ګرځي

زۀ که ډېر یم د حالاتو په ګردش کښې
محبت لکه ګاڼۍ راپسې ګرځي

زما مینه به ټول عمر درسره وي
وار خطا به شې چې وی راپسې ګرځي

د خزان سره د مینې په بدل کښې
پاڼې پاڼې شوم سیلۍ راپسې ګرځي

زۀ به ځې نۀ ورکېږم اباسینه
د موجونو لېونۍ راپسې ګرځي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

هسې د انسان سترګې نهرې دي
هغه څۀ حسين ښکارې چې لرې دي

نن مې د عمرونو تنده ماته شوه
شونډې مې په خپلو وينو ترې دي

ژوند ورته زندان دے او وجود پنجره
مرګ خو د روح متې دي وزرې دي

نن د بنيادم په زړۀ وښتۀ ولاړ
نن د آدم زاد په سر ښکرې دي

تا باندې زما خوله عنبر لګي
ما ته دې هم اوښکې ملغلرې دي

چرته چې اخلاص په خرواروڼو دے
دا د پښتونخوا کندې کپرې دي

چا ته چې احساس د محبت نه وي
هغه زړونه کاڼي دي کمرې دي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ستا د حُسن ذات ئې سر چینه ګڼم
درد دے، که سرور دے، که سندرې دي

غر د اباسین مخې ته هیڅ نه وي
دا ډېرې ورې خبرې دي

———***———

کله چې ذکر ستا د حسن د غانټول راځي
په خوب کښې مخې له د سرو ګلونو شپول راځي

ته که په خپلو اداګانو باندې فخر کوې
ما له خو هم د محبت چلونه ټول راځي

د محبت په معامله کښې سر په تړله یمه
نۀ زۀ په ناپ باندې پوهېږمه نۀ تول راځي

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

چې دخپلې مينې زور چاته معلوم دے
نو د کانې غوندې خلق ورته موم* دے

چې د وېرې نه ربنتيا وئيلے نۀ شي
د دې دور بنيادم څومره مظلوم دے

په ورو ورو خبرو خوشحاليږي
د شاعر مثال په شان لکه ماشوم دے

غټې سترګې دې له څايه بنائسته دي؟
که په کور کښې درته پروت د ميئو څُوم☆ دے

د بې شمېره بنائستو محلتې يم
دا مې هم د زړګي سر دے دا مې هُوم* دے

---

*ښنتانۀ دا تکے د پښې سره وائي.
☆ څُم.
* هُم.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د سپوږمۍ د پلوشو غونډې ښائسته ئې
د ګلونو د وږمو په شان دې نوم دے

ګذاره به څنګه کیږي لویه خدایه
اباسین ورته دریاب جانان ئې شُوم دے

***

(دا غزل د تجربې د پاره ولیکلے شو. ضروري نۀ ده چې روایت شي)

## اباسین

زما ساه لکه دریاب خیژي له جوشه
هغه شوخه د سپوږمۍ غونډې خاموشه

وړاندې مۀ ځه د وختونو سره سم ځه
اباسینه منډې مه وهه لږ رو شه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# نازولي*

زندګي ئې يو پرانستې کتابچه وي
د خوشبو او رنګونو ښاريه وي
فلسفه علم حکمت پکښې وېړيا وي
تل بې رويه بې ريا وي آئينه وي
په سرود په نغارو راپېدا کيږي
داسې خلق په صدو راپېدا کيږي

چې احساس ئې لکه مُشک وږمې وږمې وي
چې ئې سترګې د ولې غوندې مرې وي
چې زړګے ئې د رېښمو غوندې پوست وي
چې خبرې ئې نباتو نه خوږې وي
دا خوږوالے په ترخو راپېدا کيږي

* دا نظم مې د خپل ګران مشر، دوست او د لغړي سينې د يار خيبر افريدي په خلوېښتمه ليکلے دے.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



زيست روزګار ئې شوا خون نه عبارت وي
د دردونو ورسره قدر و قيمت وي
په ظاهره پرسکرنه سمندر وي
اندرون کښې ئې يو شور وي يو قيامت وي
دا ققنس له سرو لمبو راپېدا کېږي

بې وسي ئې وي بې کچه په ژوندون کښې
روڼ تندے ګرځي مدام په زړهٔ چاودون کښې
بې چېنې کښې ئې موندلے يو قرار وي
اضطراب ئې شي ليدلے په سکون کښې
دا عظمت په شوګيرو راپېدا کېږي

زړهٔ او ذهن ئې د روح په شانې پاک وي
د خپل زړهٔ او ځيګر وينې ئې خوراک وي
په غرور باندې برېنډه سينه ګرځي
که ګرېوان ئې د لمنې پورې چاک وي
په قامونو کښې يو څو راپېدا کېږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د انسان له محبته مالا مال وي
د خپل قام په مينه مست لکه خوشحال وي
رب ته عمر له جانان د ميني وائي
د وختونو او د دهٔ مينځ کښي ډېوال وي
خلق ډېر دي په دلو راپېدا کيږي

که هر څو په پښتنو دنن سختي ده
دا د ټولي پښتونوالي خوشبختي ده
مونږ به تل په ستر خيبر باندي ناز يږو
خو دا مړينه ئي بې وخته ده وختي ده
چرته داسي غزلګو راپېدا کيږي

لکه سرهٔ سمسور ګلونه په بېديا شي
يا په تيږو کښي ښينکي تېغونه راشي
لکه اور د سوزولو عادت پرېږدي
لکه بت چي په سنګينه خُلهٔ ګويا شي
دا لعلونه له ايرو راپېدا کيږي
داسي خلق په صدو راپېدا کيږي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

تا چې په تيارو کښې کړم، رڼا هم راله راکړه
درد دې راله راکړو نو دوا هم راله راکړه

حُسن به د سرو په زنځيرونو ترل غواړي
ښکلي دې پېدا کړه نو دنيا هم راله راکړه

حورې د جنت که رابخښې نو غنيمت دے
هغه درنه هم غواړم خو دا هم راله راکړه

سوال که مې قبليږي په سکني سکني ماښام کښې
وايم به څواني يو ځلې بيا هم راله راکړه

———✳✳✳———

## دوه شعرونه

مۀ مې زړه په لاسو کښې لاسونه لېونيه
مۀ کړه په ژوند راله اورونه لېونيه

واوره په پښتو ژبه شعرونه لېونيه
چرته ئې راپاڅه افلاطونه لېونيه

———✳✳✳———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

زما صنم زما په لاسو کښې دے
زما همدم زما په لاسو کښې دے

د تخیل نه مې ګبین* تولوي
زما قلم زما په لاسو کښې دے

چې محبت ته به تاوان نۀ رسي
لا دومره دم زما په لاسو کښې دے

دا د جانان د پېغلتوب تصویر دے
که جام د جم زما په لاسو کښې دے

چې کله کله ګل غوټۍ شوکوي
دغه یو غم زما په لاسو کښې دے

که چرته ځان راله په ګوتو راغے
بیا ټول عالم زما په لاسو کښې دے

دا رښائي ټوله زما په زور ده
دغه تورتم زما په لاسو کښې دے

*شهد.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

په کټ کښې چرته پروت یم بوږي بوږي* په غرمه کښې
په خوب پسې ړندېږمه د اوړي په غرمه کښې

دا څوک دے؟ دا د چا د محبت په اور کښې سوزي؟
رسا لکه د مچ منګولې مروړي په غرمه کښې

حالات راله په تاړو تاړو شوندو ږدي پاړونه
قسمت راله اوبۀ د لاسه تروړي په غرمه کښې

خپسه مې په ټول وجود سوره شي د یادونو
سم لاس راله څوک کېږدي په تیندوړي☆ په غرمه کښې

✳✳✳

* خور وور، بنګړي بنګړي
☆ پوزه، سپېږمې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

دنګې سروې ورته خم شي داسې دے
محفلونه ورته دم شي داسې دے

که ځواني ترېنه هم لاړه شي نو څې دې
په والله که ترې څۀ کم شي داسې دے

د ښائست ئې نه ثاني شته نه جواب شته
لکه راګ چې مجسم شي داسې دے

په ځوانۍ کښې ئې جمال داسې غورځې کړي
لکه مست درياب چې تم شي داسې دے

بې سينګاره ئې ښائست لمبه لمبه دے
د خپل خان راسره غم شي داسې دے

اباسين هم په خپل حُسن ډېر غَره دے
دے ئې مخې ته مدهم شي داسې دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

وایم سپرلے چرته په دې رانهٔ شي
چرته په ګل باندې مې ښېښې رانهٔ شي

حسینې! سترګې رانه مهٔ اړوه
چې هډو یاد د مېکدې رانهٔ شي

چې ئې قامت ته غرونه سر ټیټوي
هغه جانان مې تر خېمې رانهٔ شي

ستا تصویرونه د کتې سر ته ږدمه
چې بې ننګي راله نژدې رانهٔ شي

د پښتونخوا به هغه څهٔ سپرلے وي
چې اباسین چپې چپې رانهٔ شي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

مینې زما د صبر درنګ وهلے
جانانه تا دے ولې رنګ وهلے

حسن مې داسې وزرونه سوي
لکه لمبې چې وي پتنګ وهلے

چا د مستئ چا د نېستئ د لاسه
یو ښادرګے تاؤ کړے لنګ وهلے

پښتونه سم نه شوې تا خدائے ووهه
د پلار نیکهٔ تصویر دې زنګ وهلے

د پښتونخوا سیندونه وچ پراتهٔ دي
یو اباسین پکښې غورځنګ وهلے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

دا تقدير د پښتنو دے که وخت برګ دے؟
که اولس مې ډېر بې شانه تيار لګ* دے

نۀ منزل مخې ته وينم نه رهبر شته
نۀ پوهېږم دا په کومه لاره تګ دے

نه پښتو کوې، نه لولې، نه ئې ليکې
نو دا وَل دې د شملې خرنګه جګ دے؟

د دې قام نه چې ئې لار ده ورکه کړې
مدارې مخکښې روان دے که بدګ* دے

د وطن مينه چې نه لرې په زړۀ کښې
نو لابل په تا کښې کوم يو ساهو رګ دے

چې دې وچېړل په مرګ به ترې خلاصېږې
پښتانۀ نۀ دې د تورو مچو ګګ* دے

---

* په تياره لګيا، تيار خور.
* هيجړا، کدړا.
* د مچو کور.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د پښتو غمونه ورمه په سر سترګو
که هر څو زما په خپلو اوږو نګ[**] دے

يو کابل پګښي د وينو جوش وهلے
د دنيا د لوښي مورګو پورې زګ دے

که سينه مې در ښکاره کړله ملګرو
ټول پرهر راقوړېدلے دے ګزګ* دے

اباسين خو هم اشنا ځان ته څۀ وائي
که غليم ډېر زوروَر لکه د يګ دے

_____***_____

## محبت

بې د نفرت نه هره چاره کووم
زۀ د انسان په زړۀ کښې لاره کووم
زۀ ښائستونو له غرور ماتووم
زۀ محبت د دې دپاره کووم

_____***_____

---

[**] ډېره غټه او درنه بوجی۔

*کېنسر، ناسور

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

د پرخې او د ګل کانې دې شي په اننګو
غوټۍ غوټۍ خوله دې خې راځي په اننګو

سُرخي ئې ورځ په ورځ باندې زياتيږي يو په دوه
بايد چې لولکۍ به دې ګنبېني په اننګو

تک تور يو سوے داغ مې د ے رسا د زړۀ په سر
خالونه قدرتي ئې دي ښېخي په اننګو

په ويښنه مې د سرو شونډو په اور ګنبي سوزوي
په خوب ګنبې مې ټکور کړي اننګي په اننګو

زما د ساه د تپ نه هم ساتي خپله ښکلا
بې شانه وار خطا لاسونه ږدي په اننګو

د شعمې نه چې موم وځاځي لارې جوړوي
همدغسې خوله ئې کرښه کړي په اننګو

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

دا خوب دے که زما د تخیل ښارِ روښان
وزرې ږقوومه په هوا یمه روان

دا لے په لے چې ګرځي دا چې کور په کور روان
دا ستا د حُسن غږ دے که زما د عشق داستان

چې لاره مې خطا کړله په غم کښې د دوران
زړګي راته په غوږ کښې غلي ووې چې جانان؟

دا کوم مارغهٔ چغېږي دا د کوم یو ساز اواز
دا څوک دې نامه اخلي یکه زار او یا قربان

هر خوا ته مینه مینه، امن امن، قرارے
دا ستا د خوب قیصه ده که زما د زړهٔ ارمان

تمیز ئې راته نهٔ کیږي په خیال نهٔ په نظر
خبر نه یم چې دغه به جانان وي که مې ځان

دا کوم یو کتاب لولم زوتووم کومه قیصه
د مینې اباسین مې دے په ذهن ور روان

✸✸✸

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

تاريخ د ازادۍ په وينو رنګ د پښتنو دے
د دې خاورې هر جنګ لکه چې جنګ د پښتنو دے

لږ وپوښته له روسه، له فرنګ له سکندره
چا ذکر اورېدلے! له اورنګ د پښتنو دے؟

دشمن لره هم امن سوکالي غواړي يارانو!
چې ظلم چرته ګوري بيا غورځنګ د پښتنو دے

زمونږ د زړۀ ټوټه زمونږ ځيګر زمونږ هېواد دے
پښتو چې پکښې نشته نو بيا څنګ د پښتنو دے

لازمه ده چې تل به ئې پښتو سره پالمه
چې رب راله راکړے ښکلے رنګ د پښتنو دے

د دې خاورې دپاره لکه خپل ځان ګڼې خاوره
په نوم که اباسين دے خو ملنګ د پښتنو دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## اے زما یاره درویشه*

اے زما یاره درویشه
نور مې زړۀ ته رانژدې شه

ستا لمبه لمبه شعرونه ستا تکور تکور فکرونه
ستا هُنرته په سجده دي تشبیهات علامتونه
خلق ځي د بحر خوا له ګرځي تاپسې بحرونه
د پښتو شعر په زمکه دباران غونډې راښکې شه

اے زما یاره درویشه
نور مې زړۀ ته رانژدې شه

په بخملو به ور نۀ کړم ستا دا خړې پړې ختې
د انسان په غم غمژنه په هر غم دې شونډې وتې
ستا زخمي زخمي لاسونه ستا دا وینې وینې ګوتې
په زخمي زخمي لاسونو محبت په خلقو وېشه

اے زما یاره درویشه
نور مې زړۀ ته رانژدې شه

---

* درویش دُرانے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د خزان د شونډو پړق له — رنګ را اخلي له بهاره
تا چې ځان له منتخب کړۀ — دا اوږده ازغنه لاره
مونږ د امن نغمې اورو — ستا د زړۀ له هر تاره
شاعري دې کړې نه ده — چرې هم له ذهني عېشه

اے زما یاره درویشه
نور مې زړۀ ته رانزدې شه

ستن او تار اخلو ګنډل کړو — دا ګرېوان به راټولېږي
نه د مینې بها غواړي — که د سر په بدل کېږي
دا څرخه به وي روانه — د پښتو مزے پخېږي
زۀ ئې دې لوري نه غږم — ته ئې هغې خوا نه ورېشه

اے زما یاره درویشه
نور مې زړۀ ته رانزدې شه

د انسان د غاړې هار کښې — ژبې ټولې ول په ول دي
د پردو ژبو نه مخکښې — خپله ژبه خپلول دي
د نغمو په خوږو ساندو — دا اوده را ویښول دي
دا یوه خبره اورم — زۀ ټول عمر له اندېښه*

* محترم اندېښ شمس القمر.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



اے زما یاره درویشه
نور مې زړهٔ ته رانږدې شه

محبت به کړل غوارې اوبهٔ خور به کول غوارې
کوم فصلونه چې پاخهٔ دي اشر غوارې غوبل غوارې
د اولس د خولو څاڅکي په پوخ کاڼي تلل غوارې
ځان به وېنې ساتو جانانه مرحله چې ده راپېښه

اے زما یاره درویشه
نور مې زړهٔ ته رانږدې شه

که وجود دې رانچوړ شي د يخنۍ نه پکښې رېږده
د پښتو لیلی په زنه سوے خال د وینو کېږده
لکه څنګ چې دې پرئيښي داسې ګټه تاوان پرېږده
اباسین هم نبغ روان دے بې پروا له کم و بېشه

اے زما یاره درویشه
نور مې زړهٔ ته رانږدې شه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

عقله د عشق نه وېره پکار ده
غر که ډېر لوئے دے په سر ئې لار ده

په اننګو کښې دې ګل توکېږي
دې زرغونې له وينه بسيار ده

ستا په ښکلا دې زما سوګند وي
مزه خو ټوله د انتظار ده

احساس مې خوړ کړه ژوند مې سمسور کړه
څوانې مې واخله که ستا د کار ده

زما په سترګو کښې ځانته ګوره
چې پکښې خيره ستا د رخسار ده

ته ښائسته ئې زه قدردان يم
آخر به ګېر شې په مادې لار ده

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

چي په سپينو اننګو دي خولې راغلې
په زړګي باندې مې برغې ګَلې* راغلې

پسرلي مې د غم لوښے کړو برڅېره
حرارت مې زېږمې وسوې ولې راغلې

چې په غټو غټو ګورې کړم آهونه
تا چې سترګې نرګسي کړې ځلې راغلې

عقله خدائزده چې په کوم فکر کښې پروت وې
لېونتوب چې درنه يوړم هلې راغلې

يوه تپه داباسين له غاړې خېژي
انګازې ئې په نسيم کښې دلې راغلې

***

* رمې، کندکونه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

ورېمه د ګل نه د بلبلو نه مې شور واخستو
هاله شاعر شوم چې د حُسن نه مې پور واخستو

مینه که اور دے حُسن هم ترېنه څۀ کم خو نه دے
زما که اور په برخه راغے تا هم اور واخستو

ستا تصویرونه چې مې وسېزل ایرې مې ښکل کړې
زما چاودلو شونډو نن ایله ټکور واخستو

څوک خو به وي چې کړی* شپه به زما لارې ساري
رقیب زما د کور په خوا کښې ځانله کور واخستو

چرته یو ښکلي مې د مینې خزانه لوټ کړې
ما د هر ښکلې نه تاوان یو په څلور واخستو

✳✳✳

* تول، تمامه.

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

چرته ښاروے په دېوال ښکر تکوي
که بنیادم د توبې ور تکوي

ما چې د کوم انسان خُله هم بوئ کړې
د بنیادمو نه به سر تکوي

د قیمتي خلقو ژوندون عذاب وي
زرګر ته وګوره چې زر تکوي

راته ښکارېږي دا دنیا بغرۍ* ده
اسمان پټیکو ده راله سر تکوي

د ژوندانهٔ اوږدې مزلې وېنې
اباسین کاڼي په هنر تکوي

——✳✳✳——

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

رانه خپل کلے خپل مکان ورک شي
ستا په راتلو زما نه ځان ورک شي

د درد په غېږه کښې به مرګ ته رسي
د کوم اولس نه چې درمان ورک شي

د ژوندانهٔ مزل ته داسې يمه
لکه ځنګل کښې چې انسان ورک شي

خدايه تر هغې زندګي غوارمه
چې د نفرت نام و نښان ورک شي

ورېې کولمې عقيده چرته مني
زل زول چې راشي نو اسمان ورک شي

پښتو په قام پسې کاواکه ګرځي
لکه د کونډې ماشومان ورک شي

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✱✱✱

که ته ګورې او که نه ګورې خو خم نهٔ
چې مئين يم نو په تا پسې به مرم نهٔ؟

دا تهٔ څهٔ په شاړو سر ئې زر پرسته
بې د مينې نه د بل شي زور منم نهٔ

خامخا به د ګلونو طلبګار يم
چې په ژوند کښې چرې هم ازغي کرم نهٔ

ستا په مړو سترګو کښې اوښکې ليدے نه شم
خدائے دې هر څهٔ په نصيب کړه خو يو غم نهٔ

✱✱✱

## جنون

تيارهٔ به ښهٔ وي د سپوږمۍ ضرورت پاتې نهٔ شو
ستا نه بغير د زندګۍ ضرورت پاتې نهٔ شو
زما جنون اوس د تکميل پړاؤ ته ورسېدو
اوس ورته نور د لېونۍ ضرورت پاتې نهٔ شو

✱✱✱

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



# شاعري

که غمونه د دوران راوړل پکار دي
شاعرۍ ته لږ جانان راوړل پکار دي

د بارودو لوګو ببرته کړله شنډه
بیا د حُسن و عشق باران راوړل پکار دي

وینو زوؤ ئې خهره کړله پمنه
لطافت ورته بې شان راوړل پکار دي

زمکه کر د نفرتونو کړې بې درېغه
رودادونه د اسمان راوړل پکار دي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

نه وینمه ځان چې د رنړا نه لرې وځم
تا ته نزدې کېږم خو له ځانه لرې وځم

چرته به سکون په غرو راغو کښې لټوومه
یو ځل به د دې ښکلې دنیا نه لرې وځم

دے، مادخپل رب دخپل جانان نه لرې باسي
بس دے نور د کلي د ملا نه لرې وځم

چغې که وهم د ځناورو د حقونو
یمه که انسان خو له انسانه لرې وځم

زه خو اباسین یمه ښهره مې خېرنېږي
کله چې هم زه د پښتونخوا نه لرې وځم

——***——

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

خورې له اباسينه د سپين غر پورې لمبې دي
د سترګو نه مې واخله د ځيګر پورې لمبې دي

ځوانان په بازارونو کښې تکور سينې له ګورې
د کلي د حجرې نه د ګودر پورې لمبې دي

چې دغه بوږنوونکے، ويروونکے تورتم وينم
د شمعې غوندې بلې مې په سر پورې لمبې دي

دنيا په خُلهٔ د امن، امن وِرد کوي لګيا ده
د امن د کونترې په وزر پورې لمبې دي

ته چرته ئې را ووځه غورځنګنه اباسينه
وطن دې شو لتاړ په سم او غر پورې لمبې دي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

ښکلي څومره زوره ور وي
خو د سر د پاسه سر وي

دمه ځائے ئې خپل هنر وي
فنکاران څۀ بختور وي

د سپوږمۍ په طمع ناست يم
چې خبرېږمه سحر وي

هغه خلق بره تلے شي
چې په زمکه ئې نظر وي

زۀ په ګوټ کښې چرته ژاړم
چې په کلي کښې اختر وي

د ښائست داسې مثال دے
لکه نمر کډه په سر وي

محبت به ئې ملنګ کړي
که هر څومره معتبر وي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې دا مونږه سادګان يو
که دا ښکلي جادوګر وي

د ښائست په ښاريه کښې
نادیده سړے اوتر وي

چې جانان مې وي په څنګ کښې
نو بيا خبر دے که محشر وي

چم ګاونډ راپورې خاندي
دخپل ځان سره مې شر وي

د ګلونو په موسم کښې
يار له ځانه نا خبر وي

اسمانونو کښې الوزم
خپل فکرونه مې وزر وي

که لمبو ته ور ارتاؤ شم
زما ځان باندې باور وي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په هر حال کښې درته خاندم
که مې زړهٔ پرهر پرهر وي

اباسین څهٔ لېونے دے
د خپل ځان نه مرور وي

***

## لوګے

ستا په زلفو او رخسار باندې پوه نهٔ شوم
دا اوربل دے که اور بل دے لوګے خېژي
په هر لور باندې خوره چپه چپیا ده
په دې کلي کښې څهٔ چل دے لوګے خېژي

***

## دربکا

لوټ ئې کړمه نور زما نه څهٔ غواړي
ستا د سترګو تور زما نه څهٔ غواړي
ما پسې هر لور ته سترګې اړوي
ستا زرین انځور زما نه څهٔ غواړي
ژوند راته د زهرو نه تریخ شوے دے
وژنې مې په زور زما نه څهٔ غواړي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

مړ مې کړئ چې ستاسو په طريق نۀ يم
داسې هم اولسه بل فريق نۀ يم

دا خو په وجدان کښې څۀ راورسي
زۀ له خپله ځانه د تخليق نۀ يم

دواړه لکه نوک او وری تړلي دي
درد او محبت کښې د تفريق نۀ يم

ما په محبت ايمان راوړے دے
خلقه منافق نه يم زنديق نۀ يم

زۀ د ښکلاګانو لېونے يمه
زۀ د بدرنګۍ هډو رفيق نۀ يم

زۀ بې له جانانه بل څۀ نۀ وينم
چاوې اباسينه چې غريق نۀ يم

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

څومره وار خطا ګودر ته لاړمه
راغلمه خو بيا په بيرته لاړمه

ستا فکر د کور په لاره تېر ايستم
نبغ د کلي هاغه سر ته لاړمه

حُسن په خپل ځان ورپسې کړے يم
چرته کښېي روان ووم چرته لاړمه

ستا تصوير مې کوت زړهٔ مې راډک شولو
غلے د کور خوا کښېي غر ته لاړمه

نن د مېخانې ور ته اتاله شوم
پوهه په ځان نهٔ شوم ورته لاړمه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## نفس

په زور دې د جنت نه رابهر کړم زما نفسه
په ډېره معمولي ببعه دې ور کړم زما نفسه

څۀ داسې لېوني لېوني سپي دې راپسې کړۀ
د روح په مملکت کښې دې اوتر کړم زما نفسه

د زمکې د خدايانو بندګۍ ته دې محتاج کړم
د خپلې پلېتۍ نه دې خبر کړم زما نفسه

بې شانه خود غرضۍ دې راته کېښوه په سينه کښې
اشرف ووم په مخلوق کښې تا ډنګر کړم زما نفسه

***

## ازغکي

کله مې کم کله پوره کله مې زيات ښنبلي دي
ما د ښائست دهر موسم آبِ حيات ښنبلي دي
زما په وينه کښې ګډون اخر له کومه راشي
ما ازغکي دملاکنډ دديراو سوات ښنبلي دي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

لکه مېچن مې د وجود په اندامونو تېر شو
زما د ژوند د حادثو نه پسته عقل ډېر شو

څۀ د نغمې، څۀ د وږمې، څۀ د رڼا غوندې ؤ
څۀ ښکلے نوم ئې ؤ افسوس دے چې زما نه هېر شو

زۀ محبت په خپله غېږه کښې راونغاړلم
لکه د وینې مې وجود ته راغے چار چاپېر شو

ستا د ښائست که چم په چم باندې خبرې کېږي
ستا لېونے هم د وختونو په سرو کښې شمېر شو

لکه غرڅۀ چې به په غرونو په ټوپونو تللو
د اباسین غېږې ته پرېوتو په ول کښې ګېر شو

———✳✳✳———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## دربكا

خدايه چې نفرت به ځايوم اخر په څۀ كښې
حُسن مې په سترګو كښې دے مينه مې په زړۀ كښې

نن سبا وړوكې خوشحالي هم غنيمت دے
دا لكه ګلاب راوتوكيږئ په شپالۀ كښې

اوس د چا ډيوې ته بۀ زۀ ولې خفه كيږم
خپله مې له خيره رڼائي ده په كاله كښې

***

## دربكا

ړده راته په لارو كښې ازغي زۀ به درځم
زۀ په زمكه نه ړدمه تلي زۀ به درځم

ضد درسره نه كووم حسينې دومره ډير
زړۀ به مې يو ځل مجبور وي زۀ به درځم

ژوند كه وفا وكړله يو ځل به خامخا
ساه چې مې په سترګو كښې هم وي زۀ به درځم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

وخت مې د ګلونو مئينتوب ته نۀ پرېږدي
ما ستا خوبولې سترګې خوب ته نۀ پرېږدي

داسې ازارې سيلۍ را الوزي چاپېر
سرۀ خُله غوټۍ چرې مسکيتوب ته نۀ پرېږدي

سترګې د **حالاتو** غرغندې راوروي
وخت مې ارزوګانې پېغلتوب ته نۀ پرېږدي

داسې د غربت د ژرندې پل پرې خي راځي
ژوند زما بچي اوس ځلميتوب ته نۀ پرېږدي

ستا د اننګو غوټۍ به وي ترو تازه
دا به اباسين چرې وچوب ته نۀ پرېږدي

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



***

د سپوږمۍ په کتوري کښې تول شپه خورم
د دروغو قسمونه درته نهٔ خورم

د احساس د نزاکت مې داسې حال دے
په وړه وړه خبره باندې زړهٔ خورم

ما د صبر شړې لنګ کړه ذوالجلاله
زهٔ مړوه دارمانونو په واړهٔ خورم

جهنم د خپل احساس راته معلوم دے
په توده کښې هم زهٔ عمر له ساړهٔ خورم

ستا انسان یمه او ستا نه به ئې غواړم
زهٔ ښاروے نه یم چې وټ کښې به واښهٔ خورم

د بل چا د محتاجۍ نه په امان یم
شکر دا دے چې خپل رزق په کالهٔ خورم

څوک دې ما ته د ناکام خبرې نه کړي
اباسین یمه زهٔ کاڼي د شین غرهٔ خورم

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



٭٭٭

تا ته اسان ښکاري خو چرې نۀ دي
مینه کول د خلې خبرې نۀ دي

دا ده! سپوږمۍ په څو قدمه کښې ده
ستوري که لرې ښکاري لرې نۀ دي

ګوره د درد څرېکې ځلېږي پکښې
زما کلام تشې سندرې نۀ دي

زۀ د خپل خیال په پرو الوزمه
څو کۀ راکړې دي وزرې نۀ دي

زۀ اباسین د مینې وږے یمه
زما په خیال کښې ملغلرې نۀ دي

٭٭٭

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

دا خزان به مې ځيګر کړي پاڼې پاڼې
راشي ګل راته په ور کړي پاڼې پاڼې

اخر دې ته به مونږ شنګه مينه وايو
چې ګلاب درله شوک درکړي پاڼې پاڼې

زۀ روژې ته جل وهلے ځيګر ناست يم
تا لۀ سرې شونډې اختر کړي پاڼې پاڼې

خاورې ژوند په لپو لپو بادوومه
بې وسي به مې ډېر زر کړي پاڼې پاڼې

ربه خپله خو ټول عمر په يو حال ئې
دا خزان ولې شجر کړي پاڼې پاڼې

اباسينه هر تهمت د خلقو واخله
دريابونه تل په سر کړي پاڼې پاڼې

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK





COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ترانه

زر به په دې سیمه د سپرلو سندرې واورې
اے د وطن خاورې ــــ اے د وطن خاورې
ستا د عظمتونو ترانې په لړا و بر کښې دي
نخښې په خیبر کښې دي
ستا په اننګو کښې د سپرلي رنګونه تېل کوي
حسن پکښې سېل کوي
څکه مې بې تا نه په بل چا زړهٔ راتولیږي نه
سترګې مې مړیږي نه
ستا هره ذره مې په سینه پورې نیولې ده
غېږه مې پرې ښکلې ده
ستا په تورو تورو غرونو سپینې سپینې واورې
اے د وطن د خاورې ــــ اے د وطن خاورې
اوس مې په ماڼغو کښې د شعور رڼا راغلې ده
لاره مې تا کلې ده
ستا کوڅې به تولې په ښو باندې جارو کړمه
ګرد به دې دارو کړمه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ستا په ننګ ناموس باندې به خپلې وينې توئے کړمه
غېږې دې را لوئے کړمه
زۀ به هر غاصب له د سينې بندونه پرېکړمه
شونډې به دې سرې کړمه

چرې هم زما د بې ننګئ خبره مۀ اورې
اے د وطن خاورې ـــــ اے د وطن خاورې
ستا دا شاړې دشتې به په خپلو وينو ګل کړمه
کاڼې به دې ښکل کړمه
ځان به ستا د حُسن د نازونو ثناء خوان کړمه
نوم به دې روښان کړمه
خبر دے که په ځان باندې راجوړ د خاورو ځلے کړم
ملک خو به ښاغلے کړم
ستا خړه څېره به په رنګونو مرغزار کړمه
ټول به دې ګلزار کړمه

تۀ د اباسين د ترنم سندرې نۀ اورې؟
اے د وطن خاورې ـــــ اے د وطن خاورې

ـــــ***ـــــ

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سندره (اتڼ)

په سپينو سپينو لېچو شنهٔ بنګړي سرهٔ دي لاسونه
په واورو کښې ګلونه
سرې شونډې دې خلېږي په سپين مخ لکه لعلونه
په واورو کښې ګلونه

ښائست دې کال و سر زما د زړهٔ په کور کښې خاندي
رڼا رڼا دلبرې
تيارهٔ تيارهٔ وختونه د سپوږمۍ غوندې روښان دي
رڼا رڼا دلبرې

په زلفو کښې دې پټ پټونے کاندي رخسارونه
په واور کښې ګلونه

تندے دې د شيشې په شانې پاک صفا دے
برېښنا ئې معلومېږي
ښائست دې د وطن د هريو ښکلي نه سېوا دے
برېښنا ئې معلومېږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په تکه سپینه زنه دې وهلي شنهٔ خالونه
په واورو کښې ګلونه

په تورو غټو سترګو کښې دې اور د ځوانۍ بل دے
بخرې تربنه دانګې
په سپینه دنګه پوزه دې د سور مېښکي ځل دے
بخرې تربنه دانګې

اوربدې اوربدې دې ګوتې پرې د پاسه سرهٔ نوکونه
په واورو کښې ګلونه

دَ واره پېښور جونه دې سبل له راچلېږي
سپوږمۍ د ښوارلسمې
مئين دې د ښائست په اباسين باندې ډوبيږي
سپوږمۍ د ښوارلسمې

ټيکه دې په جبين باندې هر خوا وهي تالونه
په واورو کښې ګلونه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## د سوکړې سندره

چینې وچیږي تندې وسوه غاړې غرونه
خدایه! خدایه د خبر باران رابنکې کړې

مارغان په چغو چغو ژاړي —— اور راوریږي
ځاروي اسمان ته ګوري ناړي —— اور راوریږي
فصلونو هم په سجدو ایښي دي سرونه

بنیادمان ټول په زارۍ دي —— زاري قبول کړه
راخورې شوې وچکالۍ دي —— زاري قبول کړه
په سرو مېرو کښې را زرغون کړه سره ګلونه

د کائنات پروردګاره —— ژوندون اسان کړه
دخپل نیازبین مخلوق دپاره —— ژوندون اسان کړه
بغیر له تا نه چاته وکړو فریادونه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



چې څانګې ډکې له مېوو شي ــ باران زرغون کړه
ډنډونه ټول ډک له اوبو شي ــ باران زرغون کړه
چې یو ځل بیا سندرې ووائي خوړونه

د خپل کرم دروازې واکړه ــ دنیا خړوب کړه
باري ورېځې راپېدا کړه ــ دنیا خړوب کړه
چې اباسین کښې راپېدا شي غورځنګونه

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سندره

زۀ چې یوازې یم یوازې نۀ یم
ستا تصویرونه ګورم خپل پرهرونه ګورم
خلق لالونو پسې ګرځي زۀ خالونه ګورم
زۀ چې یوازې یم یوازې نۀ یم

زۀ تنهائي خپله ملګرې ګڼم
زۀ خپلې ساندې هم سندرې ګڼم
زۀ په تیارۀ کور کښې رڼا رڼا خوبونه ګورم

د خپل ارمان سره خبرې کووم
ناست یم د ځان سره خبرې کووم
په تصور کښې ډېرې زمکې اسمانونه ګورم

په خپل سوچه زړګي کښې غلا نۀ لرم
زۀ د بل چا څکه پروا نۀ لرم
نۀ د تندې کربښې شمارمه نۀ لاسونه ګورم

ډېر عالمونه خې راځي تېرېږي
که موسمونه خې راځي تېرېږي
داباسین په غاړه ناست یمه موجونه ګورم

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## برغیزه

چې په ژوندون باندې دې بل نه کړې اوروونه
مینه، مینه کول اسانه نۀ ده
چې په لمبو کښې ځانله جوړ نۀ کړې تالونه
مینه، مینه کول اسانه نۀ ده

که د الفت خوندونه ګورې ـــ غم لټوه
وطن د زړۀ پورې راپورې سم لټوه
ورشه په غاړه کړه د اوښکو امیلونه

ځان به د خلقو د خندا کړې ـــ کښېښنه قلار
ځان به باغي له دې دنیا کړې ـــ ونیسه لار
دلته څوک نۀ مني د مینې عظمتونه

مینه د زړۀ وینې خوراک دي ـــ وار وکړه لږ
دغه دردونه ډېر متهاک دي ـــ خار وکړه لږ
دلته د سر په بیعه کیږي ښائستونه

ګران ګل بدن خپلول ګران دي ـــ مۀ تېر وځه
په دوئ پسې الوتل ګران دي ـــ مه الوزه
دا به دې وتوکوي سترګو کښې ګلونه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## لښتنځرو

د زړۀ په دښته مې باران شېبې شېبې خو به وي
داسې قيصې خو به وي ـــ په محبت کښې
لکه تصوير غوندې ټول عمر شوګيرې خو به وي
داسې قيصې خو به وي ـــ په محبت کښې

اے د ګل بڼ بناپېرۍ د بنائستونو رانۍ
د پسرلو ملوکې زړګے مې نوکې شوکې

په تاپسې به مې د زړۀ ستنې کږې خو به وي

زلفې دې پاس په جبين کله ورېځ کله شين
سترګې دې داسې سرې دي لکه جوړه لمبې دي

د مئينانو دې ګرېوان رېښې رېښې خو به وي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ستا د پائيلو شنها ستا د ځنګلو برېښنا
ستا د لبانو سرخي چې ما له ځانه هم وړي

که دغه حال وي نو زما قضا نزدې خو به وي

دا چې په تا نازېږم نو په رښتیا نازېږم
داسې جانان به نهٔ وي بل ستا په شان به نهٔ وي

په تا مئین یمه نو سترګې مې لمدې خو به وي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سمندره

دسپوږمۍ شپې دي ما د زلفو په زندو وتره ــ لیونے کېږم
سره لوپټه دې راله کلکه په لېمو وتړه ــ لیونے کېږم

زاړهٔ یادونه تازه کیږي داسې موسم دے
د زړهٔ زخمونه اوېره کیږي ما سره غم دے
پرهر پرهر راله د حسن په لمبو وتړه ــ لیونے کېږم

غونے په ما لشې لشې دے زړهٔ مې ډوبیږي
تول چاپېر چل نشې نشې دے دا به څهٔ کیږي
پاره کړېوان کښې مې غنچه د کشمالو وتړه ــ لیونے کېږم

سېتار منګے چرته غږیږي نغمې ئې شورې
اور اورکې رانه تاویږي لکه چې ستورې
بېتاب نظر مې د سپوږمۍ په پلو شو وتړه ــ لیونے کېږم

د بنګړو شرنګ دې لږ په ساه کړه چې ساه خو واخلم
د مېښکې دې هم بربېښنا کړه رڼا خو واخلم
بیا راله سم دواړه لاسونه په کمڅو وتړه ــ لیونے کیږم

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سنندره

رنګ راوړه د تورو سترګو جنګ راوړه
سر دې په تلي لکه پتنګ راوړه

راشه محبت د ګتې کور نه دے
راشه دالفت کلے په زور نه دے
دلته چې راځې خوئ د ملنګ راوړه

دلته د اظهار ژبه نغمه نغمه
دلته کښې وي هره ساه وږمه وږمه
ځان سره راوړه رباب او چنګ راوړه

زۀ درنه د سرو کتوري نۀ غواړم
زۀ درنه سپوږمۍ او ستوري نۀ غواړم
ما له کشمالي راوړه لونګ راوړه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



راشه سندريزې ورشوګانې کړه
بيا د خلقو سترګې قاتلانې کړه
ځان له که راوړې يو موټے بنګ راوړه

دلته خزانې تولې برخېرې دي
دلته بنګلاګانې نورې ډېرې دي
بس د اباسين نه يو غورځنګ راوړه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ټوپه

رنګ د ګلاب به څۀ وي؟
خوند د شراب به څۀ وي؟
ستا د سرو شونډو مخکښې تک سور انقلاب به څۀ وي؟

ستا د مخ تورې لولم
سم لکه ستورې لولم
ستا د رخسار په وړاندې تورې د کتاب به څۀ وي؟

چې دې ځوانۍ ته ګورم
لکه سپوږمۍ ته ګورم
ستا د جوبن مخې ته ګل خانه خراب به څۀ وي؟

چې ستا خبرې اورم
لکه سندرې اورم
ستا د اواز د مخې تنګ تنګ د رباب به څۀ وي؟

غم د روزګار چرته دے
بې مينې کار چرته دے
د اباسين په مخکښې زور د بل درياب به څۀ وي؟

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ټوبه

د ونو سیورې را اوړدېږي — مابنام شو
بیا مې زړه ډوبیږي — مابنام شو

تولې همزولې رانه لاړې
دزړه خانې مې شوې ویجاړې
ما به دپاک الله نه غواړې

ما ته دې سترګې رایادیږي — مابنام شو

ستا د کوځې په خوا چې راشم
د خپله خانه په هوا شم
زړه مې را ډک شي په ژړا شم

ژوند مې یوازې نه تېرېږي — مابنام شو

ته مې د هر زخم ټکور ئې
زما په ژوند باندې راخور ئې
زما د دواړو سترګو تور ئې

په چا مې زړه نه راتولیږي — مابنام شو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د ملاکنډ په لاره راشه
د زړۀ په چم کښې مې رڼا شه
د هر يو درد مې مسيحا شه

مزې د ژوند مې رالنډېږي — ماښام شو

تيارۀ په کلي راخورېږي
په اباسين مې زړۀ ډوبېږي
همزولو دا به څۀ چل کېږي

شفق په سرو سترګو ژړېږي — ماښام شو

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## د ملاکنډ سندره

زړۀ به دې مور شي په ګلونو ــــ راواوړه
د ملاکنډ په دنګو غرونو ــــ راواوړه

که په نظر کښې غمې پلورې
سپينې څهرې زلفې سمسورې
د دير او سوات ښکلې که ګورې

چرته اختر کښې په ښونو ــــ راواوړه

په ګټ ولاړ يم ستورې شمارم
په کنډوونو سپوږمۍ ځارم
بې ستا نه ډېر نيمګړے ښکارم

د رقيبانو په سرونو ــــ راواوړه

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د ننبسترونو په شغار کښې
د ابشارونو په شړار کښې
د بلبلانو په چغار کښې

تاله به وخورې په موجونو راواوړه

اوتر اوتر به لېونے شې
لالیه زر به لېونے شې
په ماځیګر به لېونے شې

د اباسین په ګودرونو راواوړه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ټوبه (کورس)

شړشمو نوستي دي په غرونو کښې رنګونه ــ راځه چې لاړ شو
غانټولو هم ځان له شلولي ګرېوانونه ــ راځه چې لاړ شو

ستا د یادونو واورې اورې
زما د زړهٔ زخمونه زورې
چرته راپېښ شه په دې لورې

شونډې مې هر وختې نيولي وې پاڼونه ــ راځه چې لاړ شو

دسرو ازغو په مینځ کښې لوئے شوم
لکه د ګل درپسې توئے شوم
کله په مینه باندې پوئے شوم

په غرېدلو سترګو خورمه تیندکونه ــ راځه چې لاړ شو

زما د زړهٔ اسمان پرقیږي
نرے نرے باران وریږي
نور پرهرونه راټوکیږي

چې رایادیږي ستا د زنې شنهٔ خالونه ــ راځه چې لاړ شو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا په رنګينو لوپټو کښې
جينکۍ ګرځي په ورشو کښې
د پسرلي ډوبو نشو کښې

مونږه به هم د اباسين غاړې له ځو نه ـــ راځه چې لاړ شو

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ترانه

پېښور — پېښور
ښکلے ښکلے — پېښور
زما ښکلے — پېښور

د رحمان بابا مسکن د خوشحال د زړګي ستن
د حمزه د سترګو تور دغني د زړهٔ تکور

زما زړهٔ زما خيګر — پېښور پېښور

ستا خوږې خوږې نامې د صديانو هنګامې
د ګندهارا سر مقام پر شاپور کله باګرام

د تاريخ د تندي نمر — پېښور پېښور

کهٔ ياديږې چين ما چين د مغرب ښهٔ مه جبين
د نړۍ په بل وطن نشته داسې ګل بدن

يو له بله زورور — پېښور پېښور

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



يو بناغلے رنجيت سنګهـ نه شو ستا بچو ته تېنګ
کله ژاړي مغلګے کله تښتي فيرنګے

کله زغلي سکندر ـــ پښور پښور

د کابل د باغ انار سرې منې د قندهار
انګورونه انګبين شنې اوبهٔ د اباسين

سپينې واورې د سپين غر ـــ پښور پښور

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ټوپه

د ګړېوانه ريښې مې ترمې ترمې ځينه
بغېر لتا نه ژوند عذاب دے

د بېلتانهٔ سيلۍ مې غوښې تښتوينه
بغېر لتا نه ژوند عذاب دے

ماښام د کلي په شهتوت کښې چنچڼي شور کړي
روح مې دننه په کالبوت کښې بهر ته زور کړي

ستا تصور راباندې غونډے ودروينه
بغېر لتا نه ژوند عذاب دے

چرته چاپېره په محلت کښې مېچن غړېږي
زما په زړهٔ ستا په الفت کښې متر دلېږي

ساه مې ګوګل سم په لړونو غوڅوينه
بغېر لتا نه ژوند عذاب دے

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د شپې چې پروت یم په دالان کښې ستورو ته ګورم
ټوله شپه سوزم په ارمان کښې سبورو ته ګورم

سپینه سپوږمۍ رانه خوبونه تښتوینه
بغیر لتا نه ژوند عذاب دے

د پسرلي موسم چې راشي ګلان غوړیږي
چې اباسین سر په ګډا شي وطن شوریږي

ستا لیونے ئې خوا ته شګې بادوینه
بغیر لتا نه ژوند عذاب دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## برغيزه

**جينۍ**

يخه سيلۍ ده پـــانړې الوزي چاپېره
مـا نـــه کړې هــــېره، ما نه کړې هـېره

**هلک**

راته يادېـــږي همېشه له خـــانه ډېـــره
ښنګ به شي هېره، ښنګ به شي هېره

**جينۍ**

وختونه ګـران شو په ما ګرانه ستړګې مې سرې دي

**هلک**

ما لـــرې مـــه ګڼــــه د ځانه کــه فاصــلې دي

**جينۍ**

د زړه دنيا مې به طوفان کښې ده راګېره
مــا نه کړې هـــېره. ما نه کـــړې هـــېره

**هلک**

راته يادېږي شپه او ورځ د خانه ډېره
ښنګ به شي هېره، ښنګ به شي هـــېره

**جينۍ**

په ښته کاله کښې شوم بې کوره سر مې سر تور شو

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



**هلك:**

زمـــا دې دوه سترګـو ته ګوره هم دا دې کور شو

**جينۍ:**

وطن مې اوسو په خيبر شومه راتېره
مـــا نه کړې هېـــره، ما نه کړې هېـــره

**هلك:**

د خدائے په دې کښې هم څۀ راز دے مۀ خفه کېږه

**جينۍ:**

دا لا د مـــينې کــوم انداز دے لږ وويرېږه

**هلك:**

سړے خبر نه وي بېخي له خپله خبره
ښکلے به شې هېره، ښکلے به شې هېره
د زړۀ په کور کښې مې وسېږه دا دې وطن دے

**جينۍ:**

په خپل زړګي دې مۀ نازېږه خوږلن خوږلن دے

**هلك:**

ما درته هم که دا سينه کړه رابرڅېره

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## د مزدور سندره

د وطن د سترګو نوره
اے زما یاره مزدوره
اے زما یاره مزدوره

دا سمسور سمسور فصلونه دغه رنګ په رنګ ګلونه
د مېوو نه ډک باغونه عالي شانه محلونه

ستا مړانه ده ستا توره
اے زما یاره مزدوره
اے زما یاره مزدوره

ژوندون کار دے همه کار دے په ناراستوژوندون بار دے
محنتي سړے هوښيار دے هرانسان یومزدورکار دے

د دي خپتي له تنوره
اے زما یاره مزدوره
اے زما یاره مزدوره

د دوران وجود کښي ساه ئي د وختونو رهنما ئي
ته د هر وطن ښکلا ئي ته روښانه سپين سبا ئي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



که وربځ شي ډېره ګوره
اے زما یاره مزدوره
اے زما یاره مزدوره

د غم پلک را اویزان دے خوستاذات ورته سندان دے
ژوندکه هرڅومره هم ګران دے دمحنت په زور روان دے

د خپل ځان په وینو سوره
اے زما یاره مزدوره
اے زما یاره مزدوره

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## قامي سندره

هر لوري ته ښکلے نو بهار کړې
خدايه دا وطن ګل و ګلزار کړې

دې وطن کښې خدايه دے د څۀ کمے
هر کاڼے ئې لعل هره ګيټۍ غمے
بس دا اوده بخت مو رابېدار کړې

ربه انقلاب د مينې راوله
زړونو کښې سېلاب د مينې راوله
مونږه واړه يو تر بله زار کړې

زړونو نه راټولې واړه کرکې کړې
بُغض او کينې له مينځه ورکې کړې
ته زمونږ بچے بچے هوښيار کړې

داسې يو بارداره سپرلے راولې
ټول عمر دپاره سپرلے راولې
شنډې ونې بوټې مېوه دار کړې
خدايه دا وطن ګل و ګلزار کړې

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## ماتمي سندره (سانده)

په باغ بلې لمبې دي د سپرغو ږلۍ وريږي
ګلونه تالاکيږي

غوټۍ ايرې ايرې شوې چمنونه تالاکيږي
ګلونه تالاکيږي

ماليار ه چرته لاړې؟
ماليار ه چرته لاړې؟
ماليار ه چرته لاړې؟

ګلشن قلم قلم شو　　　هر لوري ته ماتم شو

لوګي د ګل د پاڼو د نړۍ نه چاپېريږي
ګلونه تالاکيږي

د دې خاورې بچي وو　　　ګلرنګه شاه زلمي وو.

وريځ کښې د لوګو لکه د نمر هسې ډوبيږي
ګلونه تالاکيږي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



په شته کور کښې بې کوره نهر ګرځي، سرتوره

اوده په بېديا ګانو وي په خاورو کښې لوغړېږي
ګلونه تالا کېږي

بې ژونده بې درمانه بې ياره بې جانانه

نفرت خوئې علاج نۀ دے په څۀ به دا رغيږي
ګلونه تالا کېږي

ماليار چرته لاړې؟

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## د سپرلي منظره

ښکلا ستوماني وويسته د زمکې شونډه شنه شوه
فضا وږمه وږمه شوه
سوره په هر يو تار د ژوند د حُسن ترانه شوه
فضا وږمه وږمه شوه

تصوير د کائنات په چپه خله راته مسکے دے
راغلے پسرلے دے
هر خوا ته غوړېدلے د شينکي ښکلے پوزے دے
راغلے پسرلے دے

ځواني په هر يو زړه ګښې په غورځنګ چپه چپه شوه
فضا وږمه وږمه شوه

په وخت د پېغلتوب کښې دي چاپېره ورشوګانې
د حُسن ترجمانې
خزان زېلې وني يو ځل بيا شولې راځوانې
د حُسن ترجمانې

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



د ګل خبره لاړه په وطن کښې ډنډوره شوه
فضا ورمه ورمه شوه

مرغۍ په هره څانګه ترانې وائې چغیږي
چورلک وهي ګډیږي
لولکه او بورا په ښائستونو نۀ مړیږي
چورلک وهي ګډیږي

د حُسن او دمینې په هر لورې ننداره شوه
فضا ورمه ورمه شوه

د زمکې چې هر څۀ وو په سینه کښې رابرڅېر شُو
د کلې نه چاپېر شُو
بلها سخاوتونه د اسمان پکښې راډېر شُو
د کلې نه چاپېر شُو

د رنګ سېلاب پرې راغے د خزان خونه تاله شوه
فضا ورمه ورمه شوه

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سپېڅلې سندره

روح مې په ګډا دے زړۀ زما نه بې اختیاره دے
ژوند د محبت او محبت د ژوند دپاره دے

ګام په ګام ګلونه دي وړمې ئې په هر لوري دي
هر خواته چې ځمه راته لارې ستورې دي
نۀ پوهېږم دا زما سفر په کومه لاره دے

ژوند که حرارت لري نو دا د محبت په زور
درد که څۀ لذت لري نو دا د محبت په زور
بې له محبته بنیادم له ژوند وېزاره دے

ژوند د بل په نوم کړه چې د خان په معنه پوهه شې
بیا به د دې زمکې او اسمان په معنه پوهه شې
حُسن د ژوندون خو د الفت له مرغزاره دے

هر څۀ چې دنیا کښې دي له مینې پېدا شوي دي
واړه تورتمونه په یو حُسن رڼا شوي دي
دا د ګلو تخم راوتلے له انګاره دے

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## پسرلی

چې رنګ په رنګ ځلیږي سرۀ ګلونه په پټو کښې
دا څوک دے چې لعلونه ئې شیندلي په ورشو کښې

شړشم د ښکلاګانو د رنګونو جادوګر دے
غانټول هم په دامانه کښې چتې په ګډا سر دے
ربدے هم سوزېدلے د خپل حُسن په لمبو کښې

ګلاب چې په چمن کښې د بلبل سره خندیږي
رامبېل په سپینو سپینو رخسارونو کښې مُسیږي
ورخاړي هم خندا ایساره کړے په وَخکو کښې

ښائست راورېدلے دے ښکاریږي له اسمانه
ګلشن راته جوړ شوے دے د غرۀ نه د ببدیا نه
مستي چې موج وهلے د بورا په اننګو کښې

کاروان د خوشبویانو ځي راځي هرې کوڅې ته
په موج کښې دۀ روانه راشه ګوره زمانې ته
چې زړۀ نه لري شمار دي هغه تول په لېونو کښې

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## لمنځوره

زړګے مې لُوټې لُوټې هډو نه لري دېوال
دا ستا د زنې خال
ثاني دې په وطن کښې ګوره نشته د جمال
دا ستا د زنې خال

ستا غټې غټې سترګې مې په زړۀ وهي چکونه
تروړي رانه خوبونه
کمڅۍ دې په نرو نرو اوږو وهي تالونه
تروړي رانه خوبونه
غمے د زمرد چې په بکره کښې وي نال
دا ستا د زنې خال

پتنګ او د بلبل او د بورا غوندې ويرژن يم
په تا باندې مئين يم
دا ځکه زۀ اوتر يمه. کاواک يم سرسيئن يم
په تا باندې مئين يم
تپوس د چا په خُله باندې کوه زما د حال
دا ستا د زنې خال

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



ښائست دې ورځ په ورځ باندې نور نور راتازه کيږي
ځواني چې دې تېرېږي
زما د مينې زور هم وخت په وخت را سېوا کيږي
ځواني چې دې تېرېږي
د مينې او د حُسن غلبه ده کال په کال
دا ستا د زنې خال

سپين مخ دې په محلت کښې د سپوږمۍ غوندې ځليږي
ګلونه راوريږي
د زلفو خوشبويانې دې په کلي کښې خوريږي
ګلونه راوريږي
د زړۀ مې ستا د حُسن مخکښې نشته نور مجال
دا ستا د زنې خال

———***———

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سمندره

ښائست چې کډه وکړه نو بوستان ورسره لاړ
سپرلے چې تلو د ګل غوندې جانان ورسره لاړ

جرګې مې ورله راوستلې اوښکې تېل ما تېل
بلها مې ورته وکړو د ماشوم په شانې ځېل
د زړۀ په بدرګه کښې مې ګرېوان ورسره لاړ

رنګونه لاړه والواتۀ پیکه شو چاپېرچل
د ژوند ناوې راوتې بهر ناسته په درشل
سپوږمۍ چې مخ پناه کړو ټول جهان ورسره لاړ

ساه ګانو ته مې چا داسې نیوه لاره ګودر
دا پیټے مې چا ایښے ؤ د پاسه په ټټر
دا ساه وه که سلګۍ وه هر ارمان ورسره لاړ

دا څنګه محبت ؤ چې مې ځائے شو تاترین
زما ټوله دنیا ئې کړه لاهو په اباسین
زۀ پاتې شوم یوازې، زما ځان ورسره لاړ

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سندره

خلق چرته نشته يو دنيا کښې زۀ او تۀ
خوب وېنم چې ګرځو په هوا کښې زۀ او تۀ

کله په سيندونو ابشارونو باندې ګرځو
کله په بنېرازه لوړو غرونو باندې ګرځو
کله د سپوږمۍ ستورو په خوا کښې زۀ او تۀ

ګورو چې الوت کوو په ښکلو ورشوګانو
خاندو ترانې وايو په سر د چينارانو
ډوب يو د يو بل په مشغولا کښې زۀ او تۀ

داسې يو جادو وکړو چې وخت راته اتال شي
دومره بره لاړ شو چې دنيا راته يو خال شي
ورک چې شو د نمر سپينه رڼا کښې زۀ او تۀ

ګل په شلو ژبه ترانې زمونږه وائي
واړه منظرونه محبت زمونږه ستائي
ورد يو دمارغانو په نوا کښې زۀ او تۀ

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



## سمنځره

دغه جذبه مې اسماني خوښه ده
زما د زړونو سلطاني خوښه ده

په محبت کښې په سر کار نه لرم
بې د الفت نه بله لار نه لرم
د زړۀ سودا مې تاواني خوښه ده

زۀ خپل ژوندون لمبه لمبه غواړمه
زۀ د پتنګ غوندې جذبه غواړمه
یو مې ښکلا بل مې ځواني خوښه ده

زۀ همېشه کرکې نه کرکه کووم
زۀ محبت کووم بې شکه کووم
دغه حجره کښې مې خاني خوښه ده

یو د جانان مړاوو کتو وړے یم
بل ئې تاوژنو اننګو وړے یم
بل مې د زلفو پرېشاني خوښه ده

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✹✹✹

نن راباندې بوئي د پسرلي راځي
څوک دے چې خيالونو ته مې خې راځي

کله چې د ګلو مېنځ کښې ګرځمه
خيال ته مې ستا شونډې اننګي راځي

روح مې د زړګي تارونه وچېړل
وينه کښې مې جوش راځي مستي راځي

زۀ د تغير نه ډک مزاج لرم
ما له په هر حال کښې زندګي راځي

بيا دې جوړې زلفې راسپړدلې دي
څکه دا بې واره اسوېلي راځي

زۀ چې د فطرت نه بنيادم يمه
ما له چل د مينې ازلي راځي

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



دا چې په وېښتو کښې زما سپین لګي
دا مې په پښتو باندې ځواني راځي

څو چې یو وجود نه شو یو روح نه شو
کله په ژوندون کښې خوشحالي راځي

زهٔ په شاعرۍ کله پوهېږمه
چرته د یو لوري نه راځي راځي

بیا په پښتونخوا پسرلي وَل شولو
بیا د اباسین ماځیګري راځي

***

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✸✸✸

زۀ که نۀ هم یم نو کلام به مې خبرې کوي
هر يو وګړے د خپل قام به مې خبرې کوي

ما چې د کوم اولس دپاره شوګيرې کړې دي
په ما مئين دي خاص و عام به مې خبرې کوي

دا کوم خيالونه چې زما دشاعرۍ ښکلا ده
دا خو زۀ نۀ وايم الهام به مې خبرې کوي

د ښکلا وټ* کښې مې دمينې بوزغلې کړې دي
واړه پې مخې ګل اندام به مې خبرې کوي

ما د دې خاورې کاڼو بوټو سره پت پاللے
دا کاڼي بوټي در او بام به مې خبرې کوي

***

---

* پټے، اډې۔

COURTESY WWW.PDFBOOKSFREE.PK



✺ ✺ ✺

د ښکلاګانو مې سلطان ساته
په محبت زما ایمان ساته

لکه د برکي* د یو بر نه کیږي
د اسویلو نه مې انسان ساته

ربه په ځان باندې اختیار نه لرم
خو د ښبرونه مې جانان ساته

چې د اسمان نه ورویږي اوروونه
بیا مې د کریکو نه اسمان ساته

د محبت ترږي پرې تول مارۀ کړه
خپل اباسین داسې روان ساته

***

* برکے د غوږ اسکي هغه ځانګې ته وائي چې وریوزې لرګے نه وي او تشې پانې وي او په یو بر سوزي



تاوي کتــاب ګوره نو زهٔ به درتـه نهٔ یاد پړېږم
تهٔ مې هېر نهٔ شوې کتابونه راته ډېر یاد شُو